# په ناورین پسې ناورین



Ketabton.com

درویش دُرانی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ناورین پسې ناورین

درویش دُرانی

Published by
Sahaf Book Publishing Institution
Quetta
2005

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق ئې د مصنف دي


| | | |
|---|---|---|
| کتاب | :: | په ناورین پسې ناورین |
| شاعِر | :: | درویش دُرانے |
| د چاپ کال | :: | ۲۰۰۵ء لومړے چاپ |
| د چاپ شمېر | :: | (۱۱۰۰) ټوکه |
| کمپوز/ ډيزاين | :: | صحاف کمپیوټر کوټه |
| کمپوزر | :: | لطف الله "صحاف" |
| د پښتي انځور | :: | نصرت "منګي" |
| د چاپ ځاى | :: | الحق پريس لاهور |
| بيه | :: | (۱۵۰) روپۍ |

چاپوونکے او خپروونکے صحاف نشراتي مؤسسه کوټه

کاسي روډ نور مسجد ته مخامخ

فون ـ ٦٦٤٢٣٦ ـ ۰۸۱


کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ

نو بيان كړه ( دوى ته ) دغه قصې. ښايي چي دوى فكر وكړي.

القرآن (٧-١٧٦)

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلق واړه د اندوه په درياب ډوب دي

کله کله له دريابه سر بلند کا

(خوشحال خټک)

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمیره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ویر لړلې داستان | ۹ |
| ۲. | حوالې | ۳۱ |
| ۳. | ووړ سر | ۳۵ |
| ۴. | د دښمنۍ تراخهٔ | ۴۱ |
| ۵. | د وني دډ | ۴۷ |
| ۶. | د مار سر | ۵۳ |
| ۷. | ایره | ۵۹ |
| ۸. | زړسوے | ۶۵ |
| ۹. | دریم زوی | ۷۱ |
| ۱۰. | بلا پر بلا وا وښته | ۷۷ |
| ۱۱. | خوب | ۸۳ |
| ۱۲. | د رندوګزار | ۸۹ |
| ۱۳. | خواست | ۹۵ |
| ۱۴. | عذاب | ۱۰۱ |
| ۱۵. | سورسترګے | ۱۰۷ |
| ۱۶. | شاګرد | ۱۱۳ |
| ۱۷. | اووم سر | ۱۱۹ |
| ۱۸ | یو رسم | ۱۲۵ |
| ۱۹. | د سرونو دوه خلي | ۱۳۱ |


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰. ګوډه پېغله ........................ ۱۳۷
۲۱. خط ........................ ۱۴۳
۲۲. آخره خاتمه ........................ ۱۴۹
۲۳. شاعِر ........................ ۱۵۵
۲۴. لعلونه او سکروټې ........................ ۱۶۱
۲۵. پر مځکه پروت زړګے ........................ ۱۶۷
۲۶. اوومه ګُنبده ........................ ۱۷۳
۲۷. د جنت اوبهٔ ........................ ۱۷۹
۲۸. دوه مړي ........................ ۱۸۵
۲۹. لاروَے ........................ ۱۹۱
۳۰. يو سر په يوهٔ غمي ........................ ۱۹۷
۳۱. خلمے سردار ........................ ۲۰۳
۳۲. ړومبے باران ........................ ۲۰۹
۳۳. د دې منظومو زني ........................ ۲۱۷

✲ ✲ ✲

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ویرلړے داستان

(۱)

د هلکوالي په زمانه کې ما يو وړو غونډې کتاب لوستے وُ. موده ډېره تېره شوې ده. اوس مې نهٔ د هغه کتاب نوم په ياد دے او نهٔ د هغه د ليکونکي. خو دا مې ياد دې چې کتاب په پښتو ژبه وُ او د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه سره تړل شوې کرامتونه پکې بيان شوي وو. په دغو کرامتونو کې يو کرامت دا هم ښوول شوے وُ. چې يو وخت يوه ښځه شيخ ته په چيغو راغله او وېل ئې چې زهٔ په دنيا کې هيڅوک نهٔ لرم. يو زوی مې وُ هغه هم نن مړ شو. اوس به تهٔ کوې خدای به کوي. زما دغه مړ زوی به بېرته را ژوندے کوې. د ښځې فرياد دومره دردوونکے او اغېزه ناک وُ چې د شيخ جيلاني رحمة الله عليه زړهٔ وربانديٍ وسو. او غزرايیل عليه السلام ته ئې و وېل چې د دې د زوی روح به را پرېږدې، چې هغه بېرته ژوندے شي. خو عزرايیل نټه وکړه او جواب ئې ورکړ چې داسې به هيڅکله و نهٔ شي. شيخ که هرڅو د هغه د پوهٔ کولو هڅه وکړه. خو عزرايیل د دهٔ په خبره خان نهٔ پوهٔ کاوهٔ. خکه نو ډے دې ته اړووت چې له زوره کار واخلي. پای ئې دا شو چې د دې دواړو زورورو تر منځ د کشولو را کشولو په مهال هغه ټول روحونه د عزرايیل عليه السلام له لاسه و وتل کوم چې دهٔ په دغه ورځ اخستي وو. او هر روح خان بېرته خپل هغه بدن ته ور ساوهٔ چې د مړي په توګه ئې تر شا پرې ايښے وُ. دا ډول چې خومره خلک په دغه ورځ مړهٔ وو هغه ټول بېرته پر خپل خپل ځای

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


باندي په ژوندي کېدو شول. چا به له رواني جنازې څخه سر
را پورته کړ او ناري به ئې کړې چې چرته مې وړئ. چا به د قبر پر غاړه
لاس او مخ له کفنه را و ايستل. او د چا مړ وجود به لا په خپل کور کې
پر خپل بستر باندې پروت ؤ چې بېرته به را ژوندے شو او
را کښېنو به نوست. دا ډول چې په دغه ورځ هر خوک مړ ؤ. د هغه مړے
هر چرته چې ؤ. په هماغه خاى کې بېرته را ژوندے شو. لکه څنګه چې
مې وړاندې و ويل. دا کتاب ما ډېر پخوا لوستے ؤ. په دې دومره اوږده
موده کې ئې قصې نورې تولې زما له ذهنه وتلې دي. دغه يوه قصه مې
ئې تر اوسه پورې په ذهن کې پاته وه. چې دلته مې دا ده په خپلو تکو
کې بيان کړه. او له ياده مې د هغه نورو قصو په رنګه ښايي خکه وتلې
نۀ ده چې دا هغه وخت ما په خپل ذهن کې ډېره اړولې را اړولې وه.
ولې چې په دې کې دوې خبرې داسې وې چې زۀ به ئې په زړۀ کې
خوړولم. يوه دا چې ما به ويل چې کله چې د عزرائيل له لاسه
روحونو تول و وتل. نو کوم خلک چې په دغه ورځ مړۀ وو. په هغو کې
خو به ډېر مړي دغه وخت قبرونو ته هم سپارل شوي وو. او دننه به په
قبرونو کې بند وو. نو دغسې خلک چې په قبرونو کې را ژوندي شوي
وي. خومره به په زاوال شوي وي. او بله به مې دا خبره هم بيا بيا
ذهن ته را تله. چې خداى ﷻ نو ولې انسان ته دومره واک او اختيار
ورکوي. چې د دۀ په کارونو کار و لري. او که ئې ورکړي. نو بيا دغه
سړے چې خداى ﷻ دومره ښۀ ورسره کړي دي، دے ولې خپل حد نه
پېژني. او د خداى ﷻ په کارونو کې بېخايه لاس وهنه کوي. هغه وخت
زۀ په دې نۀ پوهېدم چې نۀ خداى ﷻ چا ته دومره واک ورکوي. او نۀ
د خداى ﷻ نازولي د هغه په کارونو کې د لاس وهنې څۀ شوق لري.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا خو د خوږمنو، خپلو او خکلېدلو انسانانو د تخيل دنيا ده چي دغسي ګرندي پکي ژوند کوي. کوم انسانان چي خواريو، دربدريو او تکسريو په مخه اخستي دي. هغو پخپله خپلي دې خيالي دنيا ته دغسي ګرندي خېژولي دي او وس ئې ورکړے دے. چي په هره تنګسه کي چي ئې دوی ونګوي نو هغوی ځان ور ته را و رسوي. او له هر ډول بلا سره چي دوی مخامخ وي له هغې څخه ئې خلاص کړي. داچي رښتيا هم دغسي کېږي که نه. په دې پسې دوی نه شي ګرځېدای. د دغو بې اسرې وګړو خو بس يوه اسره په کار ده. اسره که خيالي هم وي. د بلا تر رارسېدو پوري د دوی زړه وربانديي ډاډه وي.

د دا کومي خيالي دنيا يادونه چي ما پورته وکړه. د دې پوله تش د يوه اولس تر خلکو يا د يوه دين تر منونکو چاپېره نه ده راخرخېدلې. په دې کي له لويه سره ټول انسانان راځي. له آدمه تر دې دمه انسان هر مهال هر چرته چي شوے دے، وېر او درد ئې دومره بېحده او بېحسابه او سختري ئې داسي يو تر بل بتري وي چي دغه اوبو اخستے بس هر خګ ته لاس اچوي. د مځکي پر مخ باندي د خدای ﷻ دغه مخلوق خواريو او دربدريو داسي په مخه کړے وي. چي سرے به وايي په رښتيا د پنډورا هغه سندوخ ور پسې را خلاص شوے دے. چي قصه ئې د يونان په اساطيرو کي راغلې ده.

د دغي قصې له رويه دا کوم رنځونه، خوارۍ او آفتونه چي په دنيا کي په انسان پسې دي. دا ټول د دنيا په لومړي سر کي په دغه سندوخڅه کي تړلي له آسمانه مځکي ته رالېږل شوي وو. چي پنډورا په ناخبرګيا کي سندوخ پرانست نو دا هرڅه په وتو او په دنيا کي په خورېدو شول. تر څو چي پنډورا بېرته د سندوخ د تړلو په کار کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پروژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريالى كېدله نو آفتونه تول وتلي وو. تش يو شے داسي وُ چي د دغو غورزو پرزو په حال كي په وتلو كي پاته راغلے وُ. او په سندوخهٔ كه دننه پاته شوے وُ. دغه شے وُ اُميد (هيله). چي لاتر اوسه د انسان په زړهٔ كي دننه دے. نور تول آفتونه دباندي (بهر) دي. او په انسان پسې دي. قرار ته ئې نهٔ پرېږدي (۱).

د پنډورا په دغه قصه كي مورِ د هغو خوارېو، ويرونو او ستونزو يو په زړهٔ پوري انځور وينو. د كوم مخته چي انسان په تش لاس درول شوے دے. دغه انسان چي په لومړي ځل د مځكي پر مخ باندي پل كښېښوو نو نهٔ ئې پر بدن باندي داسي څرمن وه چي د موسم سختى و زغملاى شي. نه ئې په خُلهٔ كي داسي غاښونه يا په ګوتو كي داسي نوكونه وو چي د نورو ځيرونكو او داړونكو ځناورو په شان ښكار پرې وكړي. او نهٔ ئې داسي ګړندى او چابكي پښې درلودې چي د خطر په وخت په منډه خپل سر خلاص كړي. هغه په جسماني توګه د مځكي د مخ په خوارخواكه ژوو كي حساب وُ. څهٔ كه ورسره وو. نو همدغه اُميد وُ. چي په زړهٔ كي ئې دننه وُ. يا بيا هغه پوهه وه چي بالا ئې په سر كي پرته وه. د دغو دوو اوزارو په مرسته هغه لګيا شو چي پر خان باندي څهٔ داسي دېوالونه را و ګرځوي چي دے پكي خوندي وي. او دغه دېوالونه بيا هغه د كور، كورنى، قبيلي او وطن په نومونو و نومول. په كور كي ئې غمخواره مور و پلار وو. قبيله پر سردار باندي راغونډه وه. او وطن باچا چلا وهٔ. او تر دې هرڅهٔ چاپېره بيا د لوى خداى ﷻ خدايي را څرخېدلې وه. له خدايه سره د دوى تړون د دين په دايره كي وُ. دا دېوالونه كه څهٔ هم پر خپل خپل خاى باندي تول ګتور

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په خپله سمه بڼه د ارزښت وړ وو. خو زیاتره داسي شوي دي (او کیږي) چي د زغورني دغه دېوالونه په داسي زندان بدل شي چي انسان د بلا ګانو مخته یکي ترلے ولاړ وي. او بې له خدایه بل هیڅوک داسي نهٔ وي. چي د دهٔ سترګي ور واوړي.

(۲)

هو، دا خبره رښتیا ده. چي کله چي پر انسان باندي داسي یوه بده ورځ او سخت وخت راشي چي د پناه هیڅ ځای پاته نهٔ وي نو سترګي ئې د خدای ﷻ لور ته ور اوړي. خو په دغسي حال کي ډېر خله هغه خدای ﷻ هم خطا کړي. هغه د یوهٔ مسیحي پادري وینا ده چي د خواشینی خبره دا نهٔ ده چي خلکو خدای ﷻ هېر کړے دے بلکه دا ده چي د هغه ځای ئې داسي خدای ته ورکړے دے چي خدای نهٔ دے (۲) او کله چي داسي وشي نو دومره ستونزي، خواري او بدي ورسره را و بهیږي. چي هیڅ بند ور ته نهٔ شي تړل کېدای. ځکه خو اسلام خپلو منونکو ته په کلمه کي لومړے د غلطو خدایانو انکار (لا اله) او وروسته بیا د رښتوني خدا ے ﷻ اقرار (الا الله) ورښیي. غلط او د درواغو خدای چي له خپلو منونکو څخه کوم څهٔ غواړي. یا ئې منونکي د هغه د راضي کولو دپاره ورته وړاندي کوي. هغه یو ډېر په وینو لړلے داستان لري. هېرلډلېم چي د لوی سایرس (کورش) په نامهٔ کوم کتاب لیکلے دے. او د خپل تخیل په مرسته ئې ډېرو خورو ورو معلوماتو ته یو ښکلے ترتیب سره ورکړے دے. په هغه کي ئې د سمرقند د هغه وخت د یوهٔ سردار له خُلې لیکلي دي. چي کومو وحشي قبایلو چي د لوټ مار دپاره هر کال پر سمرقند باندي یرغل کاوهٔ. هغه سر کال د دغه ښار د سلامت پرښولو په عوض کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


فدیه هم نهٔ قبلوي. ولې چي د دوی سردارانو نذر منلې دې، چي خپل لوی خدای ته د قرباني د وراندي کولو په نیت به دُوی د سمرقند ښار سوخي. او د دغه خای د خلکو زر آسونه او زر قیدیان به د خپل دغه وړي خدای د خوشحاله کولو دپاره ژوندي اور ته غورځوي

(۳) د انسان د قرباني دغسي رواج په زمانو زمانو د نړۍ په ببلابیلو سیمو کي روان پاته شوې دې. یو وخت وُ چي د یونان خلکو به له خپلو ښارونو څخه د بلا ګانو د شړلو دپاره هر کال دوه داسي کسان چي له لاندنی طبقې سره به ئې تړاو درلود او په مالي توګه به ډېر خوار او لوږدلي وُ. د قرباني د پسونو په شان[۱] د سرکار په خرڅ ښهٔ ساتل. رنګ رنګ خوارهٔ به ئې پرې خوړل. دغه دوه تنه به یو د نرو او بل د ښځو دپاره وُ. چي کال به پوره شو نو نوې او پاکي جامې به ئې ور واغوستې او په ښاربه ئې روان کړل. په ښار د ګرځولو په وخت به ئې ور سره ور سره دا دعا هم کوله چي د دې ښار د ټولو خلکو بلاګاني دي په دُوی پسې شي. دا ډول چي به ئې د خلکو بلاګاني ور په شا کړې نو له ښاره به ئې و ایستل او هلته به ئې په کانو و وژل. داسي به د دوی په خیال دُوی له بلاګانو خلاص شول. هر کله چي به دوی له وچکالۍ، وبا یا څهٔ بل آسماني آفت سره مخامخ کېدل، نو دغسي ببوزله او ساتل شوي وګري به ئې قربانول (۴).

د ربتوني خدای چي په ببلابیلو زمانو کي ببلابیلو اولسونو د درواغو کومو خدایانو ته ورکړې وو. هغه دومره ډېر دي چي سم شمېر ئې هیڅوک هم نهٔ شي ښوولای او دغسي خدایان هر یو هر چرته چي شوې دې. د خلکو دپاره ئې دا رنګه خواری او ستونزي زېږولي دي چي په اورېدو سره ئې د سړي زړهٔ لړزېږي.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه دا چي د ونو به هم خلکو عبادت کاوهٔ. او د لرغونو جرمنیانو په قانون کي چا ته اجازه نهٔ وه. چي د یوې ونې پوستکے یا خوړ واړوي که به ئې واړاوهٔ نو د هغه دپاره په سزا دا وه چي نُو (ناف) به ئې په څهٔ خاصه توګه داسي ترې را وېوست چي کولمه به ئې ور پوري وه او د دغه ونې په ډډ کي به ئې چرته ټک واههٔ. بیا به ئې دغه سړے پر دغه ونه باندي شا و خوا دا رنګه راګرخاوه. چي کولمه به ئې له خېټي راوته او د ونې پر ډډ باندي به پېچل کېده (۵) خیني اولسونه بیا داسي وو چي هر سړي به ئې دا خبره د خان دپاره ډېره خطرناکه ګڼله چي یو څوک دَے د خوړلو یا څښلو په حال کي و وینې تر دې حده چي د دغسي یَوهٔ اولس باچا به هم خوراک او څښاک له هر چا پټ کول. او په قانون کي د هغه چا سزا مرګ وه چي باچا به ئې د څښلو یا خوړلو په حال کي ولیده. په دې لړ کي فریزر د یوهٔ باچا حال داسي بیانوي چي یوه ورخ هغه لګیاوُ شراب ئې څښل. چي دولس کلن یا څوارلس کلن زُوی ئې په نا خبرتیا کي ورباندي ورغے او دَے ئې د شراب څښلو په حال کي ولید. باچا هغه دم امر وکړ چي شهزاده ته ښکلي جامې ور وا غوندئ او خوندور خوارهٔ پرې وخورئ. کله چي دغسي وشول. نو بیا د باچا په خپل امر د دغه شهزاده بدن څلور توټې کړل شو. او دغه څلور توټې مرے بیا په داسي حال کي په ښار وګرخول شو چي دا ډمامه ور سره وهل کېده. چي دا هغه هلک دے. چي باچا ئې د شراب څښلو په حال کي لیدلے دے(٦).

د ناوړه عقیدو یو بل اړخ هم وُ او هغه دا چي خینو اولسونو به له لویو لویو آفتونو څخه د خان ژغورلو دپاره خپل باچهان قربانول. او د دغسي قربانیو په بېلابېلو خایونو او وختونو کي بېلا بېلي طریقې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


باته شوې دي. خيني وختونه به د باچا د قربانولو يو خاص تاکلے وخت وْ هسې د قربانۍ دغه تکے ډېر عجيبه غوندې زړهٔ راکښون لري. په هره زمانه کې داسې خلک وي چې د دغه تکي په اورېدو سربښندنې ته تيار شي. دغه باچهان به هم په خوښه سربښندنې ته تيارېدل او د وطن او اولس د نېکمرغۍ دپاره به ئې خپل خاې خپل خلمې وارث ته پرېښوو. خو انسان داسې دے چې خان ته د هر ګران کار د اسانه کولو دپاره ورو ورو څهٔ لاره چاره لټوي. دغه دودونه هم بيا خينو باچهانو کله په زور او کله په پوهه بدل کړي دي. يو وخت د بابل خلکو په کال کې يو پنځه ورځے اختر درلود. په دغه اختر کې تر ټولو په زړهٔ پورې خبره دا وه چې د پنځو ورځو دپاره به ئې باچهي يوهٔ داسې مجرم ته ورکوله چې د مرګ سزا به باندې ختلې وه. دغه لنډ مهاله باچا به هسې تش په نامهٔ باچا نهٔ وْ. د هرڅهٔ واک به ورسره وْ. ترډې حده چې د اصلي باچا حرم ته به هم ور يله وْ. او د هغه له ښځو سره به ئې هر ډول اړيکې ساتلاې شوې. او هر رنګ ګټه به ئې ترې پورته کولاې شوه. چې پنځه ورځې به پوره شوې. نو بيا به ئې وواژهٔ. د دغه رسم په اړه هم د بشرپاتو د عالمانو خيال دے چې دا وخت به د باچا د قربانولو وخت وْ. اصلي باچا به خان ويوست. څوک چې به د قربانۍ په دغه تا کلي وخت کې باچا وْ. هغه به ئې قربان کړ. داسې به اصلي باچا هم بچ شو. او څوک چې به و وژل شو، د هغه وژنه به هم د يوهٔ بې ګناه انسان وژنه نهٔ وه (۷) هسې د بابل نوم سړي ته حضرت ابراهيم عليه السلام ور يادوي. چې زوې ئې د قربانۍ دپاره بېولے وْ. خو د زوې پر خاې باندې ئې پسه حلال شو. له دغې قربانۍ څخه داسې ښکاري چې خداې پاک د دغې قربانۍ په ذريعه انسانانو ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا سوول غواړي چې انسان وژل يو ناوړه کار دے. د قرباني سمه طريقه دا ده چې پسونه حلالوي.

( ۳ )

دا خو مو تر يو حده وکتل چې ښکه خواريو په مخه اخستے انسان کله د غيبي قوتونو د مرستي په لټون منديي وهي او کله بيا د هغو د قهرېدلو له ويري په کندو کپرو کې خغلي او تيندکونه خوري. اوس به لږ وګورو چې د خواريو د مخ نيوي په لړ کې پخپله انسان د انسان څومره په ښه ورغلے دے. يا تر کومه حده په ښه ور تلای شي. د مځکي پر مخ باندي چې د خان ژغورني په نيت انسان تر ټولو لويه او تر ټولو ټينګه کومه کلا جوړه کړې ده. هغې ته نې د وطن نوم ورکړے دے. وطن د دې دپاره وي چې په دې کې اوسېدونکي خلک ټول يو بل ته لاس سره ورکړي او په ګډه خپل ټول واک او وس د ستونزو د مخ نيوي دپاره په کار واچوي. دغه کار چې د چا په مشرۍ کې تر سره کيږي هغه د زمان په اوږدو کې باچا بلل شوے دے. باچا چې خپله دنده کله په سمه توګه تر سره کړې ده. نو پر اولس باندې د وطن راخرخېدلې پوله د او سپني دېوال ثابته شوې ده. او نهٔ يواځي دا چې د خلکو سر او مال پکې خوندي شوي دي. بلکه په مادي او معنوي توګه ټولني وده پکې کړې ده. او پر مځکه ته ئې لاره هواره شوې ده. خو د نېکمرغۍ دغسې دورونه په تاريخ کې ډېر کم ليدل کيږي. زياتره دا شوي دي. چې باچا د اولس مال او متې د اولس د ترټلو او سپکولو دپاره په کار اچولي دي. د تاريخ پاڼي د باچهانو له لاسه په منځ ته راغلو داسي ئې شمېره پېښو ډکې دي. لکه د ډيلۍ د باچا سلطان محمد تغلق

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي پر څهٔ شي باندي ددغه ښار اوسېدونکو ته خوابده شوه. کورونه ئې تول په بيه ترې واخستل او امر ئې ورکړ چي تول دي دولت آباد ته وکوچيږي او ډيلے دي خالي کړي. د تاکلي وخت له تېرېدو وروسته د باچا خلکو ته دوه تنه، چي يو ګوډ او بل ړوند وُ. په لاس ورغلل. چي لا کوچېدلي نهٔ وو. هغوی ئې باچا ته ور وستل. ګوډ خو سمدستي په منجنيق والوزول شو او د ړاندهٔ په اړه امر دا وشو چي په کشولو کشولو ئې تر دولت آباده پوري ورسوئ. له دغه امره سره سم د باچا خلکو ړوند تر پښه ونيو او په کشولو ئې د دولت آباد خوا ته روان کړ. تر دولت آباده پوري له ډيلي څخه د څلوېښتو ورځو د مزل لاره وه. څلوېښتمه ورځ دوی د دغه ړاندهٔ يواځي يوه پښه دولت آباد ته و رسوله. نور بدن ئې تول په کشېدو کي په خاشه خاشه دلته هلته او هلته دلته پاته شوے وُ (۸).

څرګنده ده چي دغسي خرمستي باچهان د اولس او وطن دهغو خزانو په زور کوي چي کالخوايي ئې توله له دوی سره وي. او د خزانو په اړه ويل کيږي چي ښاماران ور پسي راځي. خکه نو په زياتره باچهانو پسي د اژدها په شان ډېر بې زړسويه يرغلګر راغلي دي. د دغو يرغلګرو له لاسه چي پخپله دغو باچهانو ته هر څه پيښ شوي دي. هغه خو پيښ شوي دي خو بده داوي چي د اولسونو هغه بې شمېره وګړي چي نهٔ په څه خبر وي نهٔ اتر. په دغسي وختونو کي تل په وينو لمبول شوي دي. که سړے د تاريخ په مرسته يواځي په چنګيزخان پسي پل واخلي. نو ښائي د هغه ناورين په ليدو ئې زړه وچوي. چي دغه انساني بلا پر نيمه نړۍ باندي راوستلے وُ. هغه دومره وينې بهبولي وي او مځکه ئې داسې په مرو ډکه کړې وه. چي

(WWW.KITABTOON.COM) كـتـابـتـون تـونـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پای به د هغه هر سپايي خلکو ته د مرگ داسي يو استازے ښکارېده چي تر عزرائيل به ئې هم دبدبه زياته وه. چانه چي به ئې مخه شوه نو هغه به تر مړ کېدو مخکي لا خپل ځان مړ کانهٔ. کله چي دغسي يو سپايي يوه ورځ يوهٔ کلي ته ورننووت. او هلته لگيا شو په يواځي سر ئې خلک يو يو له کورنو را ايستل او وژل ئې. نو په دغو خلکو کي هيڅا هم و نهٔ کړای شول چي د هغه په لاس له وژل کېدو څخه نته وکړي (۹) تاريخ دا قصه هم په خپلو پاڼو کي خوندي کړې ده. چي د چنگيز يوهٔ سپايي يو سړے ونيو خو هغه وخت داسي څهٔ شے ورسره نهٔ وُ چي پرې مړ ئې کړي. نو پر مخکه باندي ئې پرې يوست او ور ته و ئې ويل چي له دا ځايه به ښورې نهٔ. هغه سړے پر دغه ځای باندي تر هغه وخته پروت وُ چي دهٔ توره راوړه او هغه ئې پرې و واژهٔ (۱۰) اوس نو د يوهٔ لښکر د عام سپايي چي دا حال وي.هلته سړے دا اندازه په ښه توگه لگولای شي چي د باچا به ئې نو څومره دبدبه وه. او د چنگېزيانو دبدبه په ژوند کي خو وه چي وه. جنازې به ئې هم د بې شمېره خلکو مينې ورسپېرې کړې. په سر کي د هغو دا معمول وُ چي د خپل باچا مړے به ئې خپل پلارني ټاټوبي ته رساوهٔ. او د داسي مړي د ورلو په وخت چي به په لاره کي هر څوک جنازې ته په مخه ورتلل نو هغه به ئې په دې عقيده وژل چي په بل جهان کي به دې مړهٔ باچا ته په ښه ور شي. او چوپړ به ئې و وهي. يواځي د منگوقاآن د جنازې د ورلو په وخت دارنگه شل زره تنه وژل شوي وو (۱۱).

امير تېمور چي به کله په کومه درنه چاره لاس پوري کاوهٔ نو فال به ئې له قرآنهٔ يوست (۱۲) خو کله چي به ئې بيا دغه چاره په عملي ډگر کي پر مخ باندي بيوله نو هغه وخت به ئې هم قرآن

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هېر ؤ او هم د خدای د هغه لوی استازي وينا چې دغه قرآن باندي راغلې دے. د اصفهان په ښار کي چې ئې کله د ښاريانو د يومخ وژني امر وکړ. او لښکريانو ئې په خلکو پسې تورې را و ايستې نو د وژني دغه لړۍ دومره اوږده شوه چې لارې او کوڅې ټولې له مړو ډکې شوې خو دغه ناورين دغسې روان ؤ او پای ته د رسېدو نوم ئې نه اخست. په دغه حال کي چې دغه امير پر داسي يوهٔ خای باندي راغې چې ګڼ شمېر وېرېدلي او په لړزا اخته ماشومان پکي ولاړ ؤ. نو پوښتنه ئې وکړه چې دا دلته څهٔ ته ولاړدي؟ کله چې دهٔ ته و ويل شول. چې دا ټول هغه ماشومان دي چې مور، پلار، کورنۍ او هر څه ئې د نن په دې روانه عامه وژنه کې له منځه تللي دي. او دوی تا ته فرياد راوړے دے. د دې ښار دپاره امان غواړي. نو تېمور مخامخ خپل آس پر دغو ماشومانو باندي ور سم کړ. کوم سپارهٔ چې په دهٔ پسې وو. هغو هم دغسي وکړل. پر ماشومانو باندي ئې قيامت جوړ کړ. آسونه ئې باندي خغلول راخغلول. د ماشومانو چيغو او غلبلو د عرش کنګرې لړزولې. خو تېمور د زړهٔ په کنو غوږو هيڅ هم نهٔ اورېدل.لږ ګړے وروسته دغه چيغې ورکي شوې چپه چپتيا شوه. ماشومان ټول د آسونو تر پښو لاندي وژل شوي وو. او تېمور له خپلو سپرو سره مخته تللے ؤ (۱۳)

## ( ۴ )

انسان چه د مځکي پر مخ باندي کومو بلاګانو تر ټولو زيات خوړولے دے. په هغو کي تر ټولو لويه بلا پخپله انسان دے. په انسانانو کي تر ټولو زورور باچا وي. باچا چي کله د بلا په بڼه شي نو د اولس ئې بيا خبر نهٔ وي. خو لکه څنګه چي انسان له هري بلا سره ورو ورو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


جل زده کړے دے او هغه ئې په یو ډول بوتل کې بنده کړې ده دغه رنګه ئې دا بلا هم پای یوهٔ بوتل ته ننه ایسته او دغه بوتل ئې جمهوریت یا اولسواکي وبالهٔ. په اولسواکي کی د واک او خواک سرچینه اولس وي. د اولس د وګړو ډېرے چې د چا پر وړه باندې لاس کنبږدي هغه د هیواد واکمن شي. خو دغه واکمن د هیواد دنورو او سپینو داسی کالخوایه نهٔ وي. چې بس څرنګه چې دے عوارې. هغه رنګه ګته خنې پورته کړي. دلته واکي د اولس په لاس کې وي. اولس چې چا ته خپله مشرې ورکوي نو په دې شرط ئې ورکوي چې هغه به د دوی په خوښه خي. خکه نو اولسواکي د نوي انسان ډېره لویه لاس ته راوړنه ګڼله کیږي. خو دا لاس ته راوړنه ئې یواخنی لاس ته راوړنه نهٔ ده. نوي انسان په ډېر لنډ وخت کي نور هم دومره څهٔ لاس ته راوړي دي چې عقل ور ته حېرانیږي. او د هغه په برکت ئې یوه جنتي غوندې نوې نړۍ جوړه کړې ده. چې نورِ ور ته پر مخ تللې نړۍ وایو. خو داسې ښکاري چې په خپل دې مخکنې جنت کې هم د آدم دغه اولاده له خوشحالۍ او خوند اخستلو څخه بې برخي او زړهٔ چاودون ته مخامخ ده. او کوم درد او خورِ چې باندې تېریږي هغه ئې د ډېرو مخکښو پوهانو په وېنا ګانو کې داسې خان ښکاره کوي لکه کرکېګارډ (۱۸۱۳-۱۸۵۵) چې وایي چې: "د لنګوالهٔ په وخت د یوې مور چیغې بغې واوره او د خکندن په شېبو کې د مرګ خلې ته د تلونکي انسان لاس و پښې وهل وګوره او بیا و وایه چې کوم څهٔ (ژوند) چې په دا توګه پیل کیږي او په دا ډول پای ته رسیږي. آیا هغه به د دې دپاره وي چې سرے خوند پکې واخلي. (۱۴)

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پورته چې موږ دا کومه د نوي انسان او نوي نړۍ خبره وکړه، دغه نوے والے ئې له هغه تحریکه سره سم پیل کیږي. چې رینېسانس ( Renaissance ) ورته وايي. د رینیسانس له ډیرو اړخونو څخه یو ډیر څرګند اړخ دا وو. چې د کلیسا زور ئې ور مات کړ. د عسائیت تر راتګ وړاندي چې په اروپا کې خلکو له یوناني او لاطیني لارو چارو سره سم ژوند تېراوهٔ . دا وخت یو ځل بیا ژوند پر هغه ډګر باندي مخ په وړاندي ګام واخست. او پر دین نهٔ ولاړه یوه ټولنه مخ په وده شوه.او د خلکو زړه عقیده په ماتېدو او د الحاد سایه په خورېدو شوه. پر خدای ﷻ باندي چې عقیده په کمېدو شوه نو د دغي سیمي خلکو ته انسان د مخکې پر مخ باندي د رڼا تر ټولو لویه او ربښتونې مناره ښکاره شو او د دغي منارې مینه او درنښت تر ټولو لوی ارزښت وګڼل شو. چا چې انسان تر هر څهٔ لوړ ګڼهٔ او تر هر شي ئې زیات ارزښت ورکاوهٔ. هغه ته په درنه سترګه کتل کیدل. دا ډول د انسان دوستی (Humanism) په نامهٔ دغه تحریک هر لور ته په غزېدو شو. خو دغه غزېدونکے تحریک هغه وخت د وینو په سېلاب کي لاهو شو چې نړۍ پرله پسې دوه خله جهاني جنګ ته مخامخ شوه. په دغو دوو لویو او جهاني جنګونو کې انسان د انسان داسي یود ناوړه، کرغېړنه او په وینو ککړه څېره ولیده چې تاریخ ئې سارے نه شي وړاندي کولای. او هغه انسان چې د انسان مینه ئې د ایمان د منځ تکے وٌ. د انسان له نومه په ترهېدو شو. کوم انسانان چې دغه مهال د وینو سېلاب یووړل هغه خو ئې یووړل. کوم چې ژوندي پاته شول. هغه د غرونه غرونه عذاب او ویري سره مخامخ وو. د دغه ذهني عذاب او درد ډېر لړزوونکي انځورونه د دغه وخت په ادبیاتو کې راغلي دي. چې موږ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته وربانديي د ډېر څهٔ ويلو دپاره وخت نهٔ لرو. تش د نمونې په توګه له پوره خرواره څخه يو دوې داني را اخلو. لومړے به همدغه د انسان له انسانه د بېزارۍ په اړه د ژان پال سارتر د يوې ډرامې خبره وکړو. چي درې کردارونه لري. يو يکي سړے او دوې ئې ښځې دي. دا درې واړه انسانان مړهٔ دي او له مړيني پس د دوزخ سزا ورکول شوې ده. دوزخ ته چي راشي نو دلته نهٔ اور شته اونهٔ ذوی ته د عذاب ورکولو دپاره څهٔ بل شے ښکاري. بس يوه خونه ده چي د دوی د ناستي دپاره يکي درې سوفې پرتې دي. دُوی چي سره کښېني او يو له بله سره خبرې پېل کړي. نو په دې باندي ورو ورو پوه شي چي خبره دومره اسانه نهٔ ده. دوی په رښتيا هم دوزخ ته راغلي دي. او له يوهٔ لويه عذابه سره مخامخ دي. خو دغه عذاب له کوم بل شي څخه نهٔ دے. پخپله د دُوی هر يوهٔ وجود د دانورو دوو دپاره عذاب دے. او دغه عذاب به دوی هر يو تل تر تله دلته زغمي. او د دوی دغه عذاب يو له بله سره په خبرو وار په وار زياتيږي. او ډرامه له دغو درو کردارونو څخه د يوهٔ په دې ويلو پای ته رسيږي. چي دوزخ په اصل کي دغه نور خلک دي (۱۵) مطلب دا که يوهٔ انسان ته سزا ورکوې نو د نورو انسانانو په منځ کي ئې واچوه. ولي چي د انسانانو په منځ کي اوسېدل داسي يو عذاب دے چي د دوزخ تر عذاب په کمه نهٔ دے.

موږ پر نوي انسان باندي په ذهني توګه د تېرېدونکي عذاب د اندازې د لګولو دپاره د الحادي وجوديت دستر استازي ژان پال سارتر د ډرامې لنډيز و لوست. اوس به يِه لويه سرهِ د نوي تهذيب او نوي نړۍ په اړه د يوهٔ بل داسي غربي ليکوال خبري ته غوږ شو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د پوهې او ادب په نړۍ کې ډېر لوی نوم لري. دغه ليکوال د انګرېزي ژبې نامتو شاعر اوکره کتونکې ټي.ايس. ايليټ دی. چې له ديني ارزښتونو څخه د خالي نوې تهذيب او په ذهني او روحاني توګه د رنځور نوي انسان غميزه يې په ډېره ژوره توګه په خپله شاعرۍ کې انځور کړې ده. په دې اړه د ده تر ټولو مشهوره نظم "شاړه مځکه" دی. په دغه نظم کې دننه پخپله د نوې تهذيب په رنګه يوه داسې ببڅلې او سره اړه را اړه غونډې نړۍ ودانه ده چې که ورننه وزو نو بيا زړ او په اسانه بېرته نهٔ شو ترې را وتلای. څکه نو دهٔ چې کوم ورکوټې عبارت (Epigraph) د نظم تر پېل کېدو له مخه ورکړی دی. که موږ نن هغه و ګورو او خان ورباندې پوه کړو. نو داسې به وې لکه په پوره نظم چې تر يو حده پوهېدلي يو. دغه عبارت په لاطيني ژبه دی. زهٔ يې دلته له يوې انګرېزي ژباړې څخه پښتو ته را اړوم. په دې عبارت کې يو څوک وائي چې ما پخپله يو ځل سبيل په خپلو سترګو وليدله چې په يوهٔ قفس کې خړېده. کله چې هلکانو ورڅخه و پوښتل چې سبيل تهٔ څهٔ غواړې نو دې ويل زهٔ غواړم چې مړه شم (۱٦) دغه عبارت چې سړی ولولي نو په لومړي سر کې داسې ور ته و برېښي لکه ژوند چې پخپله په يوهٔ قفس کې ترلې وي او د خان خاتمه غواړي خو د شاعر مطلب هغه وخت نور هم سړي ته زبات څرګند شي چې په دې خبر شي چې د يوناني اساطيرو له رويه سبيل خپله لپه په رېګ ډکه کړې وه او اپالو ته يې خواست کړی وٌ چې ما ته دومره کلونه ژوند راکړه لکه دا زما په لاس کې د رېګ ذرې. او هغه يې دا خواست منلی وٌ. خو تاوان دا شوی وٌ چې د سبيل دې ته نهٔ وو پام شوې چې له دغه اوږدهٔ ژونده

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره سمه خواني هم و غواړي. څکه نو د هغې ژوند خو اوړد شو مګر خواني ئې پر خپل وخت پای ته و رسېده. او هغه بیا وروسته د زړتیا داسي حال ته و رسېده چي نهٔ مړه او نهٔ ژوندی وه (۱۷) تي.ایس. ایلیټ نوی تهذیب دغسي په ژوند کي د مرګ په حال مبتلا یو تهذیب بولي او د دغه په ژوند کي مړهٔ تهذیب یو ډېر زړهٔ خوړووونکی انځور په خپله شاعري کي وړاندي کوي.

(۵)

لکه څنګه چي مو وینو، نوي انسان ډېر څهٔ لاس ته راوړي دي. خو ډېر څهٔ ئې له لاسه وتلي هم دي او دا کوم څهٔ چي ئې له لاسه وتلي دي. په هغو کي د انسان تر ټولو لوی هغه مورچل او تر ټولو غټه هغه پناه ګاه هم راځي چي موږ ور ته کور او کورنۍ وایو. کور او کورنۍ د ټولني لومړۍ خښته وي. او نړۍ ته د راتلونکي هر ماشوم ببوسي هغه شے ده چي د کور او کورنۍ بنسټ ګرځي د دغه ببوسه ماشوم روزنه او ژغورنه د پوره انساني نسل د روزني او ژغورني معنا لري. او فطرت دغه روزنه او ژغورنه د هغې مور په لاس کوي چي دغه ماشوم ئې له وینې او له غوښې څخه جوړ دے. د ول ډېورانټ وینا ده چي د نسل د روزني کار د ښځي پر غاړه وي. او د ښځي او د ماشوم چوپړ وهل بیا د نر دنده ده (۱۸) د دغه نر، ښځي او ماشومه څخه کور او کورنۍ جوړېږي. خو د نوي زماني نر د خپلي دنده د پوره کولو پر ځای ښځه دې ته و هڅوله چي هغه هم د نر په شان خپله روزي و ګټي. او چي ښځه په روزي ګټلو پسې و وته نو څرګنده خبره ده چي په سمه توګه د خپل ماشوم خیال ساتل بیا د هغې د وس خبره نهٔ وه. دا ډول چي کومه دنده

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فطرت د مور په لاس پوره کوله. هغه حکومت ته پاته شوه. او نوے انسان چي د کومو حکومتونو په سايه کي ژوند کوي هغه د ډېر څهٔ کولو وس لري. د ماشوم د روزني دپاره ئې "وړکتون" جوړ کړ. ماشوم چي په وړکتون کي لوی شو نو بيا ئې له مور او پلاره سره هغه تړون نهٔ وو پاته. کوم چي د زاړهٔ دور اولاد له مور او پلاره سره درلود. خکه ئې نو د هغو د مړيني تر ورځي پوري له هغو سره په يوهٔ کور کي اوسېدو ته غاړه کښې نهٔ ښووه. دغسي چي دغه د منځ ستون له منځه و ووت نو کور بيا هغسي ټينګ ولاړ پاته نهٔ شو چي مور او پلار د ژوند وروستی ورځي او شپې په ښغمی سره پکي تېرې کړي د دوی خيال ساتل هم د حکومت غاړي ته ور و لوېد. او حکومت د دغه کار د تر سره کولو دپاره "د زړو خلکو د اوسېدو خايونه" جوړ کړل که څه هم په دغو وړکتونونو او د زړو خلکو د اوسېدو په خايونو کي د ژوند ټولي اسانتياوي شته. خو د يوهٔ شي پکي کمے دے او هغه دا چي يوهٔ ماشوم ته چي يوه مور د خپل تن له غوښو جوړي کومي شودې ورکوي. په هغو کي چي کومه لبونی مورنی مينه ګډه وي. دغه مينه د وړکتون په پوډري شودو کي نشته. همدغه راز د زړو دپاره چي کوم سرکاري خايونه جوړ دي. په دغو خايونو کي چي کوم خلک د دغو زړو چوپړ وهلو ته ولاړ وي. هغه له دوی سره د وينې او مينې هغه تړون نهٔ لري. کوم چي په کور کي اولاد له مور او له پلاره سره لري. دا ډول چي دوی دلته د يواځيتوب، ناهيلي، بېچارګی او دغت د کوم ذهني حالته سره مخامخ کېږي. هغه د يوهٔ امريکن ډاکټر پال ارنسټ اډولف په دې وينا کي مونږ کتلای شو چي وائي چي ما په روغتون کي د بوي داسي بوډۍ دارو درمل کول

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د تن يوه برخه ئې تپي شوې او هډ ئې مات وُ. زما له دارو درملو سره هغه مخ په ښه کېدو شوه. چي پر خپلو پښو باندي د ګرځېدلو وړ شوه نو زموږ د روغتون مشر ما ته و ويل چي دا سپين سرې اوس دلته نوره پاته کېدو ته اړتيا نهٔ لري. په شواروز کي دننه ئې پکار ده چي فارغه کړې. ما هغې ته مبارکي ورکړه او چي لور ئې راغله نو پر هغې باندي مي هم زېرے وکړ. لور ئې د مور خوا ته ور تېره شوه. او هغې ته ئې و ويل چي ما او زما مېړهٔ وخت نهٔ لرو چي په کور کي ستا خيال وساتو. موږ پرېکړه کړې ده چي تا به " د زړو خلکو خاى" ته بيايو. د دې خبري په اورېدو بوډۍ دومره خواشينې شوه چي تپ او مات هډ ئې بېرته په خرابېدو شول او په شواروز کي دننه مړه شوه. نومړے ډاکټر وائي چي د دغې بوډۍ مړګ که څهٔ هم په څرګنده د مات هډ له کبله وُ خو که رښتيا پوښتې نو د مرګ اصل سبب ئې مات زړهٔ وُ، نهٔ چي مات هډ (١٩).

له موره سره د نوي انسان د مينې دغه سوړوالي ته که موږ اړ نور هم ځير شو نو پوه به شو چي دغه دايره نوره هم فراخه ده. دا خبره ببخايه نهٔ ده که څوک وائي چي له لوبه سره مخکه د تول انسانيت مور ده. انسان له دې زېږي، د دې په غوښو پائي او چي مړ شي نو هم دا په خپله سينه کي بېرته هغه ځايېوي. خو نوي انسان د خپلي دغې مور وجود له داسي وسلو ډک کړے دے چي هره شېبه هغه د تباه کېدو خطر ته مخامخ ده. خو داسي ښکاري چي د دغې مور د آزارو له کبله نوے انسان هم پر ښه باندي نهٔ دے پېښ شوے. دا خپله وسله دهٔ ته هم بلا ده. ولي چي وسله د بدمرغۍ داسي يوه مرغۍ ده چي وي به ستا په کور کي خو اګي به ستا د دښمن کره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اچوي. او د دغي مرغۍ اګۍ ده وېره. که ستا کره وسله راشي نو ستا د دښمن په کور کي به ارو مرو دا وېره پيدا کېږي چي دا وسله به د دوی خلاف کارول کېږي. ځکه نو دغه وېره ستا د دښمن په کور کي ستا خلاف وسله پيدا کوي. ستا د وسلې د مخ نيوی دپاره هغه هم وسله اخلي يا ئې جوړوي. چا چي اتم بم جوړ کړ نو دښمن ئې هم اتم بم جوړ کړ. او د دغه اتم بم له وېري بيا بل چا هم دغه کار وکړ. او د هغه له وېري بيا بل چا وکړ. دا ډول د اتم بم نسل مخ په زياتېدو دے. نوے انسان په دې لګيا دے چي د انسانانو زوکړه په قابو کي وساتي او په خپلو هوادونو کي ئې ساتلې هم ده حو د اتم بم د زوکړي مخه داسي ښکاري چي هغه نهٔ شي نيولای. دغي بلا اوس د يوۀ داسي لېوني سپي بڼه اخستې ده. چي نوي انسان ترلکې نيولے دے. که ئې تيښکوي نو تيښکولای ئې نه شي او که ئې پرېږدي نو دے بخپله داړي. ښاني چي له همدغي وېري هغه لګيا دے چي له مځکي خان و باسي. او په آسمانونو کي خان له کور جوړ کړي په دغه لټون ئې د سپوږمۍ، مريخ او زحل دښتي وکتي. نور به هم مخته ځي. خو که چرته دے په خپله دغه هڅه کي بريالے هم شي. او د آسمان کومه سياره په خپله غېږ کي ځای ور کړي. نو هلته به هم خدای ﷻ خبر چي خان له جنت جوړوي. ولي چي د پنډورا کوم سندوخ چي له آسمانه مځکي ته پسي راغلے ؤ هغه له مځکي ور پسې آسمان ته هم رسېدلای شي. هلته به بيا دے وي او دغه آفتونه، ستونزي او خواري به وي.

هو، په دې دنيا کي دا خبره شونې نهٔ ښکاري چي انسان دې خان لره چرته داسي يو جنت ودان کړای شي چي دے به د خپل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژوند ورځي او شپې په ښېغمۍ سره پکې تېروي. داسي برېښي لکه د مخکي د مخ دغه ژوے چي له اصلي جنته هم په دې را ايستل شوے وي چي د ښېغمۍ په حال کي دے وده او په بره تګ نهٔ شي کولای. د دغه کار دپاره همدا دنيا مناسب ځاى ښکاري، ولې چي دلته انسان هر وخت، هر ځاى چي شوے دے، بلا ته مخامخ پاته شوے دے، خو بلا هر څومره چي لويه او زورَوره وي. دهٔ نهٔ يواځي دا چي له هغې ځخه د ځان ژغورلو هڅه کړې ده. بلکه په پرله پسې توګه ئې دا کوښښ کړے دے چي خپل زور دومره زيات کړي چي د بلا سر و وهلای شي. خو د بلا سر چي ئې وهلے دے. د هغې پر وجود باندي دوه نور سرونه را پېدا شوي دي. او دغو دوو سرونو که هرڅو دهٔ ته خطر يو په دوه کړے دے. بلا بيا هم توانېدلې نهٔ ده چي دے له منځه يو سي. بلکه ورو ورو دهٔ خپل وس دومره ورته زيات کړے دے چي د بلا دغه دوه سرونه ئې هم وهلي دي. او چي وهلي ئې دي نو د بلا سرونه بيا څلور شوي دي. دا ډول د انسان ستونزي او خوارى چي څومره زياتېږي. هغه د دهٔ د زور د زياتېدو سبب ګرځي او چي د دهٔ زور څومره زياتېږي. هغه په هغه اندازه د دهٔ ستونزي او خوارى زياتوي. داسي د دهٔ زور او د دهٔ خوارى يو د بل په مقابل کي تل په زياتېدو پاته شوي دي. او دا وخت چي انسان په خپل دې مخ په بره مزل کي څومره پورته ختلے دے. د خپل زخم زخم وجود پر زينه باندي په داسي حال کي ختلے دے. چي له يوهٔ زخمه پښه اخلي. پورته ئې په بل زخم کي ږدي. او له بله ئې اخلي بيا ئېپه بل کي ږدي. په دغه په وينو لړلې لار کي چي پر دغه اتل باندي څهٔ تېر شوي دي. په دې کتاب کي همدغه غميزه په داستان

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پسې د داستان په شکل نظم شوے ده. دغه داستانونه که څهٔ هم هر يو پر خپل ځاى باندي يو بشپړ داستان دے. مګر له لويه سره دا ټول داستانونه د هغي لويي غميزي بېلا بېلي ننداري دي. چي وړاندي ني يادونه وشوه. او زهٔ ني دلته تاسي ته وړاندي کول غواړم. بله دا چي دې هر يوهٔ داستان ته ما د داسي يوې منظومي شکل ورکړے دے چي سل مصرعې لري. او زهٔ غواړم چي د دې منظومو شمېر هم تر سلو پوري ورسوم. داسي به دا ټوله غميزه ۱۰۰×۱۰۰ يا لس زره مصرعې شي. خو دا وخت په دې لومړي کتاب کي تش دېرش منظومي راغلي دي. که خداى ﷻ ژوند او وس راکړل، نو د دغه کار پاته برخه به په نورو دوو کتابونو کي وړاندي کوم. دا وخت خو دا يو کتاب تيار دے. دا تاسي ته در سپارم او زهٔ په خپل کار پسي مخته ځم. د خداى په امان

درويش دراني
پوسټ بکس نمبر ۵۳۱
جي. پي. او
کوټه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حوالې

په دې حوالو کې ځینې حوالې داسې دي چې ما له خپلو ماخذونو څخه ټکي په ټکي نهٔ دي را ژباړلي. بلکه را اخستې خبره مې په خپلو ټکو کې داسې بیان کړې ده چې ترجماني ئې هم سمه وشي. او عبارت زما په دې لیکنه کې هم سم ځای شي. له دا چې د حواله ورکولو په وخت ما د کتاب او د هغه د لیکوونکي د نومونو تر څنګ یواځې د باب شمېره ورکړې ده. مطلب دا چې حواله مې په هغه ډول نهٔ ده ورکړې. څنګه چې نن سبا دود دے. ولې چې ما ته د خپلې دې لیکنې دپاره دغه لنډه غوندې حواله زیاته پر ځای ښکاري.

| د حوالې شمېره | د کتاب نوم | | د لیکوونکي نوم | | باب |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | Favorite Greek Myths | | L.S Hyde | | دویم باب |
| ۲ | What is Art | | Leo Tolstoy | | شپاړسم باب |
| ۳ | Cyrus the Great | | Harold Lamb | | څلورم باب |
| ۴ | The Golden Bough | | J.G. Frazer | | اتهٔ پنځوسم باب |
| ۵-۶-۷ | همدغه کتاب | | // | | (۵)نهم (۶) نولسم (۷) خلرویشتم باب |

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د ابن بطوطه سفرنامه | | د مولوي محمد حسين اردو ژباړه | | پنځم باب (دويم جلد) |
| ۹-۱۰ | چنګيزخان چهرهٔ خون ريز تاريخ (فارسی) | | محمداحمد پناهي | | لومړے فصل |
| ۱۱ | The Travels of Marco Polo | | Aldo Ricci | | يو اويايم بيان |
| ۱۲ | تزوکات تيموري (فارسي انګريزي) | | ابوطالب حسيني<br>MaJor Davy | | مقالت اول<br>Book the first |
| ۱۳ | عجائب المقدور فی اخبارالتيمور<br>(فارسي ژباړه)<br>زندگی شگفت آور تيمور | | ابن عرب شا<br>محمدعلی نجاتی | | ۲۲م عنوان |
| ۱۴ | From Socrates to Sartre | | T.Z. Lavine | | خلرويشتم باب (شپږمه برخه) |
| ۱۵ | No Exit and Other three Plays | | Jean – Paul Sartre<br>Tran: Stuart Gilbert | | لومړی ډرامه |
| ۱٦ | Homer To Joyce | | Wallace Gray | | اوولسم باب |
| ۱۷ | The Golden Age Of Myth and Legend | | Thomas Bulfinch | | دو دېرشـــم باب |
| ۱۸ | The Pleasure of Philosophy | | Willduarant | | اتم باب |
| ۱۹ | مذهب اور جديد چيلنج | | مولانا وحيدالدين | | وروستے باب |

کـتـابـتـون تـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منظومې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ووړ سر

قاضي کوږ دستار تړلے او روان وُ
پر لار باندي، په جګ سر په لکه غاړه
ابونصر ئې د لاري څنګ ته ناست وُ
دهٔ نهٔ پام او نهٔ سلام هغه ته وکړ
لکه څوک چي د يو کاني سره تېر شي
دغه رنګه بې پروا ور څني تېر شو
دا په دا چي هغه نيم غوندي سړے وُ
سر ئې ووړ، ونه ئې ټيټه، تن خوارځواکه
د پوره سړي په سترګه ور ته خلکو
کله هم کتلي نهٔ وُ په دا ښار کي
او هغه له چا ګِله هم کړې نهٔ وه
مګر نن ئې په قاضي پسې غږ و کړ
چي ته ما کړې په دې چي سر مي ووړ دے
خو سرونه د آدم د اولاد واړه
په يو رنګ د درناوي او عزت وړ دي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په صورت به ځيني لُوی ځيني به کم وي
خو په بيه همه واړه سره سم وي

❊ ❊ ❊

د قاضي سر که تر سر د ابونصر
په بغداد کي وُ اوچت په هره لاره
خو د دهٔ تر سر بيا بل يو اوچت سر وُ
را روان د دغه ښار پر طرف باندي
دغه سر د يې زړسويه تېمور سر وُ
چي جهان يې ټول په مخه وُ اخستی
په لامبو لامبو په وينو کي روان وُ
د بغداد خلک يې ډېر و مخته تينگ شول
خو سېلاب په دېوالونو نهٔ را گرځي
هغه ننووت په قهر دغه ښار ته
لښکريانو چي يې کړې وه مېرانه
دهٔ هر يو نازول غوښت په سمه توگه
ور ته و يې کړ دا امر چي خوارهٔ شئ
د بغداد په دغه ښار کي هر طرف ته
ټول سپايان دي د دي ځاى د اوسېدونکو

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیِ یو سر له خپله خانه سره راوړي
دا سرونه به باچا له تاسي اخلیِ
سمدلاسه په ښلوېښت ښلوېښت دیناره
ده نن وړځ د اختر وړځ ستاسي دپاره

٭ ٭ ٭

د تېمور د لښکریانو دا اختر نن
بغدادیانو لره کم تر قیامت نهٔ وٓ
په تول ښار کي سر وهنه شوه روانه
هر سپاني وٓ په دې هڅه چي سر پرې کړي
دا نې نهٔ کتل چي سر دي څنګه سر وي
نن د سر او سر تر منځ فرق پاته نهٔ وٓ
هر رنګ سر چي به په لاس ورغی چا ته
د هغه ښلوېښت دیناره به کره شول
څکه هر سپاني بس لاس رساوهٔ سر ته
چا د ښځي سر اخستی وٓ په غېږ کي
چا د نر سر پرې کاوهٔ په زور او جبر
چا تېرهٔ تېغ وٓ د ځوان پر غاړه ایښی
چا اخستې په زاړهٔ پسې ورهٔ تٓوره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د عذاب او د آزار په دغه وخت کي
بغداد لاندي ؤ تر غرونه غرونه وېره
غلبلې پورته کېدې له هره ځایه
بغدادیان واړه په چیغو په غوغا وو
او بل لور ته ؤ غړومبې د تېموریانو
د هیچا دپاره ځای د امان نهٔ ؤ
تش یو څو تنه پوهان او عالمان وو
ګوره څنګه تر تېموره رسېدلي
قاضي هم په دغو خلکو کي شامل ؤ
ګوډ تېمور که ؤ هر څومره ډېرزړی
ؤ نې دوی ؤ ته امان بیا هم ورکړی

✲ ✲ ✲

هم قاضي، هم نې ملکري هلته ناست ؤ
د بغداد د خزانې خلهٔ چي شوه خلاصه
را ایستل د تېمور خلکو دینارونه
او سپایانو د خرڅلاؤ دپاره دوی ته
یو په بل پسې راوړل دلته سرونه
خوشحالي د هر سپائي به د کتو وه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې ور خرڅ به په ځلوښت دیناره سر شو
د قاضي تر زړهٔ به و ووت یو بل غشے
چې بل سر به بل سپائي د دُوی په مخکې
د سرونو و غونډۍ ته ور غوزار کړ
او په زړهٔ کې به ئې بیا بیا ویَل داسي
چې وېنا د ابونصر نن رښتیا شوه
ککرۍ ګوره وړې دي او که غټې
همه واړه په یَوه بیه خرڅېږي
په دا حال کې ئې یو ووړ غونډي سر ولید
د دا سر په زړهٔ چوونکې ننداره ئې
سترګې و ترهېدې دواړي او شوې پټې
له کتلو ئې عاجز د دهٔ نظر وُ
دغه سر د ابونصر غریب سر وُ

✲ ✲ ✲

قاضي پټې سترګې ناست وُ تر څه وخته
بیا ئې غلې غونډي زېږمي کړلې پورته
ورو ئې کسي هغه سر ته مخامخ کړل
سر ئې ولید خو له دغه لیدو پرته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه وخت دهٔ ته دا رنګه ښکارېدله
لکه غوږ چې نې هم غږ د هغه اوري
او هغه دهٔ ته وېنا کوي لګیا وي
چې نن زهٔ هم د بل هر یوهٔ سر غوندي
په بازار کې په څلوېښت دیناره خرڅ شوم
په صورت که تر دا نورو سرو ووړ یم
خو په بیه له همه وو سره سم یم
ګوره تهٔ خپل سر له ما سره کنبې نهٔ ږدې
ستا سر نهٔ راځي په شمېر کې د سرونو
لکه نن چې د سرونو بازار تود دے
بل هیڅ وخت به هم دا رنګ تود شوے نهٔ وي
خو په دې تاودهٔ بازار کې هم خرڅ نهٔ شو
دغه ستا مغروره سر په دوه دیناره
بس وېریا دي د تېمور په پښو کې کښېښوو
په تش لاس اوس د هغه دوکان ته ناست نې
ګوره څه وخت دې ایمان ور باندې خرڅ کړې
او هغه به هم ارزان ور باندې خرڅ کړې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ښمنۍ تراخهٔ

کوندي مور چې د خپل زړهٔ په وينو لوی کړ
هغه ځوان اوس د پنځو د مخ سرے وُ
خو د دهٔ دا سرلوړي د ډېرو خلکو
خوښه نهٔ وه او همېش به ئې دا غوښتل
چې ئې چرته څهٔ بلا ته مخامخ کړي
پای ئې دَے په ښمنۍ باندې اخته کړ
د بل مړے پسې واوښت او ژوندون ئې
له دې وروسته مخامخ وُ لوی خطر ته
خو دَے پوه وُ چې له پېښې تېښته نشته
او چې نشته نو که خُلهٔ بيا د زمري وي
په هغې کې هم همت کول پکار دے
مګر مور ئې سختې ويرې وه اخستې
زوی ئې نهٔ پرېښوو دې ته چې په شپه کې
پر يوهٔ ځای باندې پرېوزي تر سهار
- وه د زړهٔ ناقرارۍ نې دومره زياته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي کېږدی نې وه له خپله ځايه کښلې
دروله نې په منځ کي وه د ښتې
ترې چاپېره به وه سپينه رمه پنډه
په رمه کي به دې يو له بله لرې
دلته هلته کړل هوار ډېر بسترونه
په دې نيت چي د دې زوی د خوب دپاره
تر سهاره څو څو واره ځای بدل کړي
پر کوم ځای چي به خطر تر ټولو زيات وُ
په هغه کي به دا پرېوته پخپله
په دې هيله چي تر زُوی نې ځان قربان شي
خو د دومره ځهٔ کولو پس به بيا هم
د دې کونډي زړگے نهٔ وُ پر قراره
کله کله چي به دا په خوب ويده وه
د رمې سپے به نې هسي په غپا شو
دې غپا به دا په دا رنګه يو حال کي
کړه را وېښه چي ټول تن به نې په کپ شو
شوه له ځايه به په بله بنه پورته
لېونو غوندي به سر شوله په منډو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ویَل به ئې په چیغو په بغارو:
اے د کلي خلکو تاسي لا ویدهٔ یاست
دښمنان هغه دي راغلل زما کور ته
خلمے زوُی زما په تُورو باندي وژني
د خدای پار دے څهٔ کومک را سره وکړئ
په دې چیغو به ئې زوُی له خوبه ویښ شو
ور ولاړ به ئې شو مخي ته په منډه
په غوځي کي به ئې و نیوله تینګه
او ویَل به ئې هیڅوک راغلي نهٔ دي
زهٔ روغ جوړ دا یم ولاړ یمه ستا مخته
ساعت وروسته چي به دا په حال کي راغله
کړه ورو ورو به ئې خوله د تندي وچه
له داپس به ئې کړه تنډه د زوُی مچه

* * *

دغه کونډه، دا چي تل به ور سره وه
د دې خپل یواځیني زوُی د سر ویره
یوه شپه دې بیا د نورو شپو په رنګ وو
په رمه کي پسترونهٔ هوار کړي

کتابتون پوهنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خپل لاس ئې پر يَوهٔ باندي زُوى پرې يوست
او پخپله د رمې پر يَوه څنډه
يَوهٔ بل بستر ته ورغله او هلته
يو ګړے پټه خُلهٔ ناسته وه او بيائې
خپل سر و لګاوهٔ پاس پر بالښت باندي
ښه تر ډېره وه پرته په ځاى کي وينه
بيا يو وخت ور باندي راغله د خوب اېښمه
سره ورغلې ئې سترګي او ويده شوه
خو په خوب کي د پخوا په شان نن شپه هم
دې ليدل چيچه ربه غوندي خوبونه
وېروونکي ننداري ئې راتلې مخته
پاى په دغو وېروونکو نندارو کي
راغله دا ننداره هم د دې په وړاندي
چي د زُوى د ککرۍ څو دښمنان ئې
د رمې تر بېتي پوري وُ راغلي
او د دې د زُوى بستر ئې وُ موندلے
دغه ځوان ئې په ډېر زور وُ قابو کړے
لاس وُ ښې ئې او خُلهٔ ئې تول وُ ور ترلي
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون کوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخ ئې وُ د قبلې لور ته گرځولے
په دې نیت ئې وه چارۀ باندې را کښلې
چې په شان ئې د اختر د پسه حلال کړي
دغه خوب و لړزوله دا په خوب کې
شوه په بله بنه پورته له بستره
له جهانه او له ځانه بې خبره
د برېښنا غوندې په بیړه شوه روانه
چې په مخ کې ئې پرته وه کومه تیږه
په دوه لاسه ئې له ځمکې کړه اوچته
د دښمن پر طرف باندې شوه ور سمه
دغه وخت تر زمري نۀ وه دا په کمه
چې ور و رسېده، تیږه ئې کړه پورته
دومره پورته چې تر سر ئې بنه بالا شوه
بیا ئې زور د تول وجود سره راغوند کړ
دغه زور ئې له دې تیږې سره مل کړ
او دا تیږه ئې کړه خپل دښمن ته سمه
پر دښمن باندې ئې بنۀ دروند گُزار وکړ
دې گُزار چې په پوره توگه کار وکړ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه وخت نو کوندړه هم په حال کې راغله
چې نې وکتل دښمن چرته هم نهٔ وُ
سر د خپل ښکلي، غښتلي، ځلمي زُوی نې
تر دې توره تېره لاندې وُ کوټلے
په دا هسې لړزوونکې ننداره نې
تر خُلهٔ وختله داسې يَوه چيغه
چې نې و لړزول لاندې او هم باندې
عرش و فرش او اووهٔ واړه آسمانونه
ويدهٔ کلے ټول راويښ په دې ناوړين شو
زړهٔ د هر يَوهٔ وګړي په غم شين شو
شوه په هر زړګي کې ماته د تېغ څو که
هر طرف ته شوه غوغا او کانه کوکه
شو په حال نې خبر کور د دښمنانو
زړېده ورباندې مور د دښمنانو

✻ ✻ ✻

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د وني دړ

د یاغي علي مراد د خنجر څوکه
نن د خپل کور نازولو ته وه سمه
وو ملګري ئې په ځار ولاړ دباندي
دهٔ د خپل کور ښځې کړې په غار دننه
او په غار کي ئې تر نور هرڅهٔ له مخه
په خنجر د خپلي مور غاړي ور پرې کړې
د هغې د وينو داري شولې پورته
دَے شو تېر د خپلي ښځې و طرف ته
او ډېر ژر ئې د هغې پر ښارګ باندي
تېره څوکه د خنجر کړله ور تېره
بیا ئې لوني د ناورین په دغه وخت کي
کړلې دا رنګه حلالي لکه دَے چي
پرې کوي د خپل زړهٔ غوښي نبغ په نبغه
او ژور زخمونه خوري له خپله تېغه

❁ ❁ ❁

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یاغي علي مراد د کور دې ښځو
غاړه ایښې وه په خوښه دې ناورین ته
دا په دا چې دوی وو تول دښمن ګبر کړي
له دې غوۀ نې د وتلو لاره نۀ وه
وېره دا وه چې دا ښځې که دښمن ته
روغې پوغې او ژوندۍ په ګوتو ور شي
نو کېدای شي چې ناموس نې تاواني شي
پت نې لاړ شي د غلیم په لاس پایمال شي
او دا کار دوی په هیڅ رنګ زغملای نۀ شو
نو په دا نې ښځې تولې شوې را وړاندي
چې ځان پټ کاندي د مرګ تر څادر لاندي

* * *

ښځې و وتې په دا توګه له میانه
خو یاغي علي مراد پخپله ګبر ؤ
له دا غوۀ نې د وتلو لاره نۀ وه
د دښمن لښکر له څو ورځو راهسې
ور ته لاندي وه لمن د غوۀ نیولې
او دښمن نې څۀ ورکوتې دښمن نۀ ؤ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون نولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا د قهر او غضب هغه طوفان وُ
چي جهان بالهٔ نادر او دهٔ هغه ته
په دې نيت وُ سر اخستے چي په تُوره
پر دا هسي زوروَر کاندي مور بوره

❊ ❊ ❊

چي نې مور پر نادر باندي بوروَله
نن هغه علي مراد له بده مرغه
د نادر په لاس ژوندَے وُ ورغلے
او نادر کاوهٔ پر دې باندي اوس غور
چي دا هسي خطرناک غوندي ياغي ته
داسي کومه لړزوونکې سزا ور کړي
چي عبرت ور ځني واخلي نور وګړي
په دې حال کي يو څهٔ خلک ور ته راغلل
دغو خلکو په فرياد و ويَل دهٔ ته
چي زموږ دېر نازولي او خپلوان دي
دې ظالم علي مراد نيمه خوا کړي
نن که دَے موږ ته په ګوتو را له را کړې
چي ځانونه نې په سره وينه اُوبهٔ کړو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو دا بنهٔ به دي تمام عمر هېر نهٔ کړو

* * *

نادر و مانهٔ دا خواست د دغو خلکو
خپل دښمن علي مراد ئې په لاس ورکړ
کوم بوډا چي وُ د دغو خلکو مشر
هغه اوسپني تودې کړلې په اور کي
وو ملګري ئې ولاړ اوس په قطار کي
دهٔ به یو یو را بالهٔ د دې دپاره
چي په خپل خپل وار غچ واخلي له غلیمه
او تر تولو ئې له مخه یَوهٔ ځوان ته
ور کړ وار چي د تېرهٔ خنجر په څوکه
کړي ور پرې د دې ترلي دښمن ژبه
له دا پس ئې اجازه بل کس ته ورکړه
او هغه ئې په بنې لاس باندي لګیا شو
په ډېر جبر ئې ترې و ایستل نوکونه
بند پر بند ئې ور قلم کړې تولې ګوتې
بل یَوهٔ بیا په وړه کي لاس ور پرې کړ
په دې دول په یوبل پسې دې خلکو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


غوځول د دې دښمن له تنه غړي
او په اور سره کړې اوسپنه به وروسته
پر هر زخم باندي دُوی ایښووه داسي
چي پخه به ئې ورباندي کړله غوښه
په دې توګه به ئې وینه شوله بنده
ور ته مست به شول دُوی تول له ډېره خونده

* * *

وُ نادر په ننداره د دې مستانو
چي ئې مخته یوه ښکلې پېغله راغله
هغې و ویل چي دې علي مراد دي
زما پلار او چنغول دواړه را وژلي
زما زړهٔ هم له سرهٔ اوره ور ته ډک دے
په سزا کي د دهٔ زهٔ هم ونډه غواړم
دغه وخت که څهٔ هم ډېر څهٔ پاته نهٔ وو
د دښمن غړي تول نورو وو غوڅ کړي
خو دوې سترګي ئې لا پاته وې په سر کي
دغه سترګي شوې د دغي پېغلي ونډه
د نادر هسي هم سترګې ایستل خوښ وو

WWW.KITABTOON.COM | کتابتون پوښته

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو دا کار چي یَوې پېغلي کړ تر سره
نو دا پېغله بس د دهٔ د زړګي سر شوه
پر ناترسه ځوانی، باندي ئې مئَن شو
په عزت ئې ورکړ ځای په خپل حرم کي
دا رنګ دَے په خوشحالی، لاړ له دا ځایه
او تر شا علي مراد شو داسي پاته
چي په سرکي ئې نهٔ سترګه وه نهٔ ژبه
نهٔ ئې پښه وه، نهٔ ئې اړخ شو بدلولای
نه ئې لاس وُ په تن پوري چي ځان سم کړي
پروت وُ داسي لکه دې د یوې وني
چي بناخونه ئې وي واړه چا رېبلي
خو دننه ئې روان وو په وجود کي
د دردونو او د خوږو دریابونه
پوره دوې ورځي دوې شپې دغسي پروت وُ
تردې غرونه غرونه غرونه عذاب لاندي
پای مرګے په شان د مور ورلره راغے
ترې چاپېره ئې په مینه کړل لاسونه
دے ئې خلاص کړ له دا هسي زړهٔ چاودونه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مار سر

نهٔ ځراغ ؤ، نهٔ ډیوه وه هلته بله
خلوت ډک ؤ په تیارو او توره شپه وه
شبخ وې خپلې دواړې سترګې پټې کړې
سر نې ؤ پر ځنګنونو باندې ایښے
نهٔ نې ژبه خوځېده او نهٔ نې شونډې
پام نې ټول ؤ د خپل هغه زړګي خوا ته
چې نعره د الله هو به نې له منځه
دم په دم را رسېده د دهٔ تر غوږه
د دا هسې پټو سترګو په دوران کې
ور ته و ایسېده داسې لکه وې چې
په خلوت کې څهٔ رڼا را پېدا شوې
چې نې سر له ځنګنونو کړ را پورته
یوهٔ ځوان ؤ یو مشال ور ته بل کړے
او ولاړ ؤ په ادب د دهٔ په وړاندې
ککرۍ نې وه سر توره او پښې لوڅې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په غاړه ئې ښځه ښکلې هار وُ
هر غمې ئې لکه ستورے د سهار وُ

❊ ❊ ❊

دغه ځوان، دغه چې هار ئې وُ په غاړه
دَے د شېخ په حېرانتیا دغه وخت پوه شو
پر سینه باندي ئې کښېښوول لاسونه
او لومړے ئې په درنو او ښکلو تکو
د شېخ ښه ستاینه و کړله او بیا ئې
د خپل ځان په اړه و ویَل هغه ته
چې د کوم سړي چې ستاسي په وطن کي
دغه وخت فرمان چلیږي او باچا دے
زهٔ د دغه باچاٰ زُوی یمه او دلته
راغلم ځکه چې زیاتره باچهان هم
باچهي د ملنګانو په دُعا کړي
ملنګان دي هغه څوک چې په نظر ئې
ورانه چاره د سړي شي سمبدلای
او د دا رنګ ملنګانو تهٔ باچا ئې
نو په دا لړمه زهٔ هم له تا هیله

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي په غشي به د خپلي دُعا ولي
هغه مار چي پروت زما پر خزانه دے
که زما خزانه راغله زما لاس ته
نو هغه دم به دا هار له غاړي خلاص کړم
په خپل لاس به ئې کړم تا ته در په غاړه
شکرانه زما به ویني خلک واره

❊ ❊ ❊

دغه هار، دا چي په غاړه د دې خوان وُ
د دې نهٔ وُ هیڅ ارزښت د شېخ دپاره
خو دا ځوان، دا چي پخپله یو غمے وُ
دے د هغه مهربانه باچا زُوی وُ
چي اولس ور ته کتل د پلار په سترګه
او پر شېخ باندي هم ګران لکه ایمان وُ
نو په دا ور ته دا نهٔ ښکارېده سمه
چي د دغسي باچا د زُوی زړهٔ مات کړي
کړل ئې ځکه هغه دم لاسونه پورته
په اخلاص ئې ویَل دا چي لویه خدایه
دا کوم مار چي د دې ځوان دپاره خند دے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون آنلاین

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه خند کړې تهٔ د دهٔ له مخه لري
دَے خو نهٔ لري دا وس چې په خپل لاس نې
سر ور و کوتې او ځان ور ځنې خلاص کړي
تهٔ قادر نې، ته سبب ور ته پېدا کړې
د دې خوار دغه دښمن ور نیمه خوا کړې

❀ ❀ ❀

دا دُعا چې پای ته و رسېده بیا نو
د باچا زُوی په ډاډه زړهٔ لاړ تر کوره
او په کور کې نې شمېرلې شپې او ورځې
وه نې دې ته تلوسه چې څهٔ به کېږي
او چې کېږي نو هغه به کله کېږي
په دا خیال کې وُ دَے ورک چې په وطن کې
یوه داسې لړزوونکې پېښه و شوه
چې په غم نې د اولس د هر وګړي
تر زړهٔ و ښځېدې سرې کوتلې وینې
پېښه دا وه چې د دې خلکو له سره
سیورے پورته شو د هغه ستر وګړي
چې باچا وُ په خرګنده د دې خاوري

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو اولس ور ته کتل د پلار په سترګه
دغه پلار، دغه باچا د دې وګرو
خپل ډېر مست تکني آس د ښکار په ځای کي
ډېر په بده توګه و غورځاوۀ لاندي
ککرۍ ئې برابره شوه پر کاني
چي نور څوک ور رسېدل نو دَے بیا مړ وُ
په ماغزو ئې نزدې هر کاني ککړ وُ

* * *

ککرۍ چي د باچا کړه اجل ماته
نو اولس په یَوه خُلهٔ د دهٔ پرځای کړ
د دهٔ زُوی د باچهۍ دپاره غوره
چي کوم شېخ وه دې خُلمي ته دُعا کړې
وُ هغه را غوښتے دُوی د دې دپاره
چي د تللي باچا دغه ځوان وارث ته
پر سر باندي پاته شوے تاج ور کښېږدي
او اعلان د باچهۍ ئې دلته وکړي
د باچا زُوی چي د شېخ مخي ته راغے
نو په غاره ئې همغه ښکلے هار وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوم چي شېخ په خپل خلوت کې وُ لېدلې
شېخ چي تاج د دهٔ پر سر باندي ور کښېښوو
او په لوړ آواز ئې دغه اعلان وکړ
چي له ننه پس به دا زموږ باچا وي
نو دې نوي باچا هار له غاړي خلاص کړ
او په خپل لاس ئې کړ شېخ ته ور په غاړه
شېخ چي سترګي پر دې هار کړلې کراري
تن ئې و لړزېد له سره بیا تر نوکه
د تېر وخت هغه دُعا ئې شوه ور یاده
چي ئې کړې په اخلاص وه دغه ځوان ته
هغه وخت دَے په دې نهٔ وُ پوهېدلے
چي د ځوان په وړاندي اصل خندنه شے دے
مګر نن چي د خپل تاج په خوشحالۍ کې
باچا دغه شکرانه ورکړه نو پوه شو
چي دا دهٔ چي د دُعا په هغه کاني
کوتل غوښت نو هغه سر نهٔ وُ د مار سر
دې د تاج وړي ته خندنه وُ د خپل پلار سر

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ایره

د وګړو وه وړه شان يَوه ډله
دا وړه شان يَوه ډله ګوره څنګه
وه تر هر يَوهٔ ځنګل ور تېره شوې
او د هر ځنګل په ها خوا چې ځنګل وُ
تر هغه پورې نې ځان وُ رسولے
په دا هسې يَوهٔ ډېر لرې ځنګل کې
چې اباد کوم ډول ډول ځناور وو
رنګ رنګ ژوې او رنګ رنګ بلا بتر وو
وو له دوی سره هغه د جنګ په حال کې
او د جنګ په دغه حال کې داسې حال وُ
چې هغو هم ځان ساتهٔ د دُوی له واره
دُوی به هم کول همېش تر خپله وسه
له هغو د ځان ژغورنې تدبيرونه
په دا هسې تدبيرونو کې يو دا وُ
چې په دُوی کې چې به ملر چرته چا مړکړ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


له وژلو پس نې اچاوهٔ په اور کې
په دې نیت چې په سوځلو نې ایره کړي
او ایره نې بیا په پښو پورې مښله
په دې رنګ به نو د دوی په عقیده بیا
د مار خُلهٔ پر دغه چا باندې وه بنده
که په کور که په ځنګل کې به روان وٌ
یو خو شپې به له مارانو وو بېغمه
مګر دا بېغمي هم بېغمي نهٔ وه
د مار وېره که به لږ غوندې شوه کمه
نور به وو ډېر ژوندي سري داسې پاته
چې د دوی و ژوندانهٔ ته به بلا وو
په دا هسې ژوندي سرو کې تر ټولو
تاوانې د دوی دپاره انسانان وو
انسانان که څهٔ هم دلته نژدې نهٔ وو
خو ناڅاپه به نې خدای خبر له کومه
کله کله په دې خوا پېښه را وکړه
مخامخ چې به شول دوی ته نو به جنګ وٌ
هم به دوی هم به هغوی په وینو رنګ وٌ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


له انسانه چې دا خلک داسې تنګ شول
نو تول خپل هغه سپين ږيري لره راغلل
چې نيکهٔ به بالهٔ دلته نر او ښځې
په دې هيله چې هغه به دا وخت دُوی ته
د انسان د مخنيوي څهٔ چل ور زده کړي
نيکهٔ و ويَل چې دا خو ګرانه نهٔ ده
چې کوم کار تاسې د مار له ايرې اخلئ
د انسان له ايرې هم هغه کار واخلئ
وژل شوے انسان و سوځئ په اور کې
بيا ايره د هغه کړئ سره را غونډه
په خپل تن پوري ئې و مږئ نو دا به
د انسان لاسونه و تړي درباندې
بيا به نهٔ وي څهٔ خطر ستاسې په وړاندې

* * *

د انسان د مخنيوي چل چې ئې زده کړ
نو دُوی غوښت چې اوس ايره کاندې تر لاسه
يَوه ورځ بيا د همدې خلکو له ميانه
درې وګړي وو په ښکار پسې وتلي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دُوی یوکس ولید چې سپور وُ پر آس باندي
له ملګرو ګوره خنګه وُ بېل شوے
وه نې مخه چپه شوې او روان وُ
نهٔ ګودر ور ته معلوم وُ او نهٔ لاره
چې د دُوی وربانديې و لګېدې سترګې
ور ته سم نې کړل خپل غشي او هغه نې
رنګ په وینو داسې واچاوهٔ له آسه
چې د ژوند مرغۍ نې والوته له لاسه

* * *

چې ښکاریانو ته په لاس ورغے مرے
ژر نې وسواځهٔ په اور کې او ایره نې
یو ځهٔ پټه کړه د بل مهال دپاره
او دا نوره نې همدغه ساعت دلته
په ځانونو پوري و مُښله تولـه
دُوی لا دلته په ایرو لړلي ناست وو
چې د دغه وژل شوي کس په لټه
تر دې ځایه پوري نور وګړي راغلل
هغو ولیدل چې سر نې د ملګري

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يَوهٔ اړخ ته دے پروت او تن ئې نشته
آس ئې دے په يوهٔ ښاخ پوري تړلے
په لېدو د دې ناورين اور باندي بل شو
کوم درې تنه چې وو ناست دلته ايرو ته
شول هغو ته لېوني له ډېره قهره
پرې ور سمي ئې کړې ژر خروړي تُوري
دوه ئې کړل په هغه ځاى کي نوکي نوکي
خو دريم په تېښته کړه ککرى خلاصه
هغه يوور دا خبر تر خپلو خلکو
خلک واړه د خبر په اورېدلو
په تازيله د نيکهٔ مخته را غونډ شول
او نيکهٔ ويل چي موږ وو تېروتلي
د انسان ايره د مار تر ايرې پوه ده
هغه فرق کوي په خپل او په پردي کي
دے زموږ وکړو سر څکه خوړلے
چي مبتلې ئې په ځان پوري وه هلته
د دښمن د تن ايره او له هغې نو
هيله نهٔ وه چي د دوى ژغورنه وکړي

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ژغورني کار ايره د خپلو غواړي
خپل د خپل ننګه کوي هم باندي ژاړي

❃ ❃ ❃

که د خپلو په ايره کېده ژغورنه
نو د دُوی اوس د چا خپل ايره په کار وه
دا په دا چي شا ځلمي ئې تلو روان وو
په لټون د خپلو هغو دښمنانو
چي دوه تنه ئې په دُوی کي وو وژلي
پرېکړه وشوه چي د دغه کار دپاره
د نيکهٔ له ايرې کار اخستل غواړي
چي ئې هسي هم خپل عمر دے خوړلے
بس بيا ژر وُ نيکهٔ خوار قرباني شوے
د سوځلي تن ايره ئې هر ځلمي وه
په بنه توګه په وجود پوري مبلې
په دې زغره کي په لُوی زړهٔ اوس روان وُ
سر راوړل د خپل دښمن ئې لُوی ارمان وُ

❃ ❃ ❃

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# زړ سوے

چنگېز اورېده په خوند، په مينه مينه
چي د دهٔ د لښکريانو يَوهٔ مشر
په سرو وينو سره قصه ور ته کوله
او ويَل ئې چي زما تر کمان لاندي
چي سرتېري وو هغه واړه لګيا وو
ککرۍ ئې د وګړو ور کوټلې
په وژلو هر يو پړانګ وُ يا زمرے وُ
خو په تولو کي دا رنګه يو هم نهٔ وُ
چي ئې لاس زما د لاس په شاني دروند وي
په دا وخت چي وو لګيا خومره لاسونه
زما لاس تر هر يوهٔ زيات ورانے وکړ
د نېزې په ګام روان ومه په وړاندي
دا مي نهٔ کتل چي دا مهال مي مخته
د چا سر دے، که سينه ده، که لړمون دے
بس ايسته مي تر هر څهٔ د نېزي څوکه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون پـښـتـو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مستۍ او د سرور په دغه حال کي
تلمه تلمه مخ په وړاندي تلم روان وم
تر دې حده چي ښهٔ غټ غونډي يو کور ته
ور دننه شومه سره نېزه په لاس کي
دغه کور چي وړاندي هم په وېره ډک وُ
اوس له ما سره يوځاى شوه ور دننه
نوره غرونه غرونه غرونه غرونه وېره
د کور لُوى او واړهٔ تول په يَوهٔ کوټ کي
يو له بله سره دا رنګه وو غلي
لکه سا چي وي د هر يَوهٔ ختلې
پلار ئې وُ خو ماشومان ئې بې اسرې وُ
مور ئې وه مګر وزرې ئې وې ماتي
وس ئې نهٔ درلود چي خپل دغه بچوړي
له شهبازه کړي خوندي تر سينې لاندي
ما ئې پېل له ماشومانو ښخه وکړ
خومره خوند، خومره مزه وه په دا کار کي
شوه نېزه به د ماشوم په تن کي ډوبه
زور زخم به د مور په زړهٔ کي جوړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بچي ورکوټې سر به ئې سوَرې شو
څڅېده به ئې د پلار تر مغزو وينه
په دې رنګ چې مي اولاد واړه ور مړ کړ
نو مي مخ کړ بيا د مور او پلار طرف ته
دوُی مي هم د خپل خپل تن په وينو سرهٔ کړل
په ناوړه طريقه مي دواړه مړهٔ کړل

✲ ✲ ✲

چنګېز اورېده په خوند، په مينه مينه
چي د دهٔ د لښکريانو يَوهٔ مشر
په سرو وينو سره قصه ور ته کوله
او وېَل ئې چي مي کار کله تمام شو
نو ما ژبه کړه پر هغه وينه تېره
چي پرته وه د نېزې پر څوکه باندي
او روان په اراده شوم د وتلو
چي وتمه نو يو بل لور ته مي پام شو
پروت يو ووړ غوندي ماشوم مي هلته وليد
دې ماشوم کتل زما پر طرف باندي
او خوره ئې وه مسکا پر ورو شونډو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما زړهٔ ئې ښو وژلو ته لېواله
د دا نوي ښکار په لور باندي ور غبرګ شوم
ور ته و مې کتل ښهٔ د دې دپاره
چي په کوم ځاى ئې نېزه کړمه ور ښخه
چي د زيات نه زيات خوند واخلمه ورباندي
په بدن کي ئې تر ټولو ښکلې برخه
وره خُلهٔ دغه مهال ما ته ښکاره شوه
او نېزه مي دغي خُلې ته کړله سمه
په ورو ورو مي ئې تېره او نرۍ څوکه
د ماشوم تر ورو شونډو پوري ور وړه
ماشوم و ګڼله دا چي د مور تَے دے
د نېزې څوکه ئې وينوه په خُلهٔ کي
سمدلاسه ئې لګيا شو په رودلو
په دې او سپنه کي وې شودې له کومه
مګر دَے ئې په څېښلو باندي بوخت وُ
دغه هسي ننداري مې زړهٔ نرے کړ
دا لومړے ځل وُ زما په ژوندانهٔ کي
چي مې زړهٔ پر يو ښوسه باندي وسو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خیال مې راغې چې ژوندې نې دلې پرېږدم
مګر دا زړسوې تر ډېره پاته نهٔ شو
په دا بله شبېه ببرته په غضب وم
پر نېزه باندې مې راوړ زور د متو
شوه نې څوکه د ماشوم په خُله دننه
او تر څټ نې پورې و وته بې څنډه
بس قصه د ژوندانهٔ مې کړه ور لنډه

* * *

چنګیز اورېده په خوند قصه تر ډېره
مګر اوس د لښکریانو د دې مشر
په خبره باندې وسو په دا رنګه
لکه چا چې وې سور اور پورې نیولې
په دې نهٔ چې دا ماشوم نې ولې مړکړ
چنګېز دې خبرې و لړزاوهٔ دومره
چې د دهٔ د لښکریانو د یو مشر
زړهٔ د چا پر ببوسې څهٔ لره خوږ شو
چې د چا پر ببوسې نې زړهٔ خوږېږي
په لښکر کې هغه څوک لکه ناسور وي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د زړ سوي د دغه جرم سزا داسي
چنګېز ور کړله دا وخت دغه سړي ته
چي نېزه ئې د هغه له لاسه وکښه
تېره څوکه د هغې ئې د دهٔ خُلې ته
کړله سمه او ورو ورو ئې ور نژدې کړه
کړه دننه ئې د دهٔ د شوندو منځ ته
ور ته و ئې وېَل دا چي اوس نو تهٔ هم
داسي و ګڼه چي دا دي د مور تے دے
سمدلاسه ئې لګیا شه په رودلو
او هغه چي په رودلو باندي بوخت شو
نو چنګېز بیا خپل قوت سره را غونډ کړ
پر نېزه باندي ئې ور وړ زور د متو
نېزه شوه د دا سړي په خُلهٔ دننه
او تر څټ ئې پوري و وته بې ځنډه
شوه قصه د ژوندانهٔ ئې داسي لنډه

* * *

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# درېم زوی

کومې پېغلې چې وُ زړهٔ ور خخه وړے
دهٔ و دې ته رَے واهۀ چې په څۀ چل به
هغه ښکلې نازولې کاندې خپله
په دې حال کې يو ملنګ ور باندې راغے
هغه تم شو او د دهٔ تندې ته ځير شو
بيا ئې و وېَل چې ځوانه ډاډه اوسه
چې دا کوم کار ته ئې تۀ انديښنو وړے
دغه کار به دې ژر و رسېږي سر ته
ځوان په دې خبره باندې شو خوشحاله
ورو ئې و وېَل له ځانه سره داسې
چې د دې خلکو نظر تر آسمان وزې
هغه څۀ په سترګو وينې کوم چې پورته
د تقدير پر تخته باندې دې ليکلې
دا چې څۀ ئې اوس وېَل زما په باب کې
همداغه رنګه به کېږي که خداې کاندې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د خدای و کړو ته ګوره چې دهٔ غوښته
هغه پېغله ئې رښتیا د کور مېرمن شوه
څهٔ وخت وروسته ئې په کور کې زُوی هم وزوو
دغه زُوی چې ئې روان شو په خاړپوڅو
نو د ژوند پر لویه لار باندې بیا دهٔ ته
چرته هغه ملنګ ورغے په مخه
هغه بیا یو ځل د دهٔ تندي ته ځیر شو
او ویَل ئې چې اے ځوانه تهٔ پوهېږې
چې د هر سړي د مرګ یو څهٔ سبب وي
ستا د مرګ سبب به ستا خپل زُوی جوړېږي
تهٔ به مرې کله د خپل بچي له لاسه
دې خبرې سَړے و غورځاوهٔ اور ته
د جنت په رنګه کور ئې جهنم شو
خپلې ښځې که به هر خومره داډ ورکړ
د دهٔ زړهٔ دا رنګه نهٔ وُ چې داډه شي
تل به ناست وُ پرېشانه پرېشانه
او په دا پرېشانۍ کې باندې راغله
هغه شپه چې د دهٔ زُوی وه ګوره څنګه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون هوتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سا ور کړې او مړ پروت ؤ په ځانګو کې
په لیدو نې و خوړ مور پر زړګې غشے
خو د پلار غم نې تر مور لا هم سیوا ؤ
چې له ژونده نې دَ ے څومره ؤ په وېره
په مرګې نې تر هغه هم زیات خوږمن شو
دغه خوږ نې ایله هغه مهال کم شول
چې یو بل زُوی غنې خدای ور لره ورکړ
دغه زُوی نې تاریک کور لره څراغ شو
مګر دغه څراغ هم د دُوی په کور کې
بل تر ډېرې مودې پورې پاته نهٔ شو
دا هلک هم د خپل مشر ورور په رنګه
یَوه شپه وه په ځانګو کې سا ور کړې
او د دهٔ ښځه چې بیا شوله زُوی مړې
نو به دې ته وه همېش اندېښنو ورې
چې دا کوم یَوهٔ آفت دغسې سمه
ده د دې د ځانګو لاره پېژندلې
او بیا کله چې درېم زُوی هم خدای ورکړ
اندېښنې نې نورې هم تهٔ زیاتېدو شوې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


یَوه شپه بیا شپه وه ډېره تېره شوې
شو خاوند د دې را ویښ له خپله خوبه
چې ئې اړَخ بدلاوهٔ په دغه وخت کې
اندېښنه شوه ور پیدا چې نن تر اوسه
په ځانګو کې د دهٔ زوی ژړلي نهٔ دي
هسي نهٔ د خپلو دوو ورونو په رنګه
د مرګي په خوب ډَے هم وي ویدهٔ شوے
په دې نیت ئې و ځانګو ته ور ولاړ شو
چې دا و ګوري چې مړ او که ژوندے دے
چې ور چوغ شو نو په لړ وخت کي دننه
دروند ګُزار د شا له خوا ورباندي و شو
یو خنجر ئې د وړو په منځ کي ډوب شو
د خنجر دغه ګُزار دا هسي دروند وُ
چې را ولوېد ډَے پر مځکه باندي لاندي
کړ ئې ښځي ځراغ بل په دا تیارهٔ کي
او پخپله شوه را وړاندي د دهٔ مخته
په سرو وینو سور خنجر ئې وُ په لاس کي
دهٔ نیمزالي غوندي سترګي کړې ور پورته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هغې ور ته ویَل چې په دې کور کې
تا زما دوه ماشومان وُ را وژلي
او اوس بیا په دې تیارهٔ کې و ځانګو ته
لکه غل وې ور روان د دې دپاره
چې دریم زوی ته مې هم کړې سا ور بنده
مګر دا ځل نو زهٔ وم در ته بېداره
ستا خپل سر دغه دے لاړ په دغه لار کې
خو دا سر دي د خپل زوی له لاسه نهٔ ځي
د ملنګ خبره و ګوره درواغ شوه
تهٔ زما له لاسه درومې بل جهان ته
په جواب کې نې مېرهٔ په ماته ژبه
دا ویَل ور ته چې تا ته خو غریبي
دا وړه خبره هم معلومه نهٔ ده
چې ستا یو زوی لا هم ما وژلے نهٔ دے
تهٔ به ځهٔ د ملنګانو په حال پوه شې
ملنګان خو د خدای هغه بندګان دي
چې نظر ئې تر اووهٔ آسمانه وزي
هغه ځهٔ په سترګو وینې کوم چې پور ته

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تقدیر پر تخته باندي دي لیکلي
چي زما په باب ني هر څهٔ وو ویَلي
هغه تول دا دي رښتیا شول ته نې وینې
زهٔ که مرم نو ستا له لاسه دا وخت نهٔ مرم
ستا خو زهٔ د سترګو تور د زړګي سر وم
څوک خنجر وهي د خپل زړګي په سر کي؟
زما خپل زوُی که دا وخت په منځ کي نهٔ وای
نو زما وینه تا چرته بهبوله!
که هر څو هغه خنجر دے ستا په لاس کي
چي زما د تن په وینو دے لړلے
مګر زهٔ په دې پوهېږم چي دا ویني
په سبب زما د خپل زوُی دي رواني
تهٔ په دې کي ګرمه نهٔ ني زما ګراني

❋ ❋ ❋

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بلا پر بلا واوښته

نادر ځکه ناقراره وُ چې نن نې
د خنجر او غوښې لوبه کړې نهٔ وه
نهٔ جلاد د يو ژوندي انسان له تنه
د هغه پوست وُ ايستلے د دهٔ مخته
نهٔ پخپله دهٔ د خپل خنجر په څوکه
د چا دوې سترګې را کښلي وې له سره
نهٔ نې دغه رنګ په سرو وينو لړلې
کومه بله چاره وه تر سره کړې
په دا هسې پيکه ورځ، يې خونده وخت کې
په ژړا يو فريادي دهٔ لره راغے
چې حاکم د کرمان ډير وُ ځورولے
مال او مځکه نې په زور وو ترې اخستې
دا نې هم ور ته ويلي وو په ډاګه
چې که چرته پاس پر خپلو وږو باندې
نادرشاه افشار هم سپور-راولې . دلته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو لټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


تهٔ به بیا هم له ما شے نهٔ کړې تر لاسه
که د ځان په بنه پوهېږې نو ځان باسه

* * *

د نادر چي شوه تر غوږ دغه خبره
نو پر تن باندي ئې اور د قهر بل شو
ژر ئې واړوله پښه پر خپل آس باندي
او له دغه فريادي سره روان شو
بې له ځنډه د کرمان پر طرف باندي
چي کرمان ته ور نژدې شو نو له آسه
شو را کوز او د يو عام سړي په رنګه
ور دننه شو په ښار او ساعت وروسته
سپور د هغه فريادي پر وړو باندي
د کرمان د حاکم مخي لره راغے
د حاکم چي باندي و لګېدې سترګي
پنډ بدن او لنډ مغزے ئې په خولو کي
شول لاندهٔ خيشتهٔ او ډېر زيات وارخطا شو
زړهٔ ئې کانړے وُ خو دا وخت په درزا شو

* * *

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې نادر د فریادي له وړو څوړ شو
نو تر شا ئې سړي هم ور پسې راغلل
سړي راغلل خو چا سپوڼ وهلای نهٔ شو
ټول غوږ غوږ وُ د نادر د خُلې وینا ته
چې وېل ئې جلادانو ته په زوره
چې حاکم د کرمان څان دے بنهٔ چاغ کړے
چې اخستے ئې له خلکو دے په زوره
هغه مال ورباندي بنهٔ دے لګېدلے
ډېره شوې ئې هم وازګه ده هم غوښه
ور ته و ګورئ وجود ئې څومره پنډ دے
په څهٔ چل ئې دغه وازګه کړئ ور ویلي
په څهٔ رنګ ئې دغه غوښه کړئ ور کمه
دغه پنډه بدنه ئې تراشل غواړي
دا وَر و تراشئ او دے یو څهٔ نرَے کړئ
اوس خو سمدم غوړیے بنکاري، دا سرے کړئ

❊ ❊ ❊

دے نادر وینا چې و رسېده پای ته
جلادان په یته خُله په کار لګیا شول

کتابتون پښتو (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو نادر ته چي کوم کس وُ فرياد وړے
هغه وَ غوښت اجازت د څهٔ ويلو
او دا هسي اجازت چي ور ته و شو
نو ني و ويَل په ډېر ادب باچا ته
چي که دا حاکم رښتيا سړے کول وي
نو دا سر ني هم ورو ته ډېر نزدې دے
د بدن او سر تر منځ ني مغزے ورک دے
که ني سر او بدن کړې لږ سره لري
نو ښکلا به ني بالا او يو په دوه شي
تهٔ به و ګورې ډېر زيات به ښايسته شي

✽ ✽ ✽

نادر واورېده د دې سړي خبره
خو پر ځاى د دې چي دهٔ ته جواب ورکړي
دَے د هغو جلادانو کار ته ځير شو
چي سورَے ني په دېوال کي وُ جوړ کړے
د سوري له جوړولو پس ني هلته
دوه ښهٔ مست غوندي غوايي وو راوستلي
دا غوايي وو د دېوال يَوهٔ طرف ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل طرف ته ئې حاکم د کرمان ناست وُ
او لوېدلي ئې وو سر ته تناوونه
تناوونه تر سوري وو ایستل شوي
په غویو پسي حاکم وُ ترل شوے
په دې نیت چي د غویو په زور به دَے اوس
تر دې تنګ سوري د دې دپاره باسي
چي زیاتي غوښي ئې ژې د سوري یوسي
دغه حال چي حاکم ولید په فریاد شو
خو غوایي په فریادونو څهٔ پوهیږي
شول روان او دَے ئې هم ور پسې کش کړ
په تناو ترلے سر ئې برابر شو
د دېوال هغه سوري ته او ترې و ووت
خو ورې ئې تر سوري وې زیاتي پلني
هغه نهٔ شوې په سوري ننوتلای
غوايي ډېر زيات زورور وو او روان وو
د دهٔ سر ئې کشاوهٔ او د دهٔ غاړه
اوبېدېدله، اوبېدېدله، اوبېدېدله
تر څویوری چي ئې بلې، پوست او رګونه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوږدېدے شول تر هغو پوري اوږدهٔ شول
چي ئې پاى د اوږدېدلو حد تمام شو
نو په ډېره لړزوونکې غوندي توګه
دغه سر له خپله تنه را جلا شو
بدنه ئې د دېوال شا ته شوه پاته
سر ئې ولوېد د نادر د سترګو مخته
نادر وينو او پرې شوو پوست او پلو ته
په خوند خوند يو ساعت و کتل او بيا ئې
سترګي پورته کړې د هغه کس طرف ته
چي فرياد ئې وُ تر دهٔ پوري ور وَړے
او هغه ته ئې وېَل چي زما کار خو
لکه ما چي غوښت هغه رنګه و نهٔ شو
پنډ بدن يې شو هغه رنګه پنډ پاته
مګر ستا د زړهٔ ارمان دا دے پوره شو
سرئې دا دے له بدنه شو را لري
تا چي غوښت په هغه رنګه ښايسته شو
ور ته و ګوره ښايست ئې يو په دوه شو

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خوب

د غرو منځ دے، نرے باد او سړه شپه ده
موږ رتلي تول تر اور چاپېره ناست یو
په رڼا کې د دې اور بڼۀ سره وینو
مخامخ یوه بوډۍ ده ما ته ناسته
مخ ئې واړه لاندي شوے دے تر ګونجو
تول وېښتان د سر ئې سپین لکه ورۍ دي
اندامونه ئې په تن دي داسي پوري
لکه وي درانۀ لرګي پوري تړلي
د مجلس د نورو غړو په شان دا هم
مخامخ ده مدام غم ته پاته شوې
زړۀ د دې و مخته ګورمه او وایم
چي خدای واک د جهان څله زورور ته
په هر حال کې ورکوي چي دا هم ویني
چي هغوی په زړۀ تر کاني لا هم سخت دي
ختي ویني د خوارانو د زخمونو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


که د دُوی پر ځای د دغه جهان واکي
داسي خلکو ته په لاس ور لره ور کړي
چي د دغي بوډی رنګه وي خوارځواکه
نو دا مځکه به شي ډکه له زرسویه
هم به زور هم به زیاتے له منځه ورک شي
د ځپلو انسانانو بار به سپک شي

* * *

مور رتلي تول تر اور چاپېره ناست یو
زما شا ته چي پرته ده کومه تیږه
ما هغې ته لګولې ده اوس ډډه
د بوډی دې ګونجي ګونجي مخ ته ګورم
او ورو ورو مي را درنېږي دواړي سترګي
پای مي خوب رسوي داسي یَوهٔ ځای ته
چي په ژبه ئې بیان کېدلای نهٔ شي
انسانان د جهان تول په یو مېدان کي
دي ولاړ لاس پر نامهٔ د خدای په مخکي
دُوی ئې اوري ډېر په شوق چي پاک رب وایي
بدلېدونکي دي ځایونه د وګړو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


زوروَرو ده ډېر وخت باچهي کړي
اوس به ځای د دُوی بېوسه خلک نيسي
د جهان تخت چي دا وخت ورکول کيږي
هغه چا ليدلي ډېري ټک سرې دي
ګُزارونه ئې خوړلي ککرې دي

❀ ❀ ❀

چي پېغام د ښنتن واورېدل شو بيا نو
زهٔ او خلک يو ولاړ انتظار باسو
چي و چا ته به اوس واک ور سپارل کېږي
دغه وخت را څرګندېږي پر تخت باندي
هماغه بودې چي اوس اوس د اور ښنګ ته
مخامخ وه ما ته ناسته په مجلس کي
دي خوارځواکه شان وجود ته خلک واړه
خوشحالېږي تر حد زيات او هر يو وائي
چي ربښتونے انقلاب دغه دے راغے
هم به زور هم به زياتے له منځه ورک کړي
د ځپلو انسانانو بار به سپک کړي

❀ ❀ ❀

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې خوارځواکه شان بوډۍ ته اوس خدای وایي
چې ما واک له زوروره دا دے واخست
د جهان واکي مي تا ته په لاس درکړې
وي دا خلک به اوس ستا تر فرمان لاندي
ستا د نوري اسانتیا دپاره دا هم
زهٔ کولای شم چې دُوی که په دا شکل
په قابو کي چرته نهٔ شي را وستلای
نو بیا تهٔ چې نې په هره بنه غواړې
زهٔ به دُوی کړمه هغسي همه واړه
باچهي باندي کوه په هسکه غاړه

* * *

بوډۍ اوري د لوی خدای وینا په غور
او بیا وائي: تر تا جار شم پاکه ربه
زهٔ چې غواړمه دا خلک په کوم شکل
هغه دا دے چې په خپل قدرت دُوی واړه
کړه بدل په رنګا رنګ بنکلو کوترو
قادر خدای کړي مي ور پوره بې له څه ځنډه
د بوډۍ دغه ارمان او سمدلاسه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کوترو انسانان واړه بدل شي
په الوت تول ګرځي په هوا کي
زهٔ هم رب کوتره کړے يم خو ناست يم
تر ښبو لاندي مي يې ساريه مناره ده
آسمان وينم، مځکه هم را ته ښکاره ده

* * *

چي وګري په کوترو تول بدل شي
له دا پس بوډۍ ته بيا قادر خداى وايي
چي اوس تهٔ خوښوې کومه ښه ځان ته
بوډۍ وايي چي بس ما داسي پيشو کړه
چي هر نوک او هر يو غاښ يې د زمري وي
او لري داسي درنې کلکي وزري
چي الوت ته يې بازان وي حېران پاته
خداى د دې دغه خواست و مني او دا شي
سمدستي وزر لرونکې پيشو جوړه
زهٔ حېران شم چي په څهٔ خوارځواکه تن کي
وه څه ډول يوه ستره بلا پټه
تر زمري يې لاهم مزې ښکاري ښته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو ولنه

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا بودی چي شي دا هسي پيشو جوړه
نو ژر ټک وهي خپل دواړه وزرونه
په الوت الوت شي پورته په هوا کي
د کوترو په سېلونو شي ور ګډه
ور غوټه شي اوس پر دې کوتره باندي
اوس په هغي پسې و غورځي په قهر
دا تر سر، هغه را و نيسي تر غاړه
د دا بلي په سينه نوکونه ښخ کړي
په دې توګه تول سېلونه تِت پرک شي
غم اخستې وي د ځان هره کوتره
ويني ښاخي او بنکي لاندي لوېږي
په دې حال کي پيشو مخ کړي زما لور ته
خُلهٔ کړي وازه او نوکونه را ته سم کړي
او له ما د الوتلو چل هم هېر شي
کړمه چيغه او تر اور چاپېره خلک
ژر را و غورځي او تول تر ما چاپېر شي
زهٔ شم ويښ، بدن مي تول په خولو لوند وي
هر اندام مي لکه غر دا هسي دروند وي

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون تـولـنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رندو ګزار

دا همه واړه کارونه د نصیب دي
چي ته ناست ئې د سرو زرو پر تخت باندي
خو زما پښې او لاسونه دي ترلي
او پر غاړه باندي پروت یم د دې کندي
لږ ساعت پس به ژوندے دلته کي ښخ شم
له جهانه به مي پټي شي دوې سترګي
ته به پاته ئې د دغه تخت د پاسه
چي څه وخت وړاندي په دې وُ خالي شوے
چي څښتن ئې وُ تول عمر بې اولاده
کومه ورځ چي له فاني دنیا روان شو
نو تر شا ئې څهٔ ولي او وارث نهٔ وُ
تخت ئې پاته شو خالي او وارث نهٔ وُ

✲ ✲ ✲

بې وارثه چي باچا تر دنیا تېر شو
او اولس ته دا خبره شوه ور پاته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پخپله ځان له و ته‌اکي خپل مشر
نو ني خلک په دې نيت سره را غونډ شول
چي پر دغه چاره باندي غور وکړي
خو دا چاره څهٔ اسانه چاره نهٔ وه
تر ډېر غور وروسته هم د دې وکړو
جوړه را نغله پر دغسي سر باندي
چي په وياړ سره دُوی تاج وای باندي اِيښے
په دا هسي يوهٔ حال کي نو بيا خلکو
د خپل دود او د رواج له مخه ورکړه
خپلو ټولو نجوميانو ته بلنه
چي هغوي دي د خپل علم په رڼا کي
بيان وکړي چي تمام اولس ني واوري
ده په څهٔ کي نېکمرغي د دغي خاوري

✲ ✲ ✲

چي خبره نجوميانو ته شوه وړاندي
هغو و لګول خپل خپل حسابونه
تر حساب وروسته ني و ويَل اولس ته
چي د شپې په وروستي برخه کي به نيسئ

(WWW.KITABTOON.COM) كـتـابتـون مـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نن د ښار دروازې لاندي تر ثارني
سهارګاه چي کوم سرے تر تولو وړاندي
د دې ښار په دروازه شي را دننه
هغه راولئ او تاج پر سر ور کښېږدئ
په درنه توګه ئې و خېژوئ تخت ته
واک ور و سپارئ د خپلي پاکي خاوري
باچهي ئې په اخلاص کړئ تول قبوله
په امان به شئ له غمه او له نوله

❊ ❊ ❊

چي وېنا د نجومیانو ئې تر غوږ شوه
نو بیا خلک هغه شپه سترګي په لار وو
دروازې د ښار وې لاندي تر ثارني
د سهار سپېدې چي کله په چاودو شوې
ته په حبث د لاروي لومړے کس وې
چي د ښار په دروازه شوې را دننه
پر وږو باندي دي بار د ستوماني ؤ
تر پښو لاندي دي راوړي وې تناکي
دا تناکي اے ستومانه لارویه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړې قسمت په ملغلرو در بدلې
د سهار د پلوشو سره نن یو ځای
ستا په ژوند کې هم رڼا شوه را څرګنده
د خوارۍ تاریکه شپه دې شوه تمامه
بې لښکره، بې یرغله درته اېل شو
یو سر تېرے شان اولس او په اخلاص ئې
تاج و تخت د وطن و سپارل و تا ته
که ئې سرۀ وو که ئې سپین، که ئې لښکري
د همه وارو اختیار ئې تا ته درکړ
د خپل تول کاروان مهار ئې تا ته درکړ

❊ ❊ ❊

چې مهار د خپل کاروان ئې په لاس درکړ
تۀ په دې نۀ پوهېدې تر ډېره وخته
چې دا هر څۀ دې یو خوب او که رښتیا دي
په ورو ورو چې دې یقین ور باندې راغے
نو بیا تا هم شاهانه لاره کړه غوره
تر هر څۀ وړاندې دې و کړ دغه امر
چې یو داسې محل جوړ شي ستا دپاره
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي ئې سارے چرته نهٔ وي په جهان کي
ستا د دې باچهي امر په رڼا کي
ستا اولس د دې درنې چارې په اړه
يو ځل بيا له نجوميانو تپوس وکړ
نجوميانو هم په کار کړې ګوتې پورې
تولو و لګول خپل خپل حسابونه
د حساب د لګولو تر کار وروسته
هغو و ويَل چي دا محل که تاسي
درول غواړئ پر تينګو بنيادونو
نو سبا د سهارګاه په وخت چي بنار ته
کوم سړے شي وار له واره را دننه
هغه راولئ دې ځاى ته لاس ترلے
په بنياد کي د دې ستري ودانۍ ئې
ژوندے ښخ کړئ په مثال د يوې خښتې
بدمرغي به بيا له دغه ځايه تښتي

❊ ❊ ❊

سهاړګاه چي کوم سړے تر تولو وړاندي
را دننه شو دي بنار ته هغه زهٔ وم

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه زهٔ وم چي مي ناست په انتظار وو
ستا عسکر او په ليدو مي شول خوشحاله
سمدلاسه نې را و ترل لاسونه
را ته و نې کړه خبره سر تر پايه
بيا ئې راوستم دې ځاى لره په زوره
په دې ځاى کي بنيادونه د محل ستا
کيندل شوي دي زما تر راتـګ وړاندي
په دې کندو کي به زهٔ ژوندے بنخېږم
او دېوال د دغي ستري ودانى به
پاس زما پر وجود باندي پورته کېږي
چي دا ستره ودانى شي کله جوړه
نو راځي چي سبلانيان له هره لوره
په دې نيت چي نندارہ د دې ځاى وکړي
د هغو پر ژبه باندي به ستا نوم وي
ټول به دغه ودانى ستا محل بولي
دا وينا به څوک په هېره هم و نهٔ کړي
چي يو کس دے دلته بنخ دا ئې مزار دے
دهٔ خورلے د رندو د لاس ګزار دے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خواست

آس ولاړ وُ د ژور خندق پر غاړه
ګوډ تېمور ئې پر زین باندي پورته ناست وُ
په ځیر ځیر ئې دې خندق ته کتل لاندي
په خندق کي وو څلور زره وګړي
دا څلور زره وګړي دا وخت واړه
وو په چیغو، په فریاد او په بغارو
په یوه خُلهٔ تولو خواست کاوهٔ و دهٔ ته
چي د خدای دپاره اے لویه اتله
خپل لښکر ته اجازه ور لره ور کړه
چي زموږ سرونه و وهي په تُورو
یا خپل غشي په سرو وینو زموږ سرهٔ کړي
او په غوښو مو کارګان دلته ماړهٔ کړي

* * *

دا څلور زره وګړي، دا چي بند وو
په دې لُوی او په دې ډېر ژور خندق کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا وکړي واړه هغه جنګيالي وو
چي ئې مخه د تېمور د لښکريانو
وه په زور د خپلو متو ګرځولې
او تر ډېرو ورځو پورې ئې په نره
وه ساتنه او ژغورنه د ښار کړې
د دُوی غشو وې په شاني د بازانو
ډېرې غوښې د دښمن د بدن وړې
خو دښمن ئې داسې هسې دښمن نهٔ وُ
دا تېمور وُ او تېمور خو بس طوفان وُ
د طوفان مخه په غشو چرته ګرځي
دُوی که څهٔ هم دا طوفان تر ډېره تم کړ
خو ورو ورو ئې وس او زغم په لړېدو شول
پای ئې کښېښووه وسله پر مځکه باندې
او خپل ښار ئې هغه وخت تېمور ته پرېښوو
چي هغه په خپله څُلهٔ ور سره وکړه
د لُوی خدای په نامهٔ دغه کلکه لوړه
چي يو څاڅکے به هم ستاسې د سرې وينې
څوک پر مځکه باندې نهٔ څڅوي دلته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نهٔ به زهٔ په خپل تېرهٔ تېغ تاسي وژنم
نهٔ به دغه کار زما لښکريان کاندي
حق به نهٔ لري زما هيڅ يَوه تُوره
چي په تاسي کي د چا مور کاندي بُوره

✲ ✲ ✲

چي تېمور ته وسله کښېښنو وه دې خلکو
او دا ښار او د دې ښار شا و خوا سيمه
شوه د دهٔ تر رېبدونکي بيرغ لاندي
نو بيا دهٔ دا امر وکړ خپل لښکر ته
چي تر ښار د باندي ډېر لوی خندق جوړ کړي
او د دهٔ لښکر دا رنګه يو لښکر وُ
چي که غواړې ئې حساب نو دا به وايم
چي بس وو لکه ملخ را رمېدلي
لښکريان چي د ملخو رنګه ډېر شي
بيا نو يو خندق کيندل څهٔ ګران کار نهٔ دے
ځکه امر د تېمور دستي پر ځای شو
چي دهٔ غوښت تيار هغه رنګه خندق شو
دا وکړي، دا څلور زرهٔ سرتېري

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي اوس اوس نې وه و دهٔ ته وسله ایښې
دا ئې يو په بل پسې بې له څهٔ څنډه
د خندق ژوري کندي ته ور کوز کړل
او دا نور خلک ترې لاړل بېرته بنار ته
دُوی نې پرېښوول دلې د تل دپاره
له دې ځایه د وتو نهٔ وه هيڅ لاره

❋ ❋ ❋

چي دا نور خلک ترې بېرته بنار ته لاړل
او دُوی شول په دې ژور خندق کي پاته
هله پوه شول چي دي څهٔ ور سره شوي
وُ خندق دومره ژور او دومره لاندي
چي د بېرته ختو هيڅ هيله هم نهٔ وه
تش يو څو لويشتي آسمان پورته ښکاره وُ
نور نو ټول جهان د دوی له سترګو پټ وُ
په دا هسي رنګ وړه غوندي دنيا کي
نهٔ اوبهٔ وې چي به دُوی پرې اوبېدلو
نهٔ خوارهٔ وُ چي دُوی ځان وای پرې موړ کړے
تنها وخت داسي يو شے وُ په دا وخت کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د هر ځای په شان دلته هم روان وُ
او د وخت له تېرېدو سره نو ورو ورو
د دُوی لوږه تنده هم په زیاتېدو شوه
چې خبره رسېدله ورځو شپو ته
لوږې، تندې دغه خلک کړل بېواکه
دغه وخت نې تېمور راغې نندارې ته
آس نې تم کړ د خندق پر غاړه باندې
د دې خلکو چې نظر ور باندې پرېووت
نو په چیغو، په فریاد او په ژړا شول
په یَوه خُلهٔ ټولو خواست کاوهٔ هغه ته
چې د خدای دپاره اے لویه اتله
خپل لښکر ته اجازه ور لره ور کړه
چې زموږ سرونه و وهي په تُورو
یا خپل غشي په سرو وینو زموږ سرهٔ کړي
او په غوښو مو کارګان دلته مارهٔ کړي

* * *

د تېمور چې د دې خلکو خواست تر غوږ شو
نو ویَل نې چې زما لاَښ دي ټرلي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون لولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما له تاسي سره کړے دا قسم وُ

چي يو ځاځکے به هم ستاسي د سرې ويني

څوک پر مځکه باندي نهٔ څڅوي دلته

نهٔ به زهٔ پخپله تُوره تاسي وژنم

نهٔ به دغه کار زما لښکريان کاندي

اوس که دغه قسم ېږته ماتومه

نو په مځکي د خپل خدای مخ تورے کېږم

ځکه تاسي ټول پرېږدمه هغه رب ته

چي وختي بې لا په دغه لوی خندق کي

په وژلو ستاسي لاس دے پوري کړے

لکه پخه تُوره، لوږه ئې لګيا ده

په ورو ورو تاسي هر يو پر خپل ځای وژني

تندہ نهٔ ده دا ئې هغه پخ خنجر دے

چي په تاسي کي د هر يَوهٔ پر غاړه

له دنني خوا چليږي را چليږي

په ورو ورو به مو د ژوند ډېوه در مړه کړي

زهٔ نو ځم دَے به دا ستاسي خواست پوره کړي

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# عذاب

ډېر پخوا د يَوهٔ کلي پر وګړو
دا لازمه وه چې يو ځل به په کال کې
يَوه پېغله دُوی عذاب ته ور سپارله
په دې توګه ډېر کلونه باندې تېر شول
په دې رنګ نې ډېري پېغلې نيمه خوا شوې
او چې پاته وې تر اوسه په هغو کې
يَوه پېغله وه رنا به دُوی بلله
په دې کال کې د هغې نوم وُ ختلے
او و دې ته چې سزا چا ور کوله
هغه څوک په کاړي واړي وجود راغے
مخ ئې تک شين، د تن څرمن ئې تکه شنه وه
تنګي سترګې ئې په مخ وې ننوتې
په څېرو ئې وې پندې ګوتې پورې
غټو پښو، يې توله سر ئې خورَوله
ئې ځلور طرفه باندې سخته وېره
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سمدلاسه نې په خپله پنډه ژبه
د رڼا په بابت و کړه دا خبره
چې د دې عذاب زهٔ لړ څهٔ ځندومه
ځم چې داسي يو خنجر يا تُوره راوړم
چې ګُزار نې رسي نېغ د زړګي ميان ته
زور به و ښيم هم دې او هم جهان ته

✲ ✲ ✲

د بې توله پښو او سر دغه ښتن چي
لاړ په تُوره او خنجر پسې نو بيا به
د رڼا سره د کلي هر وګړي
د هغه د بيا راتګ لاره کتله
مګر کله چې هغه بېرته را ستون شو
نو حېران پاته شو هر وګړے دې ته
وه د تُوري او خنجر خبره پاته
ور سره ډول ډمامې وې، لويه ورا وه
چې رڼا د خپل آنګڼ ډېوه کړي جوړه
په همدې، نيت نې دا ناوې کور ته يو وړه
په دا هسې وادهٔ باندي وو خوشحاله

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رڼا خواخوږي تول خو دښمنان ني
وو خواشيني او ويَل به بې په ډاګه
چي دا څرنګه عذاب، څنګه سزا ده
نه ئې و لوېده سينې ته د تېغ څوکه
نه ئې خوړين، نهٔ ئې ګزک شو د زړهٔ زخم
نهٔ ئې سم په زوو ډک شو د زړهٔ زخم

* * *

د بې تولو پښو او سر دغه څښتن چي
رڼا خپل آنګې ته يو وړه نو هغې هم
په اخلاص د دهٔ شدل وجود قبول کړ
د دهٔ شين او پتير مخ به ئې وُ مخته
کله هم دې له هغه کرکه و نهٔ کړه
نهٔ ئې و کړل د دهٔ درانه ورنونه
نهٔ ئې چرته پر هغو نيوکه و کړه
دے که شين وُ که پتير وُ، که شدل وُ
دې ګټلے د خپل سر دپاره تاج وُ
په دې رنګ ئې خوشحالي شوه د کور زياته
بيا د وخت په تيريدو سره خدآی دوی ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترګل بنکلي ماشومان هم ور له ور کړل
لور نې کټ مټ په وېنا لکه مېنا شوه
د زُوی ژبه ئې توتي رنګه خوږه وه
خو د دغو دوو وړو وړې خبري
يَوه ورځ شولې تر هغه وېنا لاندي
چي ئې پلار په خپله پنده ژبه وکړه
هغه و وېَل د دُوی دواړو ادې ته
چي بس وخت د انتظار دے را لنډ شوے
چي به تا ته پرې عذاب زهٔ درکومه
ده زما هغه وسله زياتي تياره
تُوره هم شته او خنجر هم را سره دے
خو جوړښت دے د دې دواړو په بېل ډول
نهٔ له اوسپني دي جوړ، نهٔ له فولادو
دواړه ستا د زړهٔ له غوښو دي جوړ شوي
راشه راشه، ښهٔ ئې و پېژنه تهٔ هم
ستا وړه ملاله لور ده زما تُوره
ستا کوشنے ګلالے زُوی زما خنجر دے
و دې دواړو ته ستا زړهٔ نن برابر دے

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بې تو له پښو او سر دغه څښتن چي
په دا خپله پنډه، پلنه، درنه ژبه
په کرخت او کرغېړن آواز رڼا ته
دا د زخم او عذاب خبره و کړه
نو دا هسي يوه تشه توکه نهٔ وه
دهٔ ژر خپلي دې ناوړه ارادې ته
د عمل جامه ور واغوستله داسي
چي تردې وخته چي دلته وو دوی دواړه
د وادهٔ په کوم ترون سره تړلي
نو هغه نې د طلاق په بياتي غوڅ کړ
دا نې و شړله تش لاس، تشه غېږه
د ګلونو په شان ښکلي ماشومان نې
ترې را و کرځول دواړه په دا دول
لکه دَے چي د هغې له سينې ببرته
خپل تبرهٔ او زهرجن خنجر را باسي
لکه دے چي د هغې تر زړهٔ وتلې
سينه تُوره کړې را کش په دواړه لاسه
په دې توکه د رڼا د زړګي غوښي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوې د دغه ډېرزړي کره پاته
دې په وینو سور کوګل ور سره یوور
ګرځېده به دلته هلته لالهانده
له دې حاله به ئې تل تنکیو پېغلو
پناه غوښته او وَیل به ئې چې دلته
هر عذاب له ګلَولو دے وتلے
خو رښا چې مبتلا په کوم عذاب شوه
داسي سخت عذاب به بل چرته هم نۀ وي
د جهان ظلمونه ډېر دي موږ لیدلي
تر بل هر ظلم ئې دغه ظلم سخت دے
چې په زور له ماشومانو کړي مور ببله
دا بېلتون په لړو شپو کې پر زړۀ باندي
جوړ کړي دا رنګه داغونه او زخمونه
چې هر یو په لړو ورځو کې نا سور شي
په سرو وینو ئې کوګل ور سره سور شي

❊ ❊ ❊

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سورسترګے

هغه ځوان د خپلي مور یکي یو زوی وُ
لوی ځښتن ور کړې ډېره ښه ځواني وه
غتي غتي غوندي سترګي ئې وې دواړي
په دا هسي سوربخونه رڼا ډکي
چي سورسترګے به بالهٔ د کلي خلکو
دغه شپې نو د نادر د ظلم شپې وې
دا خبري به کېدې په هر مجلس کي
چي نادر هره ورځ باسي یو من سترګي
کومه ورځ چي دا د دهٔ ایستلي سترګي
تر من کمي شي نو هغه شپه بیا دهٔ ته
سم خوب نهٔ ورځي او ویښ وي تر سهاره
د سورسترګي پر مور باندي دې خبرو
وُ دا هسي تاثیر کړے چي په خوب ئې
یوه دا سي بلا هره شپه لیدله
چي د دې د زوی په سترګو به پسي وه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ئې هڅه وه چې دغه سترګې يو سي
او آخر به ئې له سترګو سره سر هم
د سورسترګي له وړو کړ په زور پورته
او بدن به ئې و مور ته شو ور پاته
شوه به اړه هغه چيغو او ژړا ته

❀ ❀ ❀

چې نادر په وينو سره تُوره کړه پورته
په دې نيت چې اولسونه په زور اېل کړي
نو لښکر ئې ورځ په ورځ په زياتېدو شو
چې ئې خوښ وُ شرنګهار د سپينو تُورو
هغه هر سړے په دهٔ باندې پسې شو
د زړهٔ زور وُ، د ځوانۍ مستو نشه وه
چې سورسترګے ئې هم ګډ په دا لښکر کړ
خو سورسترګے داسې هسې يو څوک نهٔ وُ
هغه سم د جنګ په کار کې يو طوفان وُ
چې به چرته هم د دهٔ تُوره شوه پورته
بيا نهٔ اړه وه په سپر او نهٔ په زغره
پرې کول ئې له فولاده سره يو ځای

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوست او غوبنه او په غوبنه پټ هډونه
په هر وار به ئې د تُوري يو سر پرېووت
د نادر هم پردهٔ باندي نظر پرېووت

✽ ✽ ✽

تر نادر له مخه هم په دا جهان کي
بې زړسويه باچهان وُ ډېر تېر شوي
د نادر د هغو دغه يو دود خوبن وُ
چي په شوق به ئې په هر يوهٔ مېدان کي
جوړول د ککريو منارونه
دغه دود پخپله دهٔ هم وُ خپل کړے
دهٔ هم ډېر ځله تر جنګ ګټلو وروسته
د سرونو منارونه وو جوړ کړي
چي شو سيمي د کرمان ته ور دننه
لکه باد چي د خزان رژوي پاني
دغه رنګ ئې ککرۍ و رژولې
او سورسترګي ته ئې ور کړ دغه امر
چي له دغو ککريو منار جوړ کړه
هغه لار او چي نادر ته ښرته راغے

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ويل ئې چې منار خو نور تيار شو
بس يَوه ککرۍ شوه را سره کمه
که يَوه ککرۍ بله وای نو بيا به
دا منار وای په سم ډول بشپړ شوے
د نادر دغه د کم تکے خوښ نهٔ وُ
هغه غوښتله پوره هره خبره
ژر ئې و ګمارل نور سړي و دې ته
چې پخپله د سورسترګي سر قلم کړي
په دا سر باندي منار پوره او سم کړي

✲ ✲ ✲

د نادر امر پر ځاى شو بې له ځنډه
د سورسترګي سر هغه ساعت قلم شو
په وېښتانو کي ئې ټينګي کړې چا ګوتي
کړ ئې پورته او په رپ کي ئې د سترګو
د سرونو تر مناره پوري يووړ
دا منار وُ په هنر هنر جوړ شوے
وو سرونه يو پر بل باندي ودلي
څټ د هر يَوهٔ سر پټه وه دننه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخ نې وُ د بهر خوا ته را وتلے
خُلهٔ او سترګي نې کتونکو ته ښکاره وې
دې بې شمېره خُلو او سترګو خوروله
داسي وېره چي بيان نې کېداى نهٔ شي
دا د وېري خُلے نور ښخي پوره وُ
د يَوهٔ سر ځاى نې وُ په سرکي پاته
هغه ځاى دُوى د سورسترګي په سر ډک کړ
او وېَل نې چي دا سر د دې ځاى ور دے
دروغ نهٔ وايو، په خداى د دې ځاى ور دے

* * *

نادر و ووت له کرمانه مخ په وړاندي
منار پاته شو خو امر د دهٔ دا وُ
چي هيڅا ته هم د دې اجازه نشته
چي نزدې ور شي او لاس ور لره ور وړي
په ژړا خلکو کتل ور ته له لري
د سورسترګي بُوره مور هم يو وخت راغله
کنګرې د عرش نې چيغو لړزولې
ښا و خوا پر منار ګرځېده په ښدو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپل زوی مخته ئې نه رسېدې شوندي
وه ببوسه، د ببوسو کار بېرا وي
په ډېر درد به دې هم دا بېرا کوله
چې دا خلے چې دے کوم انسان جوړ کړے
له هغه سره دې هم خدای داسي و کړي
چې ئې سر وي له بدنه جلا شوے
د سرونو د منار په سر کې پروت وي
بُوره مور ئې شا و خوا ور باندي ګرځي
په فریاد او په ژړا ور باندي ګرځي

❊ ❊ ❊

د دې بُورې دا بېرا اورېده خلکو
خو هیچا ور ته ویلای داسي نهٔ شو
چې دا ستا د خلے بېرا خو نر وخت وړاندي
د لُوی خدای په در کې ده قبوله شوې
دا منار هغه سورسترګې دے جوړ کړے
چې ئې سر اوس همدالته پکي پروت دے
ته ئې مور ئې شا و خوا ور باندي ګرځې
په فریاد او په ژړا ورباندي ګرځې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# شاګرد

زهٔ یواځې د کښتۍ په انتظار کې
د اوبو پر کناره باندې ولاړ وم
چې له ورایه رابښکاره شو یو وګړے
دا وګړے داسې روڼ، داسې تازه وُ
لکه وې چې لمبېدلے په کوثر کې
او اوس وې له جنته را وتلے
چې ورو ورو شو را نزدې نو دواړه لاس نې
د روغبړ دپاره ما ته را اوږدهٔ کړل
زما خُوی دے چې لاس ور کړم کله چا ته
د هغه پر بته ګوته باندې را ورم
لږڅهٔ زور، چې دا معلومه کړمه ځان ته
چې هډ شته په دغه ګوته کې که نشته
خو ربښتیا خبره دا ده چې تر ننه
ما یې هډه ګوته نهٔ وه پېدا کړې
دا لومړے ځل وُ چې داسې شوک مې و موند

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي په لاس نې وه بې هډه ګوته پوري
زۀ چي پوه شومه چي خضر دے نو زړۀ مي
را ته و ويل چي اوس به خداى رڼا کړي
د جابر خلاف به دَے موږ ته لاس را کړي

* * *

زۀ او خضر په کښتۍ کي سره ناست وُ
په اوبو کي مو وهله خپله لاره
ما د خپل وطن قصه ور ته کوله
او ويل مي چي باچا کله ظالم شي
د هغه هر يو چارواکے بيا لېوۀ وي
چي په مخه څۀ ورځي هغه د دۀ وي
دې لېوانو دي له موږه ډېر څۀ وړي
تر دې حده چي کوتوال زموږ د سيمي
چي سوارلي کوي پر کومه اسپه باندي
ده هغه نې هم په زور له ما بيولې
په رڼا وه دې مختور له ما بيولې

* * *

زۀ او خضر په کښتۍ کي سره ناست وُ
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د واکمنو خلاف دَے دې ته تیار شو
چي دا خپل هنر پوره ما ته را زده کړي
په دې نیت ئې د لومړي سبق په توګه
یو تېرهٔ غوندي اوزار په ګوتو را کړ
را ته و ئې وئیل تهٔ له هري سترګي
دا وخت پټ ئې و هیچا ته نهٔ ښکاریږې
دا کښتی په دې تېرهٔ اوزار سورۍ کړه
د استاذ په خلهٔ ما دغه کار خو وکړ
مګر خوند ئې را له را نهٔ کړ په زړهٔ کي
خضر هم زما په دې ناخوښي پوه شو
را ته و ئې وئیل تهٔ ښائي پوه نهٔ ئې
چي څښتن د دې کښتۍ یو ووړ یتیم دے
دا کښتی که وای دغسي روغه پاته
نو له هغه چا به دې ته خطر پېښ وای
چي له تا ئې په زور اسپه ده بیولې
چي سورۍ شوه نو اوس دغه خطر ورک شو
د یتیم مال شو خوندي له دا اوږسترګو
تا که هم وای خپله اسپهٔ داغي کړې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون مولتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا د دغو ظالمانو په کار نهٔ وه
د دُوی خوښ وي داسي شے چي وي بې داغه
وري د سر مېوه له هره يَوهٔ باغه

✽ ✽ ✽

د اوبو سفر ؤ پای ته رسېدلے
زهٔ او خضر مېلمانهٔ وو په يو کور کي
په دا کور کي مو شپه څکه ښه شوه تېره
چي کوربه د وېدېدو دپاره موږ ته
د چندنو پالنګونه ؤ را کړي
چي سهار سپېدې را و چاودې نو موږ هم
شوو را وېښ خو کوربانهٔ مو لا وېدهٔ وو
د هغو تر وېښېدو وړاندي موږ دواړه
وو چمتو د دې دپاره چي بس لاړ شو
خو تر تګ وړاندي استاذ و وېَل ما ته
چي د دې سيمي کوتوال ښهٔ سړے نهٔ دے
دا وخت ما ته دا خبره ده څرګنده
چي دې کور ته به راځي هغه او وري به
د چندنو دغه دواړه پالنګونه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو تر داسي کېدو وراندي په خپل لاس کړه
تهٔ د هر یَوهٔ پالنګ یَوه پښه ماته
د هغه له ښې به ووزي خو ښتن نې
په خپل کور کي بیا هم کار ترې اخستے شي
د استاذ دغه وېنا چي ما پر ځای کړه
نو بیا ژر و واتو دواړه له دا کوره
دَے وُ وړاندي او زهٔ وروسته ور پسې وم
په تنګ تنګ کي به راتلې زما و خیال ته
د استاذ په اړه دا رنګه خبري
چي که چرته د یو چا ښځه وي ښکلې
او کوتوال د هغه ځای ښهٔ سړے نهٔ وي
نو استاذ ښائي چارهٔ په ګوتو را کړي
چي د دغي ښکلي ښځي پزه پرې کړه
په دا شان به نې ګلبڼ د ښایست وران شي
له نظره د کوتوال به په امان شي

✽ ✽ ✽

زهٔ او خضر یو دېوال ته سره ناست وو
ما ویَل ور ته چي زهٔ ځو دومره وایم

کتابتون (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پالنګ د پښې پر ځای باندي پکار وه
چي د هغه کوتوال لاس وای قلم شوی
چي د دغه پالنګ ورل ئې وُ په نیت کي
دې خبري مي استاذ ته خوند ور نهٔ کړ
او وېَل ئې په دا کار کي خو سر تلای شي
سر ښندل که وای زما د وَس خبره
نو دا تل تر تله ژوند مي غوښت بیا ځله
په خوندی سر که چوپړ وهې د خلکو
نو په ما پسې په پټه خُله را درومه
خو که ئې و سر ښندني ته لېواله
نو ما پرېږده او شاګرد د موسیٰ جوړ شه
چي جابر ته تل په جار کوي خبره
بس بیا زهٔ هم په موسیٰ پسې روان شوم
یا به شم د ذکریا نبي په رنګه
بند پر بند باندي اره په دغه لار کي
یا به نر په نره خیل اولس آزاد کړم
د فرعون سر او لښکر به ور برباد کړم

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون پښتـونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اووم سر

چې کوم چا به د خپل مټ په طاقت نهٔ وُ
په روا يا ناروا يو څوک وژلے
له هغه سره به هيڅ يَوه نجلۍ هم
راضي نهٔ وه چې وادهٔ ور سره و کړي
هلته هغه ځوان د مستو پښلو خوښ وُ
چې په ښکار به د سرونو ګرځندے وُ
دغه هسې ځوان په دا غوښت هرې پښلې
چې له دهٔ نې ګوندي داسې زامن و شي
چې په ښکار کې د سرونو مړني وي
په خوی بُوی وي شنهٔ زمري، په رنګ سرې وي

* * *

چې د هرې پښلې داسې ځوان په کار وُ
د سردار لُور خو نو وه د پښلو ميره
د هغې ولور بيا نور هم دلته زيات وُ
چې نې وخت د ورکولو کله راغے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبرتيا ئې شاوخوا سيمو ته ور کړه
چې د قام هر ننګيالے دي حساب راوړي
چې خو تنه ئې په خپل لاس دي وژلي
که جرګې ته کوم خلمے کړي دا ثابته
چې تر هر سړي دهٔ کړي دي زيات مړي
نو هغه به د اولس د سردار زوم وي
خو د دې خبري خيال به هم ساتل وي
چې د مړو شمېر به کم تر پنځهٔ نهٔ وي
تر پنځهٔ که ئې بالا کړي لا به ښهٔ وي

❊ ❊ ❊

د سردار د لور غوښتلو ته چې راغلل
دې ځوانانو هر يَوهٔ د جرګې مخته
د پنځو، کسو وژونکے ځان ثابت کړ
خو په دُوی کې يو ځوان داسي هم پېدا شو
چې تر اوسه ئې شپږ سره وو وهلي
دغه ځوان، دا چې وژونکے وُ د شپږو
دَے هم ښکلے وُ په رنګ تر دغه نورو
هم په ونه تر هغو ټولو بالا وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سرو سترګو په يوهٔ کاږهٔ کاتهٔ نې
د سردار د لور په زړهٔ کې خپل ځای جوړ کړ
د سردار د لور زړګے اوس په درزا ؤ
ور پېدا شوه اندېښنه چې هسې نهٔ وي
چې بل دا رنګه يو څوک له کومه راشي
چې تر شپږ نې لا هم زيات مړي وي کړي
او دا څوان د دې له لاسه بېرته ووزي
دا لا ډوبه وه په دغو اندېښنو کې
چې د پلار يو تور مرېے نې را ځرګند شو
دا مرېے ګوره له کومه را روان ؤ
را اخستے نې ؤ دروند غوندې يو پېټے
دغه پېټے نې د خلکو مخته کښېښوو
او ويل نې چې ما کړے پوره وس دے
دا ولور وګورئ کم دے او که بس دے

٭ ٭ ٭

بېټے پروت ؤ دا مهال د جرګې مخته
او مرېے هم مخامخ ور ته ولاړ ؤ
په سرو وينو نې وو شا او مخ لړلې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون بتولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په خنګ نې ځړېده د سردار تُوره
دغه تُوره دهٔ د خپل بادار له کوره
وه له خپله مخه ورېې او په دې نې
د سردار بده غوښتونکے یو وګړے
له اولاده سره یو ځای وُ وژلے
او سرونه د هغو نې تر دې ځایه
د دې پېتے په صورت کې په شا را وړل
دغه پېتے چې دې خلکو کله پرانست
نو په دې کې هم پراتهٔ وو شپږ سرونه
دا سرونه چې نې و شمېرل نو بیا نې
دې مرېي ته هغه بل ځوان هم ور و ښوو
چې قاتل وُ لکه دَے د شپږو کسو
او په دې خبره باندې نې هم پوه کړ
چې د شپږو سر وهونکي دا وخت دوه دي
ځکه پېښه ده اړتیا اوس اووم سر ته
کوم اتل چې اووهٔ سره ور پوره کړي
نو سردار به لور هغه ته ور سپره کړي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې خبره د اووم سر ئې تر غوږ شوه
د سردار لور خپلې سترګې برابرې
کړې د هغه شا څلمې پر سترګو باندې
چې ئې اوس اوس وُ په زړهٔ کې ځاى ور کړے
هغه هم په سترګو سترګو کې داډ ور کړ
چې غم مهٔ کوه ډېر ژر به دا هم و کړم
خو مرېې خپل دې رقيب ته وخت ور نهٔ کړ
کومه تُوره د سردار چې ئې تر څنګ وه
په هغې ئې باندې پېل کړل ګُزارونه
چې د خلکو پام کېدل ور ته نو دهٔ بيا
وُ هغه په خپلو وينو لمبولے
او په چيغو ئې وېل چې هر يو واورئ
زهٔ اوس غړے د سردار د کورنۍ شوم
څوک حق نهٔ لري چې ما ته شي را مخته
څه پوښتنه يا حساب را سره و کړي
او په دغه شور ماشور کې ئې په تُوره
د دې خپل رقيب سر بېل کړ له بدنه
دغه سر ئې د سردار لور ته ور واخست

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړ هغې ته نې په دواړه لاسه وړاندي
د هغې لښمهٔ په اوښکو باندي ډک وو
تت نظر نې د دهٔ مخ ته کړ ور پورته
او کتل نې پته خُلهٔ ور ته تر ډېره
بیا د خیال په وزرونو له دا ځایه
داسي والوته راتلونکي زمانې ته
لکه دا چي په رښتیا په هغه وخت کي
خپل زوی وېني چي ایستلې نې ده تُوره
د خپل پلار په شانې کاندي ګُزارونه
او دښمن نې سور په وینو مخته رغړي
ساعت وروسته چي د خیال له دا جهانه
راستنه شوه نو نې بیا هغه سر ولید
چي وُ هغه چا په لاس ور ته نیولے
چي ډېر ژر د دې ښنتن وُ جوړېدونکے
دغه سر چي دې په دواړه لاسه واخست
په نڅا نې وو وادهٔ ته بیا وکړي
اووهٔ سره نوي زوم وو پوره کړي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# يو رسم

هلته خلک وو له حده زيات سپين زړي
سينې ډکي وې د خدای په پاکه مينه
هر چا غوښت چي تر رسول نې سر قربان شي
تر خپل پلار او خپلي مور هم پر ده‌ وی باندي
اولاده د محمد ﷺ وه زياته ګرانه
چي پاک نوم به د سيد ور باندي پروت وُ
هغه هر سړے د دُوی د سترګو تور وُ
دا وخت تول اولس په دې وُ پرېشانه
چي په سيمه کي نې يو سيد هم نهٔ وُ
له سيده خالي خپله دغه سيمه
ښکارېدله دُوی ته خاص لکه يتيمه

* * *

ښکارېدله چي دې خلکو ته يتيمه
يو سهار بيا دغي سيمي ته را پېښ شو
يوے ستومانه لاروَے له بلي خاوري

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا سَرے روان وُ لري یَوهٔ ځای ته
وُ موسم په دغو شپو کي دومره ګرم
چي د ورځي ئې مزل کولای نهٔ شو
ورځ به دهٔ کړه په سایه کي چرته تېره
او د شپې په بیا روان شو مخ په وړاندي
چي دې سیمي ته را و رسېد او دلته
دا خبره شوه وګړو ته څرګنده
چي دا کس دے د رسول پاک له اولاده
د دهٔ ختهٔ هسي عامه ختهٔ نهٔ ده
دَے سید دے هم په ختهٔ هم په وینه
نو ئې لاس بیا ښکلول هر چا په مینه

✽ ✽ ✽

دا چي لاس ئې ښکلول هر چا په مینه
وې په خوب باندي درنې د هغه سترګي
زړهٔ ئې غوښت چي چرته و لګوي سر خپل
شي ویدهٔ او ورځ په خوب باندي کړي تېره
خو د سیمي خلکو پرې نهٔ ښوو دې کار ته
هغوُ ویوست دَے یو وېر غوندي مېدان ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاس و پښې ئې تِينګ ور و ترل په پړي
او دالته ئې ترلے پرېښوو لمر ته
وخت روان وُ د غرمې پر طرف باندي
پلوشې د لمر تېرې شوې لکه غشي
تر بدن د دهٔ وتلې پورې وورې
رسېدې ئې زړهٔ ته، سږي ته، اينې ته
دواړې شوندې ئې کړې تندې تکې تورې
له ګرمۍ ئې ژبه وچه، ستونے سپين شو
پر بدن ئې د تناکو فصل شين شو

❊ ❊ ❊

چې دا هسې ايشېدونکې لمر ته پروت وُ
دا سيد په دغه تکنده غرمه کې
په رګونو کې ئې وينه ايشېدله
تر خرمن لاندې ئې غوښه پخېدله
نو پوه نهٔ وُ چې دا ولې داسې کيږي
دهٔ دې خلکو ته پېښ کړے کوم تاوان دے
چې سزا ئې دغه هومره سخت عذاب دے
څو نزدې ور ته دا رنګه هيڅوک نهٔ وُ

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د دهٔ د خلې دا سوے فریاد واوري
او د دهٔ د دې پوښتني جواب ور کړي
دهٔ ته داسي ښکارېده لکه هر چا چي
دَے هېر کړے وي د تل دپاره دلته
چي ژوندے وي تر هغو به دلې پروت وي
په دا لمر به نې هم سا هم بدن سوځي
خو چي لمر د آسمان منځ ته کله راغے
ګرمي و رسېده خپل آخري حد ته
دغه وخت دهٔ لره راغے یو سپین ږیرے
او دهٔ ډېر په غرېو او درد وَیل هغه ته
چي زما په دې رګونو کي چي سوځي
دغه وینه ده د پاک رسول له ویني
او رسول دے د خدای هغه نازولے
چي که لمر دے، که آسمان دے، که دا مځکه
پېدا کړي نې دي تول د دهٔ له رویه
نو چي چرته د دا هسي نازولي
پر اولاد باندي دا رنګه تېرے و شي
پر دا خلکو به د خدای قهر و نهٔ شي؟

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سید د دې وینا په اورېدلو
د سپین ږیري ږیره شوه لنده په اوښکو
شو لګیا په ژړغوني آواز دهٔ ته
چې په تا چې نې بېحده خوا بدېږي
هغه خدای زموږ له سیمې مرور دے
دربچې د خپل آسمان نې دي ترلي
نهٔ وربځ راځي، نهٔ سپیني اوبهٔ اوري
وچ تبربږي په یو بل پسې کلونه
بارانونو ته مو سترګي دي ختلي
څاڅکے نهٔ را لوېږي مځکي ته له پاسه
د سپرلي ورځي او شپې دروميي را درومي
مګر چا لیدلے نهٔ دے زرغون بوټے
چینې ورکي شوې، ویالې وچې ولاړي
ورشوګاني په غبار باندي دي ډکي
نهٔ رمه ښکاري، نهٔ چرته ګورم څري
لاس و پښې وهو موږ تول چې په څهٔ توګه
له دې حاله د وتلو لار پیدا کړو
په دې لړ کې دا وخت تول اولس لګیا دے

(www.kitabton.com) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په يو بل مېدان کې ژاړي و خپل خدای ته
ته‌ٔ نې دلته په دې هيله نې ترلے
چې ستا وينه پر لوی خدای باندې ده ګرانه
په دا هسي ايشوونکي سرې ګرمۍ کې
چې دا وينه بنه په زور په ايشېدو شي
ستا، د تندي د زغملو وس شي ختم
په اينې، سرې او زړهٔ کې چې دي بل دے
دغه اور تر وروستي حده پوري تېز شي
دا عذاب او دا زاوال ستا د وجود به
د لوی خدای مينه هم راولي په جوش کې
ستا دپاره به آسمان وريځ وريځ کړي
هري خوا ته به خنک غوندي باران شي
ستا له تندي و چې شوندي به لندې کړي
ستا په لمر سوځلي غوبني به سړې کړي
دا وطن به هم له تا سره اوبهٔ شي
ستا له رويه به پر موږ هم باران وشي

* * *

(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سرونو دوه ښلي

هغه پیر او د هغه مرید چې دواړه
په ځۀ کار پسې ور و رسېدل هلته
نو که ګوري هغه ښار واړه ویجاړ دے
او د دغه ویجاړ ښار په لمرخاتۀ کې
د وګړو د سرونو ښلے جوړ دے
په دې ښلې کې په ډېر هنر وډلې
دي پوره پنځۀ ښلوېښت زره سرونه
او دا کار دے د تېمور په امر شوے
تېمور پیر او مرید دواړو ته معلوم ؤ
چې په سرکې د خوانۍ ؤ ډېر ناداره
یو غیران بۀ ئې لا هم په جیب کې نۀ ؤ
یوه ورځ ئې د خوارۍ په دغه حال کې
وې د تن جامې په بیه خرخې کړې
او په دا پېسو ئې وه بزه اخستې
دا بزه چې په کوم یږۍ وه تړلې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه دا بل سر دهٔ په خپلو ګوتو
هغه دم په خپله غاړه کي کړ غوته
داسي دے او دا بزه غاړه په غاړه
له یو بل سره ترلي له دا ځایه
شول روان د هغه پیر و آستانې ته
چي دا اوس له خپل مریده سره یوځای
د سرونو دغه خلي ته ولاړ وٌ
خان نې و غورځاوه هلته د پیر پښو ته
او ویَل نې دا بزه په شکرانه کي
له ما ومنه او ما ته دُعا و کړه
چي لُوی خدای مي باچهي کاندي په برخه
پیر چي و کتل د دهٔ دې سپېځلتیا ته
نو له زړهٔ نې ور ته و ویَل چي ځوانه
تا ته ګرانه ده خو خدای ته ګرانه نهٔ ده
موږ دُعا کوو چي ستا دغه ارمان دي
لُوی خښتن په لږو شپو کي در پوره کړي
مریدانو امین و وایهٔ وړباندي
د تیمور هیله له دې سره شوه زیاته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بزه پرېښووله دهٔ په آستانه کې
او پخپله په خپل کار پسې روان شو
له دې وروسته د برې شوه ور ته مخه
ورځ په ورځ ئې واک او وس په زیاتېدو شول
لویه سیمه ئې تر تُوره لاندې راغله
تر ببرغ لاندې ئې تلې درنې لښکرې
دې لښکرو به نیول یاغي ملکونه
که هر څو د خدای په کار څوک خبر نهٔ دی
دا هر څهٔ چې دي روان په دې جهان کې
د هغه په اړه څوک وېلای نهٔ شي
چې په دې کې د قادر خدای څهٔ حکمت دے
خو سره له دې د پیر د مریدانو
سل په سل کې وُ باور په دې خبره
چې د دُوی پیر په یَوه بزه تېمور ته
دومره لویه باچهي ور لره ور کړه
باچهي چا و تېمور ته وه ور کړې؟
اړتیا نشته چې په دې سرے سر خوږ کړي
په زړهٔ پورې دلته ده دغه خبره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنیه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې تېمور باچهي غوښته او باچا شو
لور په لور ئې د لښکرو غړومبهار ؤ
ښکارېدې ئې په هوا کې هر طرف ته
ځلېدونکي، چلېدونکي تُوري داسې
لکه پاس چې په ورېځو کې برېښنا وي
اورول ئې د سرو وينو بارانونه
هېوادونه په سرو وينو وو لړلي
بدلېدل په کنډوالو باندې ښارونه
جوړېدل د ککريو غټ غټ خلي
تر دې حده چې ور ننووت سبزوار ته
هلته وشو جنګ تر ډېره وخته پورې
ويني تويې شوې، بې شمېره خلک مړهٔ شول
چې ښار ورغے تېمور لره په ګوتو
نو کوم خلک چې ژوندي وو پکې پاته
و هغو ته امر وشو چې لګيا شئ
د خپل ښار د مړو تول سرونه پرې کړئ
دغو خلکو لره بله لاره نهٔ وه
تول سرونه ئې د خپلو مړو غوڅ کړل

(www.kitabtoon.com) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا سرونه چي کوم وخت واړه حساب شول
شمېر ئې و رسېد پوره تر نيوي زره
دا بيا و وېشل دُوی واړه په دوو برخو
په دې نيت چي جوړوي به ترې دوه خلي
نيم ئې واخستل د ښار لمرېرېواتهٔ ته
له دې نيمو ئې د ښار په لمرخاتهٔ کي
دغه لُوی او وړووکے خلے جوړ کړ
چي دا پير او دا مريد ئې دا وخت دواړه
دغه هسي زرهٔ چوونکي ننداري ته
د بتانو په شان پته خلُهٔ ولاړ وو
او د دواړو دا چُپيا ډېره اوږده شوه
پای مريد دغه درنه چُپيا کړه ماته
دا پوښتنه ئې له خپله پيره و کړه
چي که دا سوداګري زموږ دغسي
له ښهٔ مرغه مخ په وده شي روانه
د تخت نور هوا لرونکي هم پېدا شي
او لهِ موږه د دُنيا په دې بازار کي
په يوه يوه بڼه سرونه اخلي
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو تبمور ته چي مو ؤ ور لګولے
د هغه نرخ له حسابه که را خرڅ شي
د نړی د انسانانو ټول سرونه
ستا څهٔ خيال دے چي په دې توګه به مونږ ته
په حساب څومره بزي په ګوتو را شي؟
د پير زړهٔ په دې پوښتنه باندي خوږ شو
مخ ئې کوږ کړ د مريد پر طرف باندي
کړه ئې ژبه د هغه جواب ته سمه
او وَيل ئې چي په دا رنګه سودا کي
چي راځي کومي بزې زموږ په ګوتو
دا که ډېري وي نو هم دومره به نهٔ وي
چي پوره کنډک ترې جوړ شي، ته ئې پيايې
لکه شپون هسي ئې غرهٔ راغهٔ ته بيا يې

* * *

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ګوډه پېغله

خړ سهار د ښکار په نیت له خپله کوره
شوم پر آس باندي روان زهٔ د ښکار ځای ته
هلته ګرځېدم را ګرځېدم تر ډېره
هیڅ یو شی چرته هم رانغی په مخه
خو ما ښبین مي چرته لري شوه تر سترګو
یوه ګوډه شان هوسۍ په دامانه کي
که څهٔ هم دا را ته نهٔ ښکارېده سمه
چي په روغ وجود دا ګوډه هوسۍ ښکار کړم
خو په تش لاس بېرته تګ مي هم خوښ نهٔ وُ
بس په دا مي هغه وخت بې له څهٔ ځنډه
په هوسۍ پسې را و ګرځاوهٔ آس خپل
دا وه وراندي او زهٔ وروسته ور پسې شوم
خیال مي دا وُ چي په حال کي نې د منډي
کړم را پورته د نېزې په څوکه آس ته
مګر دغه کار دا هومره اسان نهٔ وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا هوسی، که څهٔ هم ګوره وه خو ځان نې
د ښکاري له هره واره او ګزاره
په چل ول شو په اسانه خلاصولای
که به ما ور ته هر څو په هنر سمه
کړه د خپلي ځلېدونکي نېزې څوکه
خو چي وار به مي کاوهٔ وربانديِ، دا به
هغه وخت بیا پر هغه ځای باندي نهٔ وه
یا به څو قدمه وړاندي وه وتلې
یا به پاته وه یو څو ګامه په وروسته
دغه لوبه مو تر ډېره وه روانه
کله دې خوا به زما پسې غوتې وې
کله ها خوا به زما ور باندي وار وُ
خو هیڅ وار پرې برابر نهٔ شو تر پایه
آخر ما د وجود ځواک سره را غونډ کړ
په دې نیت چي بس وروستے وار باندي وکړم
که دا وار هم خطا لاړ نو بیا به بېرته
شا ته ګرځم او تش لاس به کور ته ځمه
خو د دغه کار په وخت پېښه دا و شوه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون پـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي زما د آس پر مخ باندي زور وخوت
وئې نهٔ کړای شول چي ځان بېرته راټینگ کړي
د شا دوې پښې ئې ور واوښتې له زوره
پر سر باندي او ډېر بد لاندي را پرېووت
په دا حال کي چي په ځان زه پوهېدمه
نو بیا لري وم له آسه غورځېدلے
دغه وخت که څهٔ هم ډېر ومه خوږ شوے
خو هیڅ هډ مي د بدن مات شوے نهٔ وُ
پر خوږمنو وړو پاس مي مغزے روغ وُ
بنه لا داوه چي د آس مي مغزے روغ وُ

✲ ✲ ✲

چي په خاورو خړ را پورته شوم له مځکي
ژر مي و کتل و شا ته او بیا مخته
په لاسونو مي ځان و څاندهٔ له خاورو
آس مي ونیو او ورباندي مي زین سم کړ
پښه مي واړوله بیا پر نیلي باندي
خیال مي دا وُ چي کرم کوده هوسی هېره
او په دوه لاسه روان شمه خپل کور ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو چي و مي کتل مخته نو حېران شوم

چي د خاورو پر سپېرهٔ غوندي يو ځلي

ده هغه هوسۍ ولاړه هسکه غاړه

ما ته ګوري په ځير ځير، په غټو غټو

چي د ټول جهان ښايست پکي راغونډ دے

هغه دوې سترګي ئې دا رنګه ښکارېږي

لکه ما ته چي پېغور را کوي وائي

چي دا تهٔ ځکه ښکاري و ځان ته وايې

چي له ښکاره په تش لاس بېرته روان شوې

دې پېغور زما پر تن باندي اور بل کړ

په هوسۍ پسې را و ګرځېدم بېرته

تر تيارهٔ ماښامه پوري مي ور باندي

وې هغه رنګه غوټې، هغه وارونه

خو هيڅ وار هم برابر ور باندي نهٔ شو

تر هغو چي شين ځنګل مخي ته راغے

ونو ونيول زما مخته لاسونه

او په غېږه کي ځنګلهٔ هوسۍ کړه پټه

ما کتل ور ته چي دهٔ هوسۍ کړه پټه

(WWW.KITABTOON.COM) كـتـابـتـون تـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې هوسۍ ځنګله په غېږه کې کړه پټه
زما مخته تکه توره شپه شوه پاته
ومه سترې او دا هومره توان مې نهٔ وُ
چې د دې توري بلا سره په جنګ شم
ځکه شومه د پناه د ځای په لټه
چرته لرې مې رڼا شوله تر سترګو
دې رڼا ته چې مې و رساوهٔ ځان خپل
څهٔ کورونه وو چې بل ئې وو اورونه
بس همدغلته ما خپله شپه کړه تېره
سهار ژر شومه لګیا چې پر آس باندې
زین کړم سم او د خپل کور په خوا روان شم
خو چې زهٔ روانېدم، دغه مهال مې
د دې خپلو کوربنو د کور له مخه
یوه ګوده غوندې پېغله شوه تر سترګو
دغې پېغلې ته ما دومره پام و نهٔ کړ
پښه مې واړوله بیا پر نیلې باندې
او روان شومه د خپل بورجل پر لورې
چې یو څو قدمه لا رمه په وړاندې

(WWW.KITABTOON.COM) کيتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته شوم دې نندارې ته هک پک پاته
چې د خاورو پر سپېرهٔ غوندي يو څلي
ده هغه پېغله ولاړه هسکه غاړه
ما ته ګورې په ځير ځير په غټو غټو
چې د ټول جهان ښايست پکې را غونډ دے
په وېنا د هغو سترګو ئې زهٔ پوهـ شوم
چې بلنه را کوي د بلي منډې
مګر ما ته خپل زړهٔ و ويل په کلکه
چې د ښکلو غټو سترګو په بلنه
که پښه ګوډه هم وي مهٔ ور سره ځغله
ضروري نهٔ ده چې ستا آس به بل وار هم
تيندک خوري او پر سر باندي به درېږي
ستا مغزے به بيا هم ستا پر ورېو روغ وي
او خبر دا ستا د مړينې به دروغ وي

* * *

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خط

نیمه شپه وه او رڼا چرته هم نهٔ وه
په تیارهٔ باندې وې تولې خېمې ډکې
ډے ورو ورو پکې روان ؤ پټ په پټه
یو ځای داسې خېمه هم ور ته ښکاره شوه
چې ترې لاندې څهٔ رڼا معلومېدله
نادر ژر دغې خېمې ته ور نږدې شو
یو سوړے نې کړ پېدا او له هغه نې
ور ته و کتل او و نې لید په سترګو
یو ځلمے، چې یوهٔ تت څراغ ته ناست ؤ
په قلم نې څهٔ لیکل پر کاغذ باندې
له لیکلو چې اوزګار شو نو قلم نې
لاندې کښېښوو او کاغذ نې کړ ور پورته
چې کوم څهٔ نې په خپل لاس ؤ پرې لیکلې
شو لګیا چې هغه و لولې په زوره
خبر نه ؤ چې د باندې نې څوک اوري

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې توګه شوه نادر ته دا څرګنده
چې لیکلې ئې دے خط و خپلي مور ته
دي په خط کي ئې هغې ته دا لیکلي
چې نادر ته هیڅ دښمن تیښګ شوے نهٔ دے
چې د دهٔ په زړهٔ د دهٔ تر بیرغ لاندي
دا ځل هم موږ میدان و ګټو نو بیا به
د خوښۍ او اوزګارتیا په دغه وخت کي
ما ته هم اجازه و شي چې بیا در شم
ستا د پښو د ښکلولو په نیت کور ته
ته زما وادهٔ ته ډېره نې لېواله
لور زما د تړهٔ دي ما لره ده غوښتې
د خپل تړهٔ دا لور زما هم د زړهٔ سر ده
زهٔ چې کله را وادهٔ کړمه دا حوره
وي زما په شان به دا هم ستا مزدوره

✻ ✻ ✻

د نادر چې شوې تر غوږ دغه خبرتیا
پر بدن باندي ئې سرې لمبې شوې بلې
په غرومبا لکه زمرے شو ور دننه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځلمي وجود په رپ باندي اخته شو
چي باچا په قهر دا و وېل دهٔ ته
چي وه خپله ورسته مور خو دي په زړهٔ کي
پېغلتوب د ترهٔ د لور دي هم په ياد وُ
د نادر فرمان دي وُ مګر هېر کړے
د دې هېري چي به کومه سزا مومې
په دې خط کي هغه هم و ليکهٔ مور ته
ځلمي هم بله و نهٔ کړه او لګيا شو
په وېنا د خپل باچا ئې ژر تر ژره
د مور خط ته دا خبره کړه ور زياته
چي زموږ لښکر ته وُ دا وېل شوي
چي هيچا ته هم د دې اجازه نشته
چي نن شپه دلته يا اور يا څراغ بل کړي
دغه امر ته هر چا وه غاړه ايښې
تنها زهٔ وم چي پروا مي ئې و نهٔ کړه
چي مي تا ته دا يو څو کرښي ليکلې
نو-څراغ مي وُ خپل ځان ته لګولے
دې خبري ته مي و نهٔ کړ هيڅ فکر
(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي زما د دې څراغ په رڼا باندي
زموږ ځای معلومېدلای شي دښمن ته
او هغه د خوب په حال کي پر موږ باندي
شي کولای سخت یرغل او په دې توګه
سرې کولای شي زموږ په وینو تُوري
خو زموږ باچا ډېر وېښ او سترګور دے
هیڅ خطر له هغه پټ پاتېدای نه شي
زما تت غوندي څراغ ئې هم معلوم کړ
په دې نیمه شپه خېمې ته دا دے راغے
دے ولاړ ایستلې تُوره زما مخته
دا وروستی کرښې و تا ته په دې خط کي
د هغه په فرمان زهٔ دا یم لیکمه
چي دا و لیکم نو دَے به سمدلاسه
د خپل تېغ په قهرېدلې تېره څوکه
زما تن توته توته کړي سر تر نوکه

* * *

چي ځلمي دغه خبري پکې ځای کړې
هغه خط په خپل بَوهٔ لاس نادر واخیست

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دا بل لاس ني د دهٔ پر وجود باندي
په خرورې تُوره پېل كړل گُزارونه
او توته توته ني پرېښوو په خېمه کي
خو په دې ني لا خوا سمه سره نهٔ شوه
نيت ني و كړ چي د دهٔ د مور تر زړهٔ هم
سمدم و باسي په زهرو ككړ غشے
او د زُوی په لاس ليكلے هغه خط ني
د استازي په لاس وا ستاوهٔ هغې ته
هغه شوه په خط تر حد زياته خوشحاله
هغه زُوی چي د دې زړهٔ د دې نظر وُ
د هغه د راتگ دې خوږو خبرو
د هغه د وادهٔ دې پستو خبرو
د دې سترگي كړې په نوې رنا ډكي
خو ناڅاپه د خط ژبه شوه بدله
وروستى برخه ني وه دومره لړزوونكې
چي كوم چا چي دغه خط اوراوهٔ دې ته
دې ته داسي شوه ښكاره لكه هغه چي
وي لگيا د دې زړهٔ ژوبي په غابنونو

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر يو تکے چي د دې خط د لوستونکي
تر خُلهٔ ووت هغه تر دې رسېدهٔ دا سي
لکه سره توته د دې د زُوی د غوښي
چي ور غورځوي يو ښوک او دا پرې ولي
دې ناورين ور ښخه هوښ او عقل يووړل
وه به ناسته بيا پر لويه لاره باندي
او وَيل به نې نادر دے جنګ ته تللے
چي بَرے پر دښمن باندي خاوند ور کړي
هغه وخت به زما زُوی کور ته را پرېږدي
زما زُوی به ښکلې ناوې کور ته را وړي
په دې ناوې به دا کور لکه جنت شي
دا جنت او ټول وطن به په امان وي
د نادر تر رپېدونکي بېرغ لاندي
د دهٔ تېغ به د اولس وي ساتندويه
ښوک به، نهٔ شي بېلولای مور له زويه

* * *

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# آخره خاتمه

د هغه کره بل نر ځناور نهٔ وُ
دغه يو ښکلے کبلے ئې وُ ساتلے
د وسې دغه بچے د دهٔ ډېر خوښ وُ
نن چې ووت د جنګ په نيت له خپله کوره
نو همدې کبلي ته وُ لږ پرېشانه
دا په دا چې د دُوی دا. سې عقيده وه
چې سرے چې کله جنګ لره وي تللے
نو تر څو چې بېرته خپل کور ته را نهٔ شي
تر هغو به چا ته دا اجازه نهٔ وي
چې د دهٔ د کور يو نر ځناور مړ کړي
که ئې مړ کړي نو به دغه جنګيالے هم
بيا په تېغ د دښمنانو وژل کېږي
او د دې صفا صفا دغه مطلب وُ
چې که دا کبلے د دهٔ تر راتګ مخکې
څوک د ښو او يا د بدو په نيت مړ کړي

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو به دَے هم مري په لاس د دښمنانو
خوري بهٔ تېغ پر سینه پاس د دښمنانو

❋ ❋ ❋

دَے چي جنګ لره روان شو اوس له کوره
نو د دُوی د عقیدې او دین له رویه
د همدې کبلي په سا کي د دهٔ سا وه
دهٔ دا سا د خپلي ښځي په لاس ور کړه
ښځي غوښته دغه ورځ له لویه خدایه
دې خپل زړهٔ وختي وٌ بل چا ته ور کړے
تش بدن ئې وٌ بندي د دهٔ په لاس کي
اوس وٌ وخت چي زړهٔ او تن سره یو ځای کړي
بس د شپې ئې د کبلي پر غاړه باندي
وه تېره چاړهٔ په پټه تېره کړې
او پر غوښو ئې اشنا وٌ مېلمه کړے
ناروا یار ئې په غلا وٌ مېلمه کړے

❋ ❋ ❋

کبلے ورک شو، بیا د چا په سترګه نهٔ شو
وه مېرمن به ئې د ورځي کور یواځې

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو د شپې په حال نې خلک خبر نهٔ وُ
چا و چا به وي شک هم ور باندي کړے
خو د دې په داسي خلکو پروا نهٔ وه
دا اوس وه سترګي په لار و هغه چا ته
چي خبر نې د مېږهٔ د مړيني راوړي
او دا خلاصه شي د بل وادهٔ دپاره
مګر دا خلاصون نې خدای په برخه نهٔ کړ
جنګ چي مات شو او سرتېري را ستانهٔ شول
نو چي دا نې وه د مرګ په هيله ناسته
هغه څوک هم روغ رمټ راغے خپل کور ته
دغه وخت هر طرف زوږ وُ او غوغا وه
چا ماتم کاوهٔ د کور سرے نې مړ وُ
څوک وُ خوښ چي جنګيالے نې ژوندے راغے
خو د دُوی کور په کورونو کي وُ داسي
چي نهٔ زوږ شو پکي پورته او نهٔ شور وُ
عجيبه وارخطائي پکي خوره شوه
وه _ مېرمن ئې وېرېدلې وېرېدلې
د مېږهٔ نې په خبره سر خلاص نهٔ وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کبلے هم ور ته په کور کې ښکاره نۀ شو
سم جواب د هيڅ پوښتنې ئې و نۀ مونده
پای ئې تُوره پرې را و ايسته له تېکې
وارخطا ښځې ته نۀ وه بله لاره
حال ئې تول و دۀ ته و وايه له ډاره

✻ ✻ ✻

حال چې تول د کور ښځو ته ور معلوم شو
دې خبرې ته حيران شو چې کبلے ئې
وژل شوے دے او دَے بيا هم ژوندے دے
د دا هسې حيرانتيا په دې شيبه کې
ور ته هره عقيده درواغ ښکاره شوه
دين، مذهب او ديني مشر په دا وخت کې
درواغجن وو په نظر کې د دۀ واړه
او تر تولو د ناوړين خبره دا وه
چې د دۀ پت او غېرت وُ داغي شوي
دغه تاؤ ئې وينه داسې ايشَوله
لکه اور چې ئې په رګ رګ کې بهيږي
د دا هسې جوش په حال کې ئې په تُوره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سر د خپلي ښځي بېل کړ له بدنه
د هغې د وينو پورته شوې ځلکي
او دے و ووت چي په خپله تېره تُوره
د بېځايه عقيدو ريښه هم پرې کړي
او د دې ځاى د ديني مشر په وينه
کړي خبره د همښ دپاره سپينه

* * *

په لټون چي ئې دَے تُوره په لاس و ووت
ديني مشر وُ لا مخکي غوړېدلے
او ايستلے ئې وُ ځان د دهٔ له مخه
چي ئې دغه سړے کښېې نهٔ ووت په ګوتو
نو په خپل هغه دښمن پسي روان شو
چي په ژوند کي ئې د دهٔ پت او غېرت ته
وُ په بذ او په خيرن نظر کتلي
خو هغه بيا د بدى په چل ښه پوه وُ
داسي تُوره ئې په کور کي تل ساتله
چي په زهرو کي به وه ښه ايشېدلې
نن ئې هم په دغه رنګه توه تُوره

کتابتون پلوته (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


جنګ له دهٔ سره تر ډېره پوري وِ کړ
او آخر ئې په داغه تُوره زخمي کړ
ور نزدې ئې وازي خلې ته د مرګي کړ

❋ ❋ ❋

اوس چي دَے د مرګي ژامو ته روان وُ
ديني مشر وُ خپل ځان را رسولے
دا وخت سر ته د دهٔ ناست وُ او ويَل ئې
چي زموږ پر عقيده او پر دين باندي
تا ببځايه هسي شک وُ خرګند کړے
ستا کبلے چي ستا تر شا وُ وژل شوے
نو زموږ له عقيدو سره سم ته هم
دا ئې مرې آخر د خپل دښمن له لاسه
دهٔ هم و منله دغه تېروتنه
توبه ګاره شو د تولو خلکو مخته
وُ په دې توبه له حده زيات خوشحاله
او ويَل ئې دا دُنيا مي شوه خرابه
خو هغه دُنيا مي دا ده په امان شوه
چي آخره خاتمه مي پر ايمان شوه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعِر

پر مېدان باندي د برخو وېش روان وُ
یو به بل پسې را تلل ور ته وګړي
پر خپل وار باندي به هریو ور پر مخ شو
ور ښکاره به ئې وېشونکي ته کړه تُوره
او هغه به خپله برخه په لاس ور کړه
دهٔ به واخسته او و به ووت له مخه
ژر تر ژره به ئې ځای بل ته ور پرېښوو
په دا حال کي د وېشونکي مخته راغے
یو سړے او خپله برخه ئې طلب کړه
دهٔ ویَل ور ته چي تُوره دي ده چرته
هغه ژبه ور ښکاره کړله چي دا ده
ماته کړې ما په دې د دښمن ملا ده

* * *

د وېشونکي چي تر غوږ شوه دا خبره
پام ئې تول د دا سړي خوا ته ور واوښت

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور ته و نې کتل پورته او هم کښته
ښې لستوڼې نې خالي ور ته ښکاره شو
حېرت يووړ چې دا لاس نې ولې نشته
خو بيا پوه شو چې همدا هغه سړے دے
چې د جنګ په وخت په مخ مخ کې روان وُ
چلوله نې تېره روښانه تُوره
مور د ډېرو دښمنانو نې کړه بُوره
پاى پر دهٔ هم برابر د چا ګُزار شو
دې ګُزار نې ښے لاس داسې ور قلم کړ
چې له تُورې سره يو ځاى لاندې و لوېد
دے کرياب شو نور نې جنګ کولاى نهٔ شو
په دې لته شو چې ځان و باسې شا ته
چې را و ووت نو د خپل لښکر په پاى کې
خپلو هغو جنګيالو ته مخامخ شو
چې وه دلته يوه چار ور سپارل شوې
هغه دا چې کوم وګړے چې له جنګه
پر شا را شي، لټوي د تېښتې لاره
دُوى دې سر د هغه و وهي په تُوره

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس چي دَے په نظر ورغے نو واړه
لکه وريږي زمري هسي پرې ور مات شول
دا ئې غوښت چي ککرۍ د دهٔ قلم کړي
دهٔ بې لاسه وړه کړه ور ته را مخته
او ويَل ئې چي ما لاس دے قربان کړے
نور که جنګ کوم په څهٔ به ئې کومه
دُوی ويَل ور ته چي کيږ لاس خو دي روغ دے
په دا کيږ لاس پر دښمن کوه وارونه
چي کوم وخت دغه هم بېل شي له بدنه
نو بيا خُلهٔ لرې له خُلې څخه کار واخله
ور توکه د دښمنانو پر مخ لاړي
چي دي خلاصي شي د خدای په مخکي غاړي

✲ ✲ ✲

د سرتېرو د وېنا په اورېدلو
دې سري ته خپله خُلهٔ شوله ور ياده
ژر ئې و ويَل له ځانه سره داسي
چي په خُلهٔ کي خو يواځي لاړي نهٔ وي
چي سرے به ئې توکي پر دښمنانو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


له دې لاړو سره ژبه هم پرته ده
دغه ژبه په ربښتيا هم د کار شے ده
بيا په تېره چي سَرے يو بنۀ شاعر وي
او خداى درونـد او خوږ آواز هم وي ور کړے
بس بيا ژر دغه شاعر هغه بل اور ته
شو ور سم چي د مېدان په يَوۀ گوټ کي
پکي اوسېني څۀ خلکو تودَولي
دۀ د خپلي وږې زخم کړ ور مخته
هغو کښېښووه سره اوسپنه ورباندي
لوگے پورته شو او غوښه ئې د زخم
شوه پخه داسي چي وينه ئې شوه بنده
که هر څو په دې د دۀ خوږ او دردونه
بېخي زيات شول او دَے ډېر زيات په عذاب شو
خو بيا هم بېرته په جنگ باندي ور گډ شو
او دا ځل ئې کار له تُوري سره نۀ وُ
گُزارونه ئې کول په خپله ژبه
چي کتل به دې نو دلته به ولاړ وُ
تا به سترگي لا هم نۀ وي ړبولي

(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون پـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دهٔ به هلته بیا خپل ځان ؤ رسولے
اوس به ؤ د خپل لښکر پر یَوه څنډه
اوس دستي به ئې ؤ بلي ته راغلے
په دې شان به له یَوهٔ ځایه بل ځای ته
د بریښنا په ګام هغه رساوهٔ ځان خپل
او په مست غوندي آواز به ئې ویله
د میړاني او د ننګ داسي سندره
چي د خپل لښکر سرتېري ئې تول مست کړل
نوے توان ئې په لاسونو کي پیدا شو
خپلو تُورو ته ئې دا رنګه زور ورکړ
چي درېَے او خرپهار ئې په خپل کور کي
د دښمن خوندو او مندو اورېدای شو
دغه هسي ګُزارونو ته تینګ نهٔ شول
دښمنانو و کړه تېښته او یا مړهٔ شول

✲ ✲ ✲

د دښمن تر دغه هسي تېښته وروسته
طبیبان د دُوی تر ډېرو شپو لګیا وو
د ټپیانو په دارو او په درملو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


له دا وروسته را طلب شول تول سرتېري
هغه ځای ته چي وُ وېش پکي د برخو
دغه وېش د هغه مال وُ چي په جنګ کي
د ولجې په رنګ وُ دوی تر لاسه کړے
او د تُورو پر سر باندي په دې ځای کي
دا وخت تول په جنګياليو کي وېشل وُ
بيا چي کله دغه کار د وېش روان شو
يو په بل پسې را تلل ور ته سرتېري
پر خپل وار باندي به هر يو ور پر مخ شو
ور ښکاره به نې وېشونکي ته کړه تُوره
او هغه به خپله برخه په لاس ور کړه
پای شاعر ته هم وار ورغے او دے هم
شو ور وړاندي خو پر ځای باندي د تُوري
وېش کوونکي ته ور وړاندي کړه دهٔ ژبه
او وېل نې چي همدا ده زما تُوره
ما په دې د روغ لښکر مور کړه ور بُوره

✲ ✲ ✲

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لعلونه او سکروټي

چي ئې هسک سرونه ځان ته وو ټيټ کړي
چي ئې ډېر تاجونه وو په زور راوړي
چي ئې شنهٔ زمري تړل په وامهٔ پړي
پاى هغه باچا هم و تړله کډه
له جهانه ئې کړې پټې خپلې سترګي
يَوه لويه باچهي ئې په ميراث کې
تر شا پرېښووه د هغه زوی دپاره
چي راغلے وُ پر نوې ځواني باندي
په دې سم نهٔ و خبر چي باچا څهٔ وي
په سينه کي ئې وي کانړے او که زړهٔ وي
* * *
چي دا ځوان باچا په دې خبره پوه کړي
چي پر مخ باندي به څهٔ کول په کار وي
نو وزير ئې ور ته دا قصه کوله
چي يو وخت د شنې وياليې رونو اوبو کړ

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د فرعون باچا محل ته ور دننه
یو سندوخ چي پکي پروت نښکلے ماشوم ؤ
باچا پوه نهٔ شو چي دا له کومه راغے
خو د ښځي ئې ډېر خوښ شو او هغې بیا
باچا هم په دې راضي کړ چي دا لوی کړي
زوی ئې نهٔ دے خو په شان به ئې د زوی کړي

* * *

وزیر زیاته کړه چي دا هلک اوبو ته
خپلي مور ؤ له دې ویری غورځولے
چي فرعون باچا ته خپلو نجومیانو
وو ویلي چي ډېر ژر به ستا په ښار کي
یو هلک به اسرائیلو کي پېدا شي
دا هلک به آخر ستا تر سر تېرېږي
دې خبري فرعون و وېراوهٔ دومره
چي ئې و ګمارل خپل سري و دې ته
چي هر ځای چي د یعقوب په اولاده کي
هلک زېږي هغه وژني بې له ځنډه
داسي ډېر هلکان و تېغ ته مخامخ شول

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا هلک به هم حساب دا وخت په مړهٔ وای
غورځولے که نې مور اوبو ته نهٔ وای

* * *

هغه ځوان باچا وٗ غوړ ور ته نيولے
وزير بوتله قصه نوره مخ په وړاندې
او وېل نې چې فرعون په ناز او مينه
يوه ورځ دغه هلک په غېږ کې واخست
او هلک په دغه وخت کې خپل لاسونه
په غوته کړل ور اوږدهٔ د دهٔ و مخ ته
او راتينګ نې کړ د ږيرې تر وېښتانو
دې خبرې باچا وٗ وېراوهٔ دومره
چې وېل نې دا هلک هغه هلک دے
چې و ما ته نجوميانو وٗ ښوولے
دا که پاته شو ژوندے نو ما به وژني
زهٔ نې سر کوتم او خان ترې خلاصومه
خو راني ور ته وېل دا يو ماشوم دے
ماشومان خو بس همدغه رنګه کاندي
هغوی غورځوي را غورځوي لاسونه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي هر څۀ په لاس ور ځي هغه را نيسي
سمه نۀ ده چي سړے ني په دا نيسي

* * *

هغه ځوان باچا وُ غوږ ور ته نيولے
د وزير قصه ني اورېده په غور
چي وئل ني: د راني په دې خبرو
د فرعون په درزا شوے زړگے نۀ شو
د پخوا په شاني ببرته پر کراره
هغه غوښت چي ازمېښت پخپله و کړي
د ماشوم مخته ني کښېښوول دوه تاله
په يَوۀ تال کي پراتۀ تک سرۀ غمي وو
او دا بل ډک وُ د اور له سرو سکروټو
ماشوم تک سرۀ غمي پرېښوول او لاس ني
د سکروټو تال ته وا چاوۀ په بيړه
په موټۀ کي ني سکروټه کړه را پورته
په يَوۀ آن کي ني خُلې ته کړه دننه
چي ني و داغله داسي خپله ژبه
نرۍ گوتي ني د لاس کړلې تناکي

کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو فرعون باچا هم شو ور ته خوشحاله
دا خبره ئې شوه سمه زړهٔ ته تېره
چې د هر ماشوم په رنګه دا هلک هم
هسې غورځوي را غورځوي لاسونه
چې هر څهٔ په لاس ور ځي هغه را نیسي
سمه نه ده چې سرے ئې په دا نیسي

❀ ❀ ❀

ځوان باچا ئې وُ وبنا ته غوږ نیولے
او وزیر ور ته ګویا وُ په دې توګه
چې فرعون باچا چې کوم آزمېښت ږ کړ
هغه و نهٔ نیو هیڅ خای د دهٔ دپاره
کوم هلک چې دهٔ ژوندے په کور کې پرېښوو
هغه لوی شو او هم دهٔ ته موسیٰ جوړ شو
د دهٔ خُلهٔ ئې پای په ختو کړه ور ډکه
او لاهو ئې په څپو د شنهٔ درباب کړ
مګر نورو باچهانو له دې پېښې
دا چل زده کړ چې موسیٰ څنګه معلوم کړي
نو چې ته هم اوس له خېره خدای باچا کړې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


تهٔ به هم و وینې ژر داسي وګړي
چي ستا ږیري ته در اچوي لاسونه
داسي خلک له تا هم آزمویل غواړي
په لعلونو او د اور په سرو سکروټو
خوک چي و نهٔ کړي لعلونو ته کتنه
لاس سکروټو ته ور واچوي په خوښه
او عذاب کاندي قبول نو په دې پوهه شه
چي بل نهٔ دے بس همدغه ستا موسیٰ دے
تر دې وړاندي چي د دهٔ وار شي له مخه
او تا ستا د ویني سین ته ور غوځار کړي
تهٔ ئې و وهه سر، ځان ور ځني خلاص کړه
مګر چرته که په دې خبره پوهه شوې
چي لعلونه قبلوي او سرهٔ زر اخلي
بیا نو دې ته اړتیا نشته چي آواز ئې
د تېرې تورې په زور باندي ور بند کړې
وازه خلهٔ ور دکوه په سرو لعلونو
دواړې شوندي ور ګنډه په تار د زرو
تورد نهٔ غواړي دا کار دے کار د زرو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر مځکه پروت زړګی

سپيني تُوري وې په سرو وينو لړلي

او پسې وې د وګړو په سرونو

د دې تولو تُورو شا ته يو يو لاس وُ

دغه تول لاسونه وو د هغو خلکو

چي نادر ترې خپل لښکر وُ تيار کړے

او په زور د دغه هسي لُوی لښکر نې

د ډيلي ښار په اسانه وُ نيولے

د ډيلي ښار هسي عام غوندي ښار نهٔ وُ

دا د تول هندوستان زړهٔ وُ او دا زړهٔ نن

تبرهٔ تبغ ته مخامخ وُ په دې توګه

چي نادر خپل دې خروړي شان لښکر ته

امر کړے وُ چي خور شي په دا ښار کي

په وژنه او لوټنه کړي لاس پوري

له زړسويه په هيڅ حال کي کار وا نهٔ خلي

د ښاريانو په سرونو و کړي لوبي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه خلک ټول په منډو باندي سر ؤ
پر وړو نې خپل سرونه وو اخستي
ځغلول نې کله دلته کله هلته
لښکریان تُوره په لاس ور پسې ځغاستل
یو به ورغے له دې اړخه ورباندي
بل به راغے پرې له هاغي خوا په منډه
د ښار خلک وو د تُورو په ګرداب کې
پر چا باندي به له وړاندي ګُزار و شو
د چا سر به لاړ د څټي له طرفه
په سرو وینو شوې کوڅې او لاري ډکي
لوړ په لوړ پراتهٔ وو مړي مړي
دېوالونه په سرو وینو وو لړلي
د سېلاب په رنګه وېره بهېدله
وو اخستي نې له ځانه سره خلک
هر وګړے ؤ د ځان بدي اخستے
یاد نې نهٔ ؤ هیڅ شے هم له ځانه پرته
خو د دغي ځان ځانۍ په وخت هم دلته
یَوه مور دا رنګه وه چې ځان نې هېر ؤ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه د خپل ماشوم زوی غم په مخه کړې
دا ماشوم نې وُ په خوا پورې نیولے
تله په منډه کله وروسته کله وړاندې
تېرو تُورو خلې په خلکو لګولې
خو تر اوسه پورې دې یا د دې زوی ته
د هیڅ تُورې څوکه نهٔ وه رسېدلې
په دې حال کې غوغا زیاته شوه، زور ډېر شو
دغه مور چې وه پر مخ پکې روانه
هغه خلک تول پر شا داسې راغبرګ شول
لکه مخته چې نې لویه پوله ور شي
او اوبهٔ ببرته پر شا باندې را ډب کړي
دغه پوله، دا چې خلک نې را تم کړل
دا پخپله وُ نادر چې په دا وخت کې
لکه قهر د خدای هلته را څرګند شو
په سرو وینو سره نېزه نې وه په لاس کې
د ګرداب رنګه نې خلهٔ وه په خګ ډکه
بې زړسویه لښکریان ور سره ملهٔ وو
لړزوونکې غوندې چیغې نې وهلې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ایسته به نې نېزه له یوهٔ تنه
په وجود به نې د بل کس ښخوله
هر طرف چینې د وینو خوټکېدلې
د دې مور چې باندې و لګېدې سترګې
په لیدو نې دومره زیاته وارخطا شوه
چې ماشوم نې له لاسونو داسې ولوېد
لکه زړهٔ چې نې دا وخت د نادر مخته
له کوګله وې پر مځکه را لوېدلے
دا پر مځکه پروت زړګے چې نادر ولید
د نېزې څوکه نې کړله پکې ښخه
کړ ور پورته نې د مور غېږې ته داسې
لکه دے چې دا لوېدلے زړګے بېرته
په کوګل کې د هغې ایښوول غواړي
دا نې و کړل او په قهر مخته تېر شو
دا ماشوم، دغه زړګے د دې ببوزلې
دا د دې په غېږ کې دا رنګه شو پاته
لکه چړته چې ویشتلے مرغهٔ ړبې
دې د دړد په دغه حال کې ویل خدای ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي که ته رښتیا خوب نه لرې او وینې نې
نادر وینې نو بیا ولې داسې چپ نې؟
خو جواب د دې پوښتنې نې وا نه ورېد
او په دې خبره هیڅ خبره نه شوه
چې وینې خدای ده په راتلونکې زمانه کې
د عبرت یوه دا رنګه ورځ هم اېښې
چې د دې زوی چې نې ؤ په تېغ پېيلې
شي هغه نادر پر خپل زوی بد ګمانه
او په جبر د هغه له ځوانه مخه
سترګې و باسي د تېغ په تېره څوکه
چې پرې اوښکې لا هم نه وې څڅېدلې
پر هغه ګرېوان نې وینې شي رواني
جابر پلار چې د زوی دې وینو ته خېر شي
زړه نې وکړي سوي خرېکې او دے پوه شي
چې خنجر نې په خپل زړه کې دے وهلے
چې ایستې به نې د نورو خلکو سترګې
نو رڼا د دهٔ د کسو زیاتېدله
خو د زوی په وار نې دید د دوارو سترګو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي تت شي چي په خپل او په پردي کي
زياتي فرق کول د دهٔ دپاره گران شي
شي پر خپلو خلکو باندي بد گمانه
چي وهلې نې د دهٔ دپاره تُوري
دغه هسي ډېر لاسونه چي قلم کړي
نو خپل خلک بيا له دهٔ واړه په ډار وي
او دَے هم له هغو ويري وي اخستے
مخ د هغو تُورو واوړي د دهٔ خوا ته
چي په زور نې دهٔ نيول ياغي ملکونه
يَود شپه له دغو تُورو يَوه تُوره
د دهٔ خلک کړي د دهٔ په تن کي بنخه
خپل ورارهٔ نې ور ته ناخي، ور ته خاندي
چي د دهٔ پرېکړے سر شي ور ته وړاندي

❋ ❋ ❋

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوومه ګُنبده

د باچا مخته دا وخت وې شپږ ګُنبدې
په دې شپږو کې پنځۀ وې یو مخ بندې
لار له هیڅ یَوۀ طرفه ور ته نۀ وه
خو شپږمې ته سَرے ننوتَے شو
دې لرله یَوه لار او له دې لارې
اوس باچا کرار کرار شو ور دننه
دا چې دَے شو ور دننه، دا ګُنبده
وه د دۀ د باچهۍ پوره همزولې
ۆ تاداو نې هغه ورځ اینبوول شوے
چې د خپل پلار پر ځاى دَے ۆ باچا شوے
زور ۆ تللے او خلمے ۆ باچا شوے

✲ ✲ ✲

چې د پلار پرځاى خلمے ۆ باچا شوے
نو هغه لره د تول اولس له پېغلو
وې-په چان پنځۀ رانې را ایستل شوي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د دهٔ په ویړ او لوی غوندی محل کې
د دې هري رانۍ ځان لره خپل ځای وُ
همداغه رنګه د هري رانۍ وار وُ
پر خپل وار به نې خلمې باچا مبلمه وُ
په پنځهٔ شپې کې به هري یوې یو ځل
تېروله شپه د خپل څښتن په غېږ کې
تر پنځو کلو به دا تړون روان وُ
له دا پس به چانې شوې نوري پنځهٔ پېغلې
ځلبدونکې لکه ستوري پنځهٔ پېغلې

❋ ❋ ❋

چې د پلار پر ځای خلمې وُ باچا شوې
او هغه لره د تول اولس له پېغلو
وې په چانې پنځهٔ رانۍ را ایستل شوې
دغه وخت نو هر چا دا رنګه ګڼله
لکه ګرځ چې د زړتیا وې لرې شوې
پر هر شي باندې وې بیا ځواني راغلې
تر پخوا هر ژوندې سرې زیات ژوندې وې
دا په دا چې د دې خلکو عقیده وه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې په دې جهان کې ژوند په خپل هر رنګ کې
د باچا له زوره زور او قوت اخلي
چې باچا په بدن روغ، په وجود ځوان وي
زور ئې ډېر وي هم په مېو هم په ملا کې
د پنځو ښځو اړتيا پوره کوي شي
او لګيا وي همېشه پوره کوي ئې
بيا نو مځکه زياتي وچه نهٔ پاتېږي
برالبه کيږي په بيا بيا او ځني زېږي
تاندي وني، زرغونه وابنهٔ او بوټي
که مرغان وي په هوا کې، که ځاروي وي
يا د مځکي پر مخ نور نور ځناور وي
د باچا د ملا د زور له برکته
شمېر د ټولو ورځ په ورځ وي مخ په وده
د انسان مېږ او مروند له زوره ډک وي
هر ماشوم چې راځي دلته دې نړۍ ته
هم ښواکمن وي په بدن هم جوړ او روغ وي
مګر کوم وخت چې باچا د ډېرې خاوري
شي ناروغه يا ئې مخه شي زړتيا ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وجود توان نې ورو ورو په کمېدو شي
نۀ نې غړي د بدن وي هغه رنګه
نۀ نې وي هغسې زور په ملا کې پاته
ور سره نو په وطن کې هم ډېر زغرده
د زوال نخښې ښکاره شي هر لور ته
لاندې دروميي، هيڅ شے نۀ ځي مخ په پورته

❁ ❁ ❁

چې د پلار پر ځاى خلمے ؤ باچا شوے
او له زوره نې تر ډېره وخته پورې
په وطن کې هر شي زور او قوت اخست
خو آخر دغه باچا هم يو انسان ؤ
او انسان پر يَوهٔ حال پاتېداى نۀ شي
د ځوانۍ ډېوه د دۀ هم شوه پاى تته
هغه زور نې پاته نۀ ؤ اوس په ملا کې
چې اړتيا د پنځو بنځو ور پوره کړي
چې په دغه کمزورۍ نې رانۍ پوهـ شوې
نو له دود او له رواجه سره سم نې
پټ په پټه سرداران پاندې خبر کړل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه کار اوس سردارانو ته شو پاته
چي ژر و ژغوري وطن له دې زواله
او هغو هم یَوه ورځ د خوب په حال کي
پر باچا باندي یو سپین څادر هوار کړ
چي را ویښ شو او دا سپین څادر ئې ولید
باچا پوه شو چي بس قام قرباني غواړي
او د دغي قربانۍ لاره وه تللې
پر طرف باندي د هغو شنو ګُنبدو
چي پنځهٔ ئې وې یو مخ بندي ولاړي
لار له هیڅ یَوهٔ طرفه ور ته نهٔ وه
خو شپږمي ته سرے ننوتے شو
یَوه لاره ور ته وه اوْ له دې لاري
باچا شو دغي ګُنبدي ته دننه
په ګُنبده کي وه ښکلې پېغله ناسته
د هغې پر خنګانهٔ ئې خپل سر کښېښوو
او د تل دپاره لاره د ګُنبدي
سردارانو کړله کلکه پسي بنده
د خپل پلار او هم د خپلو نیکهٔ ګانو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په شان دَے هم ژوندے و سپارل شو مرګ ته
او اولس ئې څلمي زُوی ته پر سر باندي
تاج ور کښېښوو او پنځهٔ ښکلي رانی ئې
د اولس له پېغلو کړې ور لره غوره
خوشحالي شوه او هر چا داسي ګڼله
لکه ګرځ چي د زړتیا وي لري شوے
پر هر شي باندي وي بیا ځواني راغلې
تر پخوا هر ژوندے سرے زیات ژوندے وي
جشن جوړ وُ، لوی و کم په ګډا سر وُ
په دا شور، په دا غوغا او په دا زوړ کي
شپږ ګُنبدي یو طرف ته وې ولاړي
دغه شپږ ګُنبدي شپږ واړه وې بندي
لار له هیڅ یَوهٔ طرفه ور ته نهٔ وه
او اوومه ئې په خوا کي جوړېدله
دې اوومي ته ئې لاره وه پرې ایښې
دا ئې هم د چا دپاره وه پرې ایښې

* * *

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د جنت اوبۀ

شاځلمیو چلولې خپلې تُوري
له دښمنه سره جنګ د دُوی روان وُ
پاکو پښتلو وې اوبۀ پسې اخستې
اوبَول به نې زخمیان تر خپله وسه
په دا پښلو کې زۀ هم وم یَوه پښله
او له دُوی سره په دغه کار وم بوخته
چې آواز یَوۀ زخمي را پسې وکړ
هغه غوښتلې اوبۀ، زۀ شوم ور غبرګه
په چاګله کې مې وې څۀ اوبۀ پاته
دا اوبۀ مې دغه تږي لره ور وړې
او چاګله مې ور پورته کړله خُلې ته
دۀ لا خپلې وچې شونډې اینبې نۀ وې
د چاګلې پر خُله باندې چې تر غوږ نې
شو آواز د یَوۀ بل زخمي ملګري
هغه هم غوښتې اوبۀ، ستونې نې وچ وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دهٔ، زړ شونډي له چاګلي کړلي پورته
او وېل ئې چي تهٔ ما دغسي پرېږده
دغه بل زخمي تر ما هم تږے ښکاري
ستا اوبهٔ دي ښخي لړي، تهٔ دا ور وړه
د دې تږي او خوږمن ورور کار ور و کړه
ما هم و منله زړ دغه خبره
دَے مي پرېښوو پر خپل ځاى باندي دغسي
او اوبهٔ مي دويم تږي لره ور وړې
مګر هلته هم داغه رنګه چل و شو
دا خبره بس همداسي اوږدېدله
کوم زخمي ته چي به ما اوبهٔ کړې وړاندي
هغه وخت به د بل تږي آواز راغے
دا چي ما به وې اوبهٔ ور ته نيولي
دې به و وېل تهٔ ما دغسي پرېږده
دغه بل ورور تر ما زيات تږے ښکارېږي
دا اوبهٔ ور وړه هغه باندي اوبهٔ کړه
په دې توګه به يوهٔ زخمي له ځانه
زهٔ ليږلمه د بل زخمي و خوا ته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې رنګه به اوبهٔ په لاس زهٔ تلمه
له یَوهٔ ترېه د بل ترې طرف ته
تر دې حده چې اووم سرې ته راغلم
خو د دې سرې تر وچو شونډو پورې
لا ما څاڅکے اوبهٔ نهٔ وې رسولې
چې د شا له خوا يو چا زما له لاسه
د اوبو چاګله و ایسته په زوره
ما چې څه رنګه ور واړولې سترګې
نو په وړاندې مې ولاړ يو ښکلے ځوان وُ
خدای ور کړې وه پياوړې دنګه ونه
شنهٔ زمري ئې ډارولای شول په سترګو
د مېړاني نښانې ئې ښکارېدلې
له تندیه، له کړو وړو، له مړوندونو
چې ئې سارے چرته ما لیدلے نهٔ وُ
پر دا هسې يوهٔ آس باندې دَے سپور وُ
په ښې لاس کې ئې وه تکه سپینه تُوره
په کین لاس ئې کړه چاګله پر سر پورته
په چاګله کې چې هر څومره اوبهٔ وې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پښتو ویبپاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په يَوه ايندۀ ئې تېرې کړې تر ستونې
کړه چاګله ئې را تسه بېرته ما ته
د اوبو پکې يو غرپ هم نۀ وُ پاته

✽ ✽ ✽

چې چاګله بېرته راغله زما مخته
ما په څير څير ور ته و کتل او بيا مې
مخ را واړاوۀ چټک هغه زخمې ته
چې له تنه ئې سرې وينې وې روانې
او څهره ئې تکه زېړه وه آوښتې
پر وجود ئې تېرېدې څپې د خوږو
په سينه کې ئې سور اور له تندې بل وُ
په ارمان ئې د اوبو رېبدې شونډې
زما زړۀ دې نندارې په اور کباب کړ
او په قهر مې ور واړولې سترګې
يو ځل بيا هغه پياوړې شا ځلمې ته
چې په زور ئې وې اوبۀ له ما اخستې
او هغه هم خپلې سترګې برابرې
کړې زما پر سترګو باندې او وېل ئې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي و ما ته داسي مهٔ ګوره په کرکه
دا زخمي چي پروت دے ستا د سترګو مخته
تر دهٔ زهٔ د دې اوبو وم زيات حقداره
کشولمه د مرګ و خلې ته تندي
دغه تنده مي وه داسي په سينه کي
لکه غشے د دښمن چي پکي ښخ وي
دغه غشے اوس زما له سينې و ووت
زياتي روغ يم پر وجود مي زخم نشته
ګډېدلای شمه بېرته د جنګ اور ته
او کېدای شي چي په زور د خپلي تُوري
د دا خپلو جنګياليو خوا درنه کړم
خو دا کوم زخمي چي ستا و مخته پروت دے
له زخمونو ئې بهيږي تودېويني
دَے خو هسي هم وتلے دے له کاره
پر وجود ئې غرونه غرونه خوږ پراتهٔ دي
په دې خوږو که د لږ ساعت دپاره
شي خواري د دغه تندي هم ور ګډه
دَے دي دغه خواري و زغمي په نره

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو شېبې وروسته چي سا شي تر دهٔ تېره
بل جهان ته د دنیا تر پُوله واوړي
د جنت اوبهٔ به حوري ور ته راوړي

* * *

ما چي واورېدې د ځوان دغه خبري
شوم غوږ غوږ ور ته او هر څهٔ را نه هېر شول
تر هغو چي يو ځل بيا دهٔ و خپل آس ته
پونده ور کړه او ور ګډ شو د جنګ اور ته
چي ور ګډ شو نو زهٔ بېرته شوم را وينبه
د رنېو سترګو له دغه درانهٔ خوبه
او چاګله مي په ورو ورو کړه را پورته
دواړي شونډي مي په مينه ور نزدې کړې
د چاګلي هغه خُلهٔ مي په ناز ښکل کړه
چي وې شونډي ښکلي ځوان ور باندي ايښي
خومره خوږ وُ خدايه دغه خوب د وينبي

* * *

کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوه مرې

قبر یو تیارېدهٔ او مرې دوه وو
مرې دوه وو او په وینو دواړه سرهٔ وو
دا یَوهٔ ته کتل خلکو لږ په کرکه
د دا بل نې درناوَے کاوهٔ او تولو
دا ویَل په درناوي دا سَړے ارزي
دَے په نره په دښمن پسې وُ تللے
ککرۍ به نې ترې کور ته وای را وړې
که تکي ور سره خپلو نهٔ وای کړې

❊ ❊ ❊

دا سړے، دا چې کېده نې اوس ستاینه
دهٔ یو څو ورځې له مخه وه را وړې
هغه ناوې چې د دهٔ د زړهٔ توته وه
خو د زړهٔ له دې توټې سره دَے دلته
دا مهال پاته کېدای نهٔ شو تر دېره
وُ-روان په خپل دښمن پسې له کوره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي ني سر له خپله ځانه سره راوړي
خو تر تګ وړاندي يو دود پوره کول ؤ
دود ؤ دا چي د دې خلکو عقيده وه
چي سړے چي د دښمن پر طرف باندي
په دې نيت وزي چي جنګ ور سره وکړي
نو کوم غشي چي نې وي پسې اخستي
په هغو کي دي يو بنۀ غشے کړي غوره
او په کور کي دي د دغه غشي څوکه
د يو چا د تن په غوښه کي کړي ښخه
د دې زخم د ذارو درملو کار دي
د خپل کور نورو وګړو ته ور پرېږدي
دے دي واخلي په دښمن پسې دا غشے
او دا غشے، دا چي خوند ئې دے کتلے
د انسان د تن د سرې او خوږې غوښې
دا چي کله پر دښمن باندي ور خلاص شي
د هغه غوښي ته سم رسوي ځان خپل
کېداى نۀ شي چي خطا کاندي نښان خپل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي تر تګ وړاندي دا دود پوره کول وُ
نو په دا دې سري غوښت چي ژر تر ژره
په خپل کور کي د خپل غشي شوکه سره کړي
د يو چا د تن په سره او خوږه وينه
خو دې کار ته چا ځان نهٔ شو تينګولای
پای د دهٔ ښايسته ناوې دهٔ ته راغله
او ويل ئې ستا دښمن غواړم چي ورک شي
د دا کار دپاره يم دې ته تياره
چي دا غشے دي زما په زړهٔ کي ښخ کړې
د زړګي په وينه ژبه ور خوږه کړې
چي يو ګل ئې د دې ويني خوند تر خُلهٔ شي
له دا پس چي ئې پر چا باندي ور خلاص کړې
دَے به زړهٔ ته د هغه رسوي ځان خپل
کېدای نهٔ شي چي خطا کاندي نښان خپل

✲ ✲ ✲

چي ئې واورېده د ناوي دا خبره
دا سرے بې اندازې زيات شو خوشحاله
په زړګي خو ئې و نهٔ لاړهٔ هيڅ کار هم

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ورانهٔ ني د هغې غشي ور ښخ کړ
د دې غشي چي په وينو ځلهٔ خوړه شوه
هله دهٔ له خپله ځانه سره واخست
ژر د خپل دښمن په ښکار پسې روان شو
د مېړاني په لوی کار پسې روان شو
چي د دهٔ د زړهٔ توته وه هغه ناوې
د ورانهٔ له دغه زخمه سره دلته
تر شا پاته شوه په کور او په کالهٔ کي
د دې کور، د دې کالهٔ او د دې سيمي
خلک وو په دې باور چي په امان وي
جنګيالي د جنګ په وخت تر هغو پوري
چي ئې ښځه وفاداره وي په کور کي
کوم سړي چي په دښمن پسې وي تللي
خپله ښځه ئې په کور کي وي پرې ايښې
که دا ښځه دغه وخت خيانت و کړي
د پردي سړي لاس پرېږدي و خپل ځان ته
نو مېړهٔ به ئې اورمرو په جنګ کي
وژل کيږي د دښمن په ګزارونو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوتل کېږي به نې تن په ګزارونو

* * *

دا سرے چې د دښمن په ښکار روان ؤ
نو تر شا ور پسې پاته وه په کور کې
فرشتې غوندې سپېڅلې پاکه ښځه
او هم دغسې يو غشے ور سره ؤ
چې په څوکه کې ئې مرګ د دښمن پروت ؤ
د دا هسې نېکمرغۍ په مهال دهٔ ته
په څرګنده توګه هيڅ خطر هم نهٔ ؤ
مګر کله چې دښمن ته مخامخ شو
هغه وخت ئې نهٔ دا خپل غشے په کار شو
نهٔ ئې ورغله په ښه وفا د ښځې
د دښمن له لاسه ژر په وينو رنګ شو
دغه جنګ د دهٔ د ژوند آخري جنګ شو

* * *

چې دا جنګ د دې سړي آخري جنګ شو
او د دهٔ مړے ئې سور په وينو راوړ
نو دا چيغه شوه له هرې خوا را پورته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د دهٔ ښایسته ناوې بېوفا ده
دَے چي کله په دښمن پسې ؤ تللے
هغې ځان ته د بل چا لاس دے پرې ایښے
ځکه سر دغه غریب و خوږ په جنګ کي
د داهسي کار سزا په کانو مرګ ده
خو تر داسي مرګ نې وړاندي دا حق هم شته
چي وروستے ارمان نې موږ سم ور پوره کړو
او د دې وروستے ارمان بل څهٔ کېدای شو
بې له دې چي په کوتلي سر دا کله
د ړندو او د کنو له دنیا درومي
نو شي کوزه له خاوند سره ملګرې
یوهٔ قبر ته او کور د دواړو یو شي
دا سبب ؤ چي کوم وخت په درنو کانو
خلکو و وژله دا مظلومه ښځه
د دې مړے نې هم هغه ځای ته راوړ
چي ؤ پروت پکي د دې د څښتن مړے
اوس نې دلته لُوی و کم په نداره وو
قبر یو تیارېدهٔ او مړي دوه وو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لاروَے

را روان وُ لاروَے له لرې ځایه
را پرې کړې نې وه ډېره لویه لاره
د دا کوم مزل په ګرځ چې نې مخ پټ وُ
دا د دهٔ لومړے مزل نهٔ وُ په ژوند کې
نور هم ډېر وُ ګرځېدلے په جهان کې
وې تر مخ نې تېرې شوې ډېرې پېښې
خو دا رنګ حېرانوونکې بله پېښه
چرته هم په مخه نهٔ وه ورغلې
لکه دا وخت چې نې وُ د سترګو مخته
پروت د شنو او د سپېرو کانو په منځ کې
یو باچا په خپلو وینو کې بېهوښه
خادمان نې شا و خوا ور ته ولاړ وو
کتل تولو په مړو سترګو و یو بل ته
یو هم دې ته تیار نهٔ وُ چې له مځکې
دغه خپل خوږمن باچا کاندې را پورته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تمام اولس بابا ګاندي را پورته

❊ ❊ ❊

لاروَے ؤ را روان له لري ځايه
خپل مزل ئې واهۀ ورو ورو مخ په وړاندي
چي ئې دغه نندارہ مخي ته راغله
دلته و کتل دۀ هر شي ته په غور
په یَوہ خبرہ باندي خو سم پوہ شو
چي باچا پر دې غريځه لاره باندي
د آسونو ګاډی وہ روانه کړې
ګاډی دہ ګورہ چي څۀ رنګه اوښتې
دَے ئې دے پر مځکه باندي غورځولے
خو په دې باندي ئې هيڅ هم سر خلاص نۀ شو
چي دا دومره خادمان ور ته ولاړ دي
دې خبري ته دُوی ولي تيار نۀ دي
چي ور و دانګي د خپل بادار کومک ته
کړی په غېږ کي ئې را پورته ژر تر ژره
بيا ئې و رسوي کور ته ژر تر ژره

❊ ❊ ❊

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروَے وُ را روان له لري ځايه
خبر نهٔ وُ چي د دې خلکو په فکر
باچا داسي مبارک او پاک سړے وي
چي تر دهٔ پوري دا نور وګړي واړه
ډېر خيرن او ډېر مترڼ ګنلي کېږي
چي تر څو پوري د دهٔ خپل امر نهٔ وي
تر هغو هيڅوک هم دا کولای نهٔ شي
چي نې پاک او مبارک تن ته لاس ور وړي
که نې ور وړي نو دا وي داسي يو جرم
چي سزا ئې د قانون له رويه مرګ ده
هغه څوک به وژل کېږي په هر حال کي
چي نې ګوتي له باچا سره وي نښتي
که و نهٔ وژل شي ځان په څهٔ چل خلاص کړي
نو د دې سړي سزا به تول اولس ته
ور کوي د آسمانونو باچا داسي
چي راځي به يو ډېر لُوی عذاب وربانديي
وي به تول بيا د بلا تر ګُزار لاندي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاړوے وُ را روان له لري ځایه
په لیدو ئې د دا هسي خادمانو
دواړي سترګي شوې په اور د قهر ډکي
خو په خلهٔ ئې هیڅ هم و نهٔ ویَل چا ته
چي توبنه ئې وه په شا پوري ترلې
له هغې ئې د اوبو پتک را واخست
نور ئې واړه شیان کښېښوول پر مځکه
او په بیړه د باچا خوا ته ور تېر شو
په ډاډه زړهٔ د هغه و سر ته کښېنوست
دغه وخت چي ئې د دوو سترګو په وړاندي
په سرو وینو رنګ دا کومه ننداره وه
دا د دهٔ د ژوند لومړی ننداره نهٔ وه
دهٔ دا رنګه نور هم ډېر څهٔ وو لیدلي
ځکه اوس د دغه خپل پتک په مرسته
په لږ وخت کي په خپل کار کي بریالے شو
په کوښښ د دهٔ باچا په هوښ کي راغے
د دې لُوی اولس بابا په هوښ کي راغے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاروے له لري ځايه ؤ راغلے
په کومک ئې اوس باچا په هوښ کي راغے
باچا و کتل يَوې او بلي خوا ته
چي ورو ورو ور ته خبره شوه څرګنده
نو ئې وکړ خادمانو ته دا امر
چي ما و رسوئ ژر خپلي مانۍ ته
اجازه چي خادمانو وته و شوه
هغه وخت نو لاروَے دې ته حېران ؤ
چي دا خلک خو تر اوسه تيار نهٔ وو
چي باچا له سپېرو خاورو کړي را پورته
مګر اوس ورباندي دا رنګه کړېږي
لکه تول چي پتنګان د دې څراغ وي
وس کوي چي ژر ئې يوسي خپل محل ته
بيائې بوت لاروَے هم ور سره هلته

✲ ✲ ✲

لاروَے له لري ځايه ؤ راغلے
اوس مبلمه ؤ د باچا په لُوی محل کي
چي زخمونه د باچا د بدن جوړ شول

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو پر دې خبره باندي غور و شو
چي کوم چا چي د باچا بې اجازته
د هغه وجود ته خپل لاس دے ور وړے
دا مهال په کار ده څهٔ ور سره و شي؟
د قانون له رویه وه خبره سپینه
بله هیڅ چاره نې نهٔ وه بې وژلو
چي باچا نې وُ د مرګ له خلې ژغورلے
د مرګ خلې ته اوس هغه پوري وهل وُ
پر تخته باندي د دار پورته ولاړ وُ
او زندی نې وه تر غاړي رسېدلې
باچا لاندي وُ ولاړ، ور ته وېل نې
چي ستا ښهٔ به تر قیامته موږ هېر نهٔ کړو
یو په دا چي زهٔ دي خلاص کړمه له مرګه
بل دا اوس چي دلته تهٔ قرباني کېږې
ستا د دغي قرباني په برکت به
دا خطر شي د دې قام له سره لري
چي راځي به یو ډېر لوی عذاب ور باندي
وي به واړه د بلا تر ګزار لاندي

کتابتون توطنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# یو سر په یوهٔ غمي

ماشوم زُوی د هغې کونډې چې خلمے شو
د دې ورې شو چې د پلار میراث خوندي کړي
نو دې مور هغه پېښې په ګوتو ور کړې
چې له پلاره نې په مرګ وې پاته شوي
پر دې کونډې که هرڅو خوارۍ او لوږې
وې راغلي د کونډتون په دغو شپو کې
دې ور ورے دې پېښو لره لاس نهٔ وٚ
وې له ځانه نې لا هم پټي ساتلي
چې وخت راغے نو یتیم زُوی نې خبر کړ
د مرهٔ پلار دا امانت نې په لاس ور کړ

✲ ✲ ✲

امانت چې د مرهٔ پلار دغه خلمي ته
په لاس ورغے، دا وخت نو هغه وخت وٚ
چې چنګیز او د هغه درنو لښکرو
وطنونه وٚ په مخه ـــړا اخستي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوبَول ئې په سرو وینو اولسونه
دا مهال ئې د دُوی خاوره وه په وړاندي
د دا هسي لُوی لښکر یَوه دسته شوه
یَوه ورځ د دُوي په سیمه هم ور ګډه
او لګیا شوه په لوټلو، په وژلو
په لږ وخت کي ئې سپېرې کړې ډېري مېني
چي هر څهٔ په لاس ور تلل هغه د دُوی وو
ډېر مالونه ئې را غونډ کړل لور له لوره
خو له چا سره چي نغدي څهٔ پیسې وې
هغو ټولو د دې کونډي د زُوی رنګه
له دښمنه کړله پټه دغه پنګه

❊ ❊ ❊

چي له چا ځخه دا پنګه دُوی کړه پټه
دا د هغه لُوی لښکر یَوه دسته وه
چي د دُوی هېواد ئې ټول وُ لاندي کړے
وُ باچا ئې هم له تخته غورځولے
دلته هلته هغه ځغاست په تېښته تېښته
دوه زامن د دې باچا په دا ناورین کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دُوی سیمي ته را و رسېدل داسي
چي د پلار د خزانې ډېر زيات غمي ئې
هم له ځانه سره را وړل مګر دلته
دواړه ورغلو په لاس د يرغلګرو
هغو تېره کړه چاړهٔ د دُوی پر غاړه
ترې قبضه ئې کړل دا ښکلي غمي واړه

✲ ✲ ✲

دې دښمن لره چي ورغلل په ګوتو
دغه هومره ښهٔ غمي، نو هغو وکړ
دا اعلان چي دُوی له دې ځايه روان دي
خو تر تګ وړاندي يو کار لري په نيت کي
هغه دا چي دغه ښکلي غمي خرڅ کړي
دا غمي که وو هر څو د ګراني بيي
دُوی ور و لګول خلکو ته ارزانه
خلکو و ګڼله دا په خپل خپل فکر
چي ليدلي دې تاتارو هيڅ هم نهٔ دي
په ارزښت د دې غميو څهٔ پوهېږي
دا په نغده پيسه باندي خوشحالېږي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څوک نغده پېسه دُوی ته په لاس ور کړي
نو بیا دا خبره نهٔ ښکارېږي ګرانه
چي دا تول غمي ترې واخلي په ارزانه

* * *

په ارزانه چي غمي خرڅېدل پېل شول
نو د ډېرو خلکو زړهٔ ور ته نرے شو
چي نې وې خپلي پېسې پټې ساتلي
د غمیو سوداګرو ته نې راوړې
مخ په مخه نې سودا ور سره و کړه
چي نې بیه د یوهٔ غمي درلوده
هغه واخست یو غمے او ترې روان شو
چي څلور غمي به کوم چا اخستے شول
د هغه به وو څلور غمي په لاس کي
په دې رنګ دلته خبره وه تر وسه
چا چي څومره وس درلود په هغه شمېر نې
غمي اخستو او ووت به له مېدانه
پای د کوندې زُوی هم خپلي پېسې راوړې
کوم غمي چي اخستل د دهٔ په وس وو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه دوه یا څلور نهٔ وو، پوره لس وو

* * *

پرغلګرو چي غمي ارزانه ور کړل
په دې چل ئې هغه خلک تول معلوم کړل
چي پېسې ئې وې له دُوی پټې ساتلې
په دې خیال چي څوک بیا دا رنګه و نهٔ کړي
یو ځل بیا د دُوی له اړخه اعلان و شو
په اعلان کې ئې ویل چي موږ تاتار یو
په خپل ژوند کي مو لیدلي هیڅ هم نهٔ دي
په ارزښت باندې د شي سم نهٔ پوهېږو
د دې خپلي نالیده ورځې له لاسه
په ارزانه تول غمي را څخه لاړل
دا غمي په ګرانه بیه بېرته اخلو
د یوهٔ غمي په ځای کي به هر چا ته
ورکوو پرېکړے سر د انسان دلته
په دې رنګ ئې بیا سودا کړله روانه
چي د چا کره به هر څومره غمي وو
په هغه حساب به دُوی د تیغ په څوکه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د همدغه کور د خلکو له بدنه
ببلولې ککرۍ او بیا نې ببرته
د همدغه کور تر ټولو مشر کس ته
د غمیو په بدل کي ور کولې
چي د کونډي کره دا سوداګر راغلل
د هغې د زوی سر یو او غمي لس وو
سوداګرو ویل دا سر داسي سر دی
چي قیمت نې تر یوهٔ غمي ډېر زیات دی
په یوهٔ غمي نې نهٔ ور کوو چا ته
خرڅوو نې په پوره لسو غمیو
بیا ئې پرېې کړ دغه سر په تبره ټوره
لس غمي ئې له دې کونډي کړل تر لاسه
او د زوی پرېکړے سر نې په لاس ور کړ
د هغې تر خلې ختلې سوي چیغي
او ویل نې زهٔ یم خومره بد نصیبه
چي پېسې مې وې ټول عمر خوندي کړي
په هغو مي نن د خپل بچي سر واخست
پر ورو مي د ویر خومره لوی غر واخست

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ځلمے سردار

چي د مرګ په سفر تللي وو کوم خلک
و هغو ته هم لېږل دوی پېغامونه
او د قام د هر وګړي دا باور وٌ
چي دا هر يو پېغام مړو ته سم رسېږي
د ژونديو په احوال هغوی خبرېږي

* * *

د غو خلکو چي به تل د مړو جهان ته
په څهٔ توګه ور لېږل خپل پېغامونه
هغه دا وه چي د مړهٔ نوم او نښان به
د دې قام سردار استازي ته ور وښوو
له دا پس به ئې پېغام په څو واره
ور ته واوراوهٔ ورو ورو په خوږه ژبه
چي استازي به ئې هر يوټکے ياد کړ
نو سردار به اشاره وکړه جلاد ته
او جلاد به ئې سر و واههٔ په توره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې توګه به استازے د ژونديو
ور دننه شو د تللو وېړ جهان ته
چې خپل مړهٔ ته پېغام و رسوي هلته
مګر کله به بيا پېښې دوې او درې وې
نو سردار او د دهٔ قام به فکر وکړ
چې يو کس دا سمي نهٔ شي رسولای
داسې وخت به د يوهٔ پر ځای دوه تنه
دُوی لېږل د مړو جهان ته له وطنه

* * *

بيا چې کله د سردار عمر آخر شو
نو تر مړينه ئې لږ مخکې خپل زُوی پوه کړ
چې زهٔ ځم د مړو جهان ته په دوه لاسه
قام، رمې، ورشو، رغونه، غرونه، سمه
هر څهٔ ستا دي او و تا ته پاته کېږي
زما حق که شته نو دومره دے چې هلته
د دې ځای د هرې پېښې خبر مومم
را رسيږي هم استازے هم پېغام ستا
لمانځل کېږم کله کله په سلام ستا

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي خلمے سردار د پلار پر ګدی کښېنوست
نو د پلار وروستی خبره ئې په یاد وه
چي هر ځای به یَوه نوې پېښه و شوه
د هغې حال به ئې تول استاوۀ دۀ ته
تر هغو چي یو بل قام له بلي مځکي
د دُوی خاوري ته راننووت په زوره
چي خلمے سردار پر خپله خاوره باندي
مخامخ شو د دا هسي دښمنانو
چور، چپاؤ، یرغل، تالان، لوټ او تېري ته
نو د خوږ او زخمي شوي پړانګ په رنګه
قهر واخست او د جنګ چیغه ئې وکړه
جنګیالي د قام ئې تول شا ته را غونډ شول
له غلیم سره ئې داسي جنګ روان شو
چي په وینو کاني بوټي تول ککړ شول
پای راغلي یرغلګر تېښتي ته اړ شول

❊ ❊ ❊

چي راغلي یرغلګر په تېښته لاړل
او په سیمه کې کراره کراري شوه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ځلمي سردار ته بیا پلار ور په یاد شو
زړهٔ ئې غوښت چي بیا ور و لېږي استازے
خو دا ځل کار د یَوهٔ استازي نهٔ وُ
دلته وې دومره خبري پېښي شوي
چي یَوهٔ استازي نهٔ شوې رسولای
دغه کار لره په کار وو ډېر سرونه
ځکه ډېر مړیان را غونډ کړل دهٔ خپل مخته
چي هر یو سم په خبره باندي پوه کړي
کړي بیان و هر یَوهٔ ته یَوه پېښه
دغه پېښه کړي په زده ټکے په ټکي
بیا ئې یو په بل پسې واستوي پلار ته
دا سي ولېږي ټول حال زاړهٔ سردار ته

❊ ❊ ❊

چي ځلمي سردار را غونډ مخته مړیان کړل
هغه وخت جلاد هم تېغ په لاس ولاړ وُ
د دهٔ خنګ ته او کتل ئې دې سرو ته
چي یو خیال ئې په مغزو کي را پیدا شو
هغه دا چي که دا هر یو سر قلم شي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا هر کس لاړ شي د تللو و جهان ته
زوړ سردار به په دې خومره په عذاب شي
چي وي جوړه ور ته داسي ګنه ګونه
او له هر يَوهٔ دے روغه قصه اوري
ښائي دا خبره داسي شي اسانه
چي ځلمي سردار ته هر څهٔ ور معلوم دي
هره پېښه نې په ذهن کي خوندي ده
دا مړيان چي به کوم کار کوي په تولو
دَے هغه شي په يواځي سر کولای
دَے دي لاړ شي په يواځي سر خپل پلار ته
زموږ حال دي يوسي تول زموږ سردار ته

✲ ✲ ✲

د ځلمي سردار د تګ دغه کوم خيال چي
را پيدا شو د جلاد په ککرۍ کي
دې ساده وګړي داسي و ګڼله
چي بس دهٔ د اسانۍ دغسي لاره
کړه پيدا چي د بل چا ور ته پام نشته
د زاړهٔ سردار د حَق اداء کولو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې کار کي نې له خندہ کار وا نهٔ خست
شو را وړاندي او په رپ کي نې د سترګو
د ځلمي سردار سر و واهۀ په تُوره
د هغه د وينو داري شولې پورته
کوم مړيان چي وو ولاړ په دغه ځای کي
هغوی پوه نهٔ شول چي خوب دے دا که وينه
يو ګړے داسي درنه چپيا خوره شوه
لکه وي چي کائناتو سا نيولې
او بيا پورته شو يو شور، زوږ او نارې شوې
مړيان تول پر دې جلاد باندي را مات شول
په وهلو په کوتلو نې ور مات کړل
په پوستکي کي دننه تول هډونه
او په ډېره ناروا توګه نې مړکړ
هغه څوک چي دُوی نې واړه په دې ځای کي
وو د مرګ له درنو ژامو را ايستلي
دا مړيان، دا چي د دهٔ تر سر اوس تېر شول
دهٔ دې تولو ته وَ نوے ژوند ورکړے
که دَے نهٔ وای اوس به هر يو وای يو مړے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ړومبی باران

د ګوليو دا باران وروستے باران دے
چي نن زهٔ ور سره دلته مخامخ يم
دا باران را يادوي هغه وختونه
چي په ژوند کي په ړومبي ځل پر ما باندي
وېروونکي سرې ګولۍ وې اورېدلي
زهٔ ماشوم وم په هيڅ شي مي سر خلاص نهٔ وُ
له خپل ځان سره مشغول ومه په لوبو
کړې خپلوانو د توپکو خلُې را خلاصي
ترې را و وتې لمبې او ډزهار شو
را رواني شوې ګولۍ زما و خوا ته
لګېدلې دلته، هلته، مخته، شا ته
زهٔ د وېري ښپو واخستم په مخه
سوي چيغي مي له ستوني شوې را پورته
خبر نهٔ وم چي د دُوی دغه نيت نهٔ دے
چي زما وجود غلبېل کړي په ګوليو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دُوی دا غواړي چي په دغه ماشومتوب مي
د توپک له ډز او ډوز سره اشنا کړي
د ګولۍ وېره مي و باسي د زړهٔ نه
او دې حال ته تنها زهٔ مخامخ نهٔ وم
دلته دا له هر ماشومه سره کیږي
موخه داوي چي دا رنګ به زړوَر شي
د زمري جنګ ته به ځي چي کله ستر شي

* * *

د ګولیو دا باران وروستے باران دے
دا باران رایادوي هغه وختونه
چي خپلوانو را ته سم کړل توپکونه
او ګولۍ شوې را روانې زما خوا ته
هغه وخت هم لکه نور وختونه تېر شو
خو د دغسي وختونو وېره پاته
د سړي په ککرۍ کې شي دا رنګه
چي تول ژوند بیا ترې ځان نهٔ شي خلاصولاې
دا د ذهن د بې شمېره دېوالو نه
شا ته وي چرته دا رنګه غلې ناسته

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي سړي ته نې پخپله پته نهٔ وي
او هغه نې په دا رنګ بې خبرۍ کي
همېشه پوري وهي او ور پسې وي
تل کوي ورباندي دا رنګه کارونه
چي کوونکې نې په اصل سبب باندي
خبر نهٔ وي خو کوي نې، بس کوي نې
لکه موږ چي تل لګيا يو سره وژنو
يُو خپلوان خو وهو يو د بل سرونه
خبر نهٔ يو چي دا ولې سره وژنو
او وهو ولې دا يو د بل سرونه
په خپل کاني کوټو ځله خپل سرونه

* * *

د ګوليو دا باران وروستے باران دے
دا باران را يادوي هغه وختونه
چي خپلوانو را ته سم کړل توپکونه
په دې نيت چي ما په دغه ماشومتوب کي
د توپک له ډز او دوز سره اشنا کړي
د ګولې وېره مې و باسي، د زړهٔ نه

(WWW.KETABTOON.COM) کتابتون پوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي بيا وروسته زَړور غوندي خلمې شم
په څرګنده د دُوی دا هيله پوره شوه
زهٔ خلمې شومه او داسي زَړور شوم
چي په سيمه او اولس کي چي به چرته
څوک پياوړې او تر تولو زَړور وُ
نو هغه به وُ اغزې زما د سترګو
وم لګيا به چي ور مات ئې کړم لاسونه
ژر تر ژره ئې را پرېباسم له برمه
او زياتره به په دې کي بريالې وم
مګر اوس چي ور ته ګورم داسي ښکاري
چي په ما کول دا هر څهٔ هغي وېري
چي زما د دې خپل ذهن په دنيا کي
ګوره چرته د دېوال شا ته وه غلې
دغه وېره وه د سرو ګوليو وېره
دا ګولې هغه ګولې وې چي خپلوانو
اورولي وې پر ما په وړوکوالي
د خپلوانو د توپک او ګولې وېره
را پسې وه نو به دا به مې په خيال کي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وو همېش د دغه خپل اولس وګړي
دا وګړي مي همه واړه خپلوان ؤ
دا خپلوان که به تش لاس وو خو نو ښه وه
که په کور کي به د چا چرته توپک ؤ
نو بيا ما لره خوب نهٔ راتهٔ په شپه کي
وس مي دا ؤ چي توپک ور ته پېدا کړم
وخت ور نهٔ کړم چي دَے وار کاندي له مخه
خُلهٔ د خپل توپک پر ما کاندي را خلاصه
ترې را اوزي سرې لمبې او ډزهار شي
را رواني شي ګولۍ زما و خوا ته
مخامخ مي يو ځل بيا کاندي بلا ته

❊ ❊ ❊

د ګوليو دا باران وروستے باران دے
دا باران راولي خيال ته دا خبره
چي دا سترګې تنها ما ته پېښهٔ نه ده
دا اولس داسي اولس دے چي ډېر خلک
وي لکيا پکي دا رنګه لکه ما چي
د خپلوانو خلاف بيا ـ ئي سنګر ونيو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د توپک خُلهٔ مي هغو ته کړله سمه
هغو هم په دغه ژبه جواب راکړ
اوَروي مي سرې ګولۍ پر سنګر باندي
د ګولیو دا باران وروستے باران دے
بیا بل دا رنګه باران لیدلای نهٔ شم
اجل وازه خُلهٔ ولاړ دے زما مخته
په بدن کي مي ګولۍ ده لګېدلې
دا ګولۍ داسي کاري ده لګېدلې
چي اړتیا به نوره دې ته پاته نهٔ شي
چي به بیا خوک اوَروي ګولۍ را باندي
د ګولیو دا باران وروستے باران دے
دا وروستے باران په دغه وروستي وخت کي
را ولي هغه رومبے باران و خیال ته
چي خپلوانو مي ګولۍ را اوَرولې
را ته سم وو توپکونه، دزهار وُ
زما زړهٔ لاندي تر غرونه ډار وُ

✲ ✲ ✲

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library

زني

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د دې منظومو زنې

په دې کتاب کې راغلې هره منظومه چې له کوم زني يا
ځخه را ټو کېدلې ده. هغه که څوک کتل غواړي نو په لاندنيو کرښو
نې کتلای شي.

۱. ووړ سر: امير تيمور چې کله بغداد ونيو. هغه مهال
قهرېدلې و. لښکريانو ته نې امر وکړ چې هر يو دې د بغداد د يوه اوسېدو
پرېکړې سر راوړي. بس بيا څه وه لښکريانو ټولو سرونه وهلو ته ملا تړلې
د بغداد خينو سپدانو ، عالمانو او شيخانو د پناه دپاره په څه ډول د
پناه دربار ته ځان و رساوه. هغوی پناه وموندله او له دغه آفته په امان شو
محمود حکيمي/ هزار و يک حکايت تاريخي (ځلورم ټوک)

۲. د دښمنۍ تراخه: متل دې چې سختړي يو تر بل
په پښتني ټولنه کې چې کوم شيان د دغسې سخترو زېږندويه وي. په
کې د ټوپک نوم تر ټولو له مخه راځي. ځکه خو ويل کېږي چې ټوپک
دي راته مخ شه مه شا.

۳. د وني ډډ: په دې منظومه کې چې کومي پېښې
شوي دي. دا ټولي تاريخي پېښې دي. او ما د فارسي ژبې له هغه
کتاب ځخه اخستې دي چې نوم نې دې "زندگي پر ماجرای نادرشاه
او ليکونکې نې دکتور محمد حسين ميمندي نژاد نومېږي.

۴. د مار سر: کله کله موږ د خينو پوهو خلکو له خلې
چې نه دې چې يو د بل د زړه په حال نه يو خبر. او دا خبره سمه به
ده چې د خلکو په زړونو کې کله کله داسي خواهشونه پټ وي چې
خلک پرې خبر شي نو څرمن به نې په ژوند واړوي.

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون پـولـنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


٥. ایره: د برطانوي نیوګني په ختیځو قبایلو کې چې څوک مار
...ر کړي نو بیا ئې سوځي. او ایره ئې ځنګل ته د تګ په وخت په خپلو
...ښو پورې مږي. دا ځکه چې په داسې کولو سره بیا دوی یو څو شپې
...ه مارانو په امان وي ــ فریزر ــ ګولډن بو (دریم باب)

٦. زړسوے: دا قصه د قاضي احمد غفاري له تاریخ نګارستان
...خه محمد احمد پناهي سمناني په خپل فارسي کتاب "چنګیز خان ـ
...چهرهٔ خون ریز تاریخ" کې رانقل کړې ده. او له یوې تاریخي پېښې څخه
... نظم جوړولو په خاطر ما څه لږ غوندي بدلون پکې کړے دے.

٧. دریم زوی: ژوند د یوهٔ داسې داستان په څېر دے چې څوک
...حمق ئې اوروي. شر و شور پکې ډېر وي خو معنی هیڅ نهٔ ښندي ـ شېکسپیر ـ
مېکبث ـ د پنځم ایکټ پنځمه ننداره.

٨. بلا پر بلا واوښته: انسان په هر څهٔ کې نوے والے خوښوي
... دې حده چې ځابران په یوهٔ رنګ له سزا ورکولو څخه هم خوا توري شي. کوم
...ې پاځهٔ ځابران او په خپل دغه هنر کې کمال ته رسېدلي واکمن تېر شوي دي
...و د سزا ورکولو هم نوي طریقې را ایستلي دي. چې یوه ئې
...ډاکټر مهمندی نژاد په حواله په دې منظومه کې په لږ بدلون سره ځای شوې ده.

٩. خوب: له شلو کالو راهسې یو انځور کله په یوه او کله په
...ه بنه زما ذهن ته راځي. خو زهٔ ئې له نظم کولو ډډه کوم. اوس چې مې
... خل بیا ذهن ته راغے نو زړهٔ را ته و ویل چې پرې ئې ږده چې
...ستونکي هم دغه وېروونکے خوب در سره و ویني.

١٠. د رندو ګزار: ............ چې د یوهٔ نوي عمارت د تاداو
...ښوولو په وخت به ئې یو ژوندے انسان د بنیاد تر تیږه لاندې کړ او د عمارت

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دېوالونه به ئې ورباندې پورته کړل. عقيده به ئې داوه چې دا ډول به دا بنياد ټينګ او عمارت به پايداره ابت شي ــ فريزر ــ ګولډن بو ( اتلسم باب )

۱۱. خواست:....... چا چې د ښار ساتنه په کلکه کړې وه. هغه څلور زره تنه وو....... تيمور هغوی بخښلي وو او لوړه ئې ورسره کړې وه چې په ښار کې به وينه نهٔ توييږي. خو کله چې ښار په لاس ورغے نو دغه څلور زره تنه ئې ونيول. د وينې له تويېدلو خو ئې قسم کړے وو نو دوی ئې په هغو خندقونو کې واچول چې دده په امر کندل شوي وو. داسې ئې هغوی ژوندي په ګور دننه کړل ـ محمد احمد پناهي.

تيمورلنګ ــ چهرهٔ هراس انگيز تاريخ (لسم فصل)

۱۲. عذاب: ...... د دغه ټاپو خاصو خلکو ماته و ويل چې ( تر اسلام راوړلو دمخه ) د دې ځاى کومو خلکو چې به پېغلې لونې درلودې هغو به هره مياشت قرعه سره اچوله. د هر چا نوم چې به را وخوت نو هغه به خپله سمه سنګار کړې لور هغه پيرې ته ور استوله چې ........... هره مياشت به يوه شپه په سمندر کې راڅرګندېدهٔ. سهار چې به خلک د سمندر د غاړې هغې بتخانې ته ورغلل چې بيګاه دوی پېغله ور استولې وه. نو پېغلې به ژوند او پت دواړه له لاسه ورکړي وو. او مړے به ئې دوی را واخست ــ د ابن بطوطه سفرنامه. ( د مالديپ د ټاپو ګانو بيان )

۱۳. سورسترګے: درانهٔ مشر پوهاند عبدالشکور رشاد په خپل يوهٔ اثر "نېروتنې" کې د ځينو نورو ليکونکو تر څنګ د ارواښاد غلام محمد غبار هغه تاريخي نېروتنه هم په ګوته کړې ده. چې د ميرافغان نور محمدخان عليزي د قام په باره کې ئې کړې ده. د دغې ليکنې پېل استاذ د نادر افشار په ذکر سره کړے دے. او د هغه د ظلم په اړه ئې يو ځو کرښې ليکلي دي. د استاد دغه ځو کرښې زما د دې منظومې ټومنه ده.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۴. **شاګرد:** د خینو خلکو خیال دے چی د حضرت خضر په بته ګونه کي هډ نشته. خکه نو دغسي خلک چي د روغبړ دپاره چا ته لاس ورکوي د هغه پر بته ګوته باندي د دي دپاره زور راوړي چي بي هډه خو نهٔ ده که داسي وي نو مطلب به ني دا وي چي خضر په لاس ورغلے دے. او د خضر په وسیله د سړي د زړهٔ هر مراد پوره کېدای شي.

۱۵. **یو رسم:** دا رسم نه تش د پښتنو په خینو سیمو کي تر دې نزدي وختونو پوري تر سره کېدهٔ. بلکه د پښتنو په خینو ګاونډیو قامونو کی هم موجود وٌ. بله دا چي پوهانو چي د دنیا دودونه او رسمونه را غونډ کړي او په کتابونو کی ني خوندي کړي دي. له هغو څخه څرګندېږي چي د دا کوم مقصد دپاره چي پښتنو دغه رسم تر سره کاوهٔ. د هغه د ترلاسه کولو په نیت د نړۍ په بېلا بېلو سیمو کی دې ته ورته بېشماره رسمونو وجود لرلے دے. ما یو خل پخوا هم دغه رسم د پابند شعر په شکل نظم کړے او چاپ کړے وٌ. خو بیا مي له خپله کلامه ایستلے وٌ. اوس ني یو خل بیا په دې نوي شکل په دې نظم کوم چي زموږ له موضوع سره سمون خوري.

۱۶. **اووم سر:** د فیوتا وحشي قبایلو به قاتل ته د اتل په سترګه کتل. په ډېرو قبایلو کي نجونو له هغه چا سره وادهٔ کول نهٔ خوښول. چي په روا یا ناروا توګه به ني څوک نهٔ وٌ وژلے. د سرونو د ښکار رواج خو لا تر اوسه هم په فلپاین کی شته. په د غسي ښکار کی چي به چا تر ټولو زیات سرونه راوړل. هغه چي به بیا د کلي پر کومه نجلۍ باندی ګوته ایښوده نو هغي به په دې هیله ورسره ډېر په خوشحالۍ وادهٔ کاوهٔ چي له دهٔ ني ګوندي سړي وزونکي زامن وشي ــ ول ډېورانټ ــ د انساني تهذیب ارتقاء(څلورم باب)

۱۷. **د سرونو دوه څلي:** د کش په ښار کی د شیخ شمس الدین فاخوري په نامهٔ یو پیر وٌ چي خلکو ني ډېر زیات درناوے کاوهٔ.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويل کيږي چي تيمور ډير د مفلسي په حال کي د خپل تن جامي خرڅي کړې او په دغو پيسو ئې يوه بزه واخسته. بيا ئې د يوهٔ پړي يو سر د بزې په غاړه کي او بل ئې په خپله غاړه کی واچاوهٔ. او بزه ئې دا ډول د دغه شيخ دربار ته ور وسته ...... او هلته د شيخ پښو ته ور ولويد ......... شيخ چی دا هر څهٔ وليدل نو وئې ويل چي دې سړي چی هر څه لرل هغه ئې موږ ته راوړل. او له موږه چي څه غواړي. (د مخکي د مخ باچهی) نو هغه د خداي په در کی د غوماشي د وزر برابر هم نهٔ دي. پکار ده چی موږ ئے نا اُميده نهٔ کړو. بيا ئې لاس پورته کړل. دعا ئې ور ته وکړه. له دغي ورځي پس تيمور ته د بخت مخه شوه ـ محمد احمد پناهي.

تيمور لنگ ــ چهرهٔ هراس انگيز تاريخ (شپږم فصل)

۱۸. گوډه پښله: ډير خله داسی کيږي چی يوه اوريدلې قصه زما نوره ښخي هيره وي. تش يوه نوته ئې داسي وي چی وخت نا وخته ذهن ته راځي. په د غسي توتو کي يوه دا هم ده چی يوه گوډه هوسی کله کله په داسی حال کي زما د ذهن پر پرده باندي راڅرگنديږي. چی يو ښکاري پر آس باندي ور پسې وي او چل ئې نه ور باندي جوړيږي چي ښکار ئې کړي.

۱۹. خط: د دې منظومې ښنت چي پر کوم خط باندی اېښودل شوے دے هغه څهٔ خيالي يا افسانوي خط نهٔ دے. بلکه يو تاريخي خط دے. او د دکتور محمد حسين مهمندي نژاد د کتاب " زندگی پر ما جراي نادرشاه افشار" په پانو کي خوندي دے. دلته که يکي تر يو حده څهٔ کم شوي يا زيات شوي وي. نو هغه به هم بس دغومره وي چي د ادب چوکاټ ته د يوې تاريخي پېښي د راننه ايستلو په وخت اړتيا ور ته پېښيږي

ـ ۲۰. آخره خاتمه: خوک چی به جنگ ته لاړ نو د هغه تر بيرته راتگه پوري به ئې د کور د يوهٔ نر څناور وژل د هر چا دپاره په کلکه منع وُ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


که چرته به داسي وشول نو بیا دا خبره یقیني ګڼله کېده. چي دغه جنګ ته تللي وګړي به هلته د خپل دښمن په لاس وژل کېږي ــ فریزر ــ ګولډن بو ( دریم باب )

۲۱. شاعر: د اصفهان د کلابندۍ په دوران کي چي پښتانهٔ ( د شاه محمود په مشرۍ کي ) له ایرانیانو سره په جنګ وو. زهٔ له پُل عباس سره نژدې ولاړ، د جنګ ننداره می کوله. یو پښتون مي ولید چي ښي لاس ئې پرې شوے وُ او پر شا باندي را روان وُ. د صفونو شا ته چي کوم څارونکي ولاړ وو. د هغو خیال شو چي له جنګه تښتي. ځکه د دهٔ وژلو ته تیار شول. دهٔ خپل پرې شوے لاس ورته را مخته کړ. خو هغوی ئې عذر بیا هم و نهٔ مانهٔ. او ور ته و ئې ویل چي یو لاس که دي پرې شوے دے نو دا بل خو دي روغ دے. په هغه جنګ وکړه. که هغه پرې شي. نو بیا خُله لرې په خُلهٔ جنګ وکړه او د دښمن پر مخ لاړي ور تُو کړه چي خدای ﷻ ئې عوضونه در کړي. دا ډول ئې هغه بېر ته جنګ ته واستاوهٔ ـ کروسنیسکي ـ ( تاریخ سیاح مسیحي )

۲۲. لعلونه او سکروټي: د هر وطن ټولي خزاني به تر هغه تخت لاندي ګڼل کېدې بلکه په ربښتیا به لاندي وې هم. چي د دغه وطن باچا به ورباندي ناست وُ او دغسي هر باچا هر چرته چي به وُ. په دې ویره به مبتلا وُ چي د دنیا هر بنامار غواړي چي دے و وهي او دغه خزاني تر خپله تنۍ ورځخه لاندي کړي. ځکه به ئې نو له خانه سره داسي یو هوده ګر ساتهٔ چي د دغسي مارانو د غابن پخولو او د هغو د زهر کمولو په چل به پوهېدهٔ. دغسي هوده ګر ته به ئې وزیر ویل.

۲۳. پر مخکه پروت زړګے: په دې منظومه کي ځای کړل شوي پېښي ټولي د تاریخ په کتابونو کي راغلي دي. خو کومه وړه پېښه چي د منظومې زړے یا تخم ده هغه ما د اردو ژبې د مشهوره ورځپاڼي "جنګ" په یوهٔ کالم کي لوستې وه. کالم بناغلي محمود شام لیکلے وُ. خو د ورځپاڼي د دغي ګڼي د چاپ نېټه مي هېره ده.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پروژه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۴. اوومه ګنبده: د جاهلیت په زمانو کې داسې ډېر اولس
تېر شوي دي چې د قدرت ښې وښادی او همدغه راز د قدرت له
رانلوتکې خوارۍ به ئې تولې د باچا له ذاته سره تړلې ګڼلې او د دغسې
او ښادیو د ترلاسه کولو او له خواریو څخه د خان ژغورلو دپاره ئې خ
تاکلې لارې جارې درلودې. چې د ډېرو حال ئې موږ د فریزر په لیکنو
لوستلای شو. اوومه ګنبده هم د همدغو لیکنو پر بنسټ باندې ولاړه ده.

۲۵. د جنت اوبهٔ: دا خیال وړاندې ما په یو بل شکل
کړے وُ چې تر همدې عنوان لاندې چاپ شوے هم وُ. بیا وروسته مې
منسوخ کړ او خیال چې څنګه په لومړي خل زما ذهن ته راغلے وُ. هما
مې دا دے بیا نظم کړ.

۲۶. دوه مړي: فریزر د یوې وحشي قبیلې دا مقوله راوړې
چې کله چې د ښکار دپاره توپک ډکوې نو ګولۍ ئې په توپک کې تر اچ
دمخه یو خل په خپله خُلهٔ کې اچوه. دا ډول به دا خبره یقیني شي. چې
دغه ګولۍ وېشتلے ښکار به ستا خُلې ته راځي. او ګولۍ به نهٔ خطا کېږي.
د دغسې خلکو دا عقیده هم بیانوي چې کوم څوک چې جنګ ته تللے
او ښځه ئې تر شا په کور کې پاته وي. دغه ښځه که په دغه دوران کې
وفائي وکړي نو جنګ ته تللے مېړهٔ به ئې د دښمن په لاس وژل کېږي. دا
به د بېوفایۍ په تور ډېرې ښځې وژل کېدلې هم.

۲۷. لاروے: د سیام د باچهانو بدن ته لاس ور وړل یا په
بله توګه هغوی مس کول منع وُ. او که به چرته چا دغه کار وکړ نو دا
داسې جرم وُ. چې سزا ئې مرګ وه. همدغه راز د کمبوډیا باچا بې د
له امره چا مس کولای نه شو ـ فریزر ـ ګولډن بو (یو وېشتم باب).

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۸. یو سر په یوهٔ غمي:...... او د هغه (جلال الدین) نورو
یو ورونو آق شاه او اوزلاغ شاه د قوچان ولایت ته خان رسولې وُ. دلته د تاتارو
یوې دسنې په لاس کنبیوتل. هغو دواړه ووژل. کوم گران بیه غمي چې ورسره
؛ هغه د مغلو په لاس ورغلل. مغلو دغه غمي د دغه خای پر خلکو باندې
ارزانه بیه په دې نیت خرڅ کړل چې په قتل او کشتار ئې بیا بېرته ورخني
خلي. محمد احمد پناهي - چنگیز- چهرهٔ خونریز تاریخ (دیارلسم فصل)

۲۹. خلمے سردار: د وحشي دور انسانانو به خپني وختونه مړو
. په با قاعده توگه پیغامونه لېږل. په یوه قبیله کې د دغسې پیغامونو د لېږلو
ریقه دا وه چې د یوهٔ مریي (غلام) مخته به د قبیلې سردار خط ولوست او بیا
. ئې د دغه خط د لېږلو دپاره د هغه سر قلم کړ. که به له سرداره د خط کومه
خه هیره شوې وه. نو د هغه دپاره به ئې د یوهٔ بل مریي سر وواههٔ -
ل دېورانټ - د انساني تهذیب ارتقا (خلورم باب - خلورم فصل)

۳۰. ږومبے باران: ما د هلکوالي په زمانه کې د خینو
ښتني قبیلو په باره کې اورېدلي وو چې هغوی د خپل یوهٔ ماشوم
وزنه داسي کوي چې کله کله له لري خطالي ډزي ورباندي کوي.
وخه ئې دا وي چې دارنگه هغه زړهٔ ور آموخته کړي او د توپک
و گولی وېره ئې له زړهٔ وباسي.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

...له آدمه تر دې دمه انسان هر وخت، هر ځای چې شوی دی، بلا له مخامخ پاتې شوی دی، خو بلا هر څومره چې لویه او زوروره وي، دا له یواځې دا چې له هغې څخه د ځان ژغورلو هڅه کړې ده. بلکه په پرله پسې توګه یې دا کوښښ کړی دی چې خپل زور دومره زیات کړي چې د بلا سر و وهلای شي. خو د بلا سر چې یې وهلی دی، د هغې پر وجود باندې دوه نور سرونه را پیدا شوي دي. او دغو دوو سرونو که هر څو دا له خطر یو په دوه کړی دی. بلا بیا هم توانېدلې نه ده چې دی له منځه یو سي. بلکه ورو ورو دا خپل وس دومره ور له زیات کړی دی چې د بلا دغه دوه سرونه یې هم وهلي دي. او چې وهلي یې دي نو د بلا سرونه بیا څلور شوي دي. دا ډول د انسان ستونزې او خوارۍ چې څومره زیاتېږي. هغه د دهٔ د زور د زیاتېدو سبب ګرځي او چې د دهٔ زور څومره زیاتېږي. هغه په هغه اندازه د دهٔ ستونزې او خوارۍ زیاتوي. داسې د دهٔ زور او د دهٔ خوارۍ یو د بل په مقابل کې تل په زیاتېدو پاتې شوې دي. او دا وخت چې انسان په خپل دې مخ په بره مزل کې څومره پورته ختلی دی. د خپل زخم زخم وجود پر زینه باندې په داسې حال کې ختلی دی. چې له یوهٔ زخمه پښه اخلي. پورته یې په بل زخم کې ږدي. او له بله یې اخلي بیا یې په بل کې ږدي. په دغه په وینو لړلې لار کې چې پر دغه اتل باندې څهٔ تېر شوي دي. په دې کتاب کې همدغه غمیزه په داستان پسې د داستان په شکل نظم شوې ده. دغه داستانونه که څهٔ هم هر یو پر خپل ځای باندې یو بشپړ داستان دی، مګر له لویه سره دا ټول داستانونه د هغې لویې غمیزې بېلا بېلې نندارې دي. چې وړاندې یې یادونه وشوه...

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**